# زبېښاک

# ناول

صفیه حلیم

Ketabton.com

د چاپ ځای: ایډمین پریس (پېښور)

نېټه: ۲۰۰۲ نومبر ۱۳۸۱ ل، لړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښځې په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی باب

# ۱۹۳۸

## عیسوي کال

ـه د اوسپنې د جرندې(قلف) بندولو وروسته یو وارې بیا ځان
په زوره راښکله او د تندی ګونځې یې تتې شوی. د خپل کور دا
لویه زړه تمبه یې شا ته ورتیله کړه او په بل لاس یې کنجي د خپل
س په تخر کښ جوړ لوی جیب ور واچوله، هغې چې کوڅې ته
مخ ور ـړو نو سترګې یې له اوښکو ډکې وې. د مني پدي
مازیګرې د کلی په کوڅه کې د زهره د چم ګاونډ ښځې راټولې
وې. ـ هغې سترګې د بر جومات د امام په ښځې ولګیدې چې کله
به هم له خپل کوره نه راوتله. زهره لاسونه ور وړاندې کړل او
دواړه ښځې غاړه غړی شوی. نن زهره له کلی روانه وه، هرې
ـې پخپل وار دې ته یو څو د تسلیت خبرې کولی، غاړه به یې
ورله ورکړه او بیا به هغې پسې روانه شوه. ـ ښځو دا وړه قافله
ورو ورو خوځیده. ـځینې به پکې په لاره د خپلو کورونو په
دروازو ودریدې، ـ لکه چې وړاندې تګ ور باندې حرام وو.

لی پدې کوڅه کې به هر وختې ماشومان لوبې کولی. ولې اوس
و ماشوم هم نه ښکاریدو. ا تول د زهره د څلورو اولادونو سره
ـ د وخته د شنډ توت خواوشا راټول وو. دا د کلی د ټانګو
وروستی پړاو وو، د هغو څلورو ټانګو چې د ورځې به دوه ځلې
ـار ته تللی او پکې به د پیو( ـودو) منګې بار وو. اوس د شنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـوت سره یوه ټانګه ولاړه وه.  ـني پدې مازدیګرۍ، د مناف ـاما په ټانګه یوازې د زهره د کور هاغه لوښې لرګي بار وو چې ې له ځا ه سره ښار ته وړل.  ۍ د هغې څلورواړه ماشومان د خوشالۍ نه په ټوپونو وو چې ښار ته روان وو.

ولې د زهره په زړه لکه چې لویه تیږه رالویدلې وه. هغې له سهاره ـره ژړلی وو چې اوس یې اوښکې هم وچې وې.  . کلي په منځ ې بهیدونکې د لویې ویالې د پله په سر د هغې ګاونډۍ **ورسره** ـدای په اماني وکړه او زهره د ټانګې په لورې روانه شوه نو ـه احساس وشو چې هغه اوس پدې ټوله نړۍ کې په رښتیا یوازې پاتې وه.

ـو مخامخ په ټانګه کې یې واړه ولیدل چې ښکته پورته کیدل نو زړه یې ډاډه شو.  ـغه ټانګې ته ور وختله او چې د پله نه ورآخوا د کورونو په  وکتل خو ځینې ښځې اوس هم ولاړې وې.
ـف ماما د اسپې د مخې نه د وندې توبره لرې کړه او واګې یې د ټانګې د اوسپنې د جنګلې نه ورپرانیستلې. اسپه ورو ورو روانه شوه او مناف ماما په پایدان ودردېدو **او** اسپې ته یې د خپلې ژبې مخصوصه اشاره ورکړه.  . کلي ښځو تر هغې ټانګې ته کتل تر ـ دا د ګل شرف دوې د مالټو د ونو پناه شوه.

زهره خپله سپینه بورقه کلکه له ځانه سره تاوه کړه. او مناف ماما اسپې ته یو چابک را خلاص کړو نو هغه په منډو شوه.  په ټانګه د هغې دولس کلنه لور ښاپیرۍ د مور د ژړا په سوب پوهیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو غږ یې نه کاوو. هغه د مور نه سخته وېرېده. یوولس کلنه شفا هم د مور په خفګان خفه وه، ولې ښار ته د تللو لپاره لېواله وه.
لس کلن اعظم او د شپږو کالو جانۍ د مناف ماما سره د ټانګې مخامخ سیټ کې ناست وو او دواړو سې ګڼله لکه چې اسپه ددې په اشاره روانه ده. جانۍ به کله نا کله د مناف ماما په شان د خولې ه ټکارې هم ویستل. انګه چې د کلي د کچه لارې نه د ښار لوی سړک نه راووتله نو زهره د شا د سیټ نه مناف ماما ته مخ وګرځوو او ورته یې ووئیل، " لالا، په هدیره کې ایساریږو."
مناف ماماسر وخوځوو . اسپې ته یې بیا یو چابک غوځار کړو. هدیره د کلی نه ری نه وه، خو په پښو ورته ډېره لاره وه. مناف ښر وو چې زهره به په هدیره کې کوم ګوټ له ورځي. هغه واګې راښکلی نو ې قدمونه ورو کړل او اخر ټانګه د بیری د یوې زړې ونې لاندې ودریده.

زهره په پائیدان پښه کېښوده او په کوزیدو یې په سخته ژبه ټولو ماشومانو ته وویئل، " ښوک دې نه راکوزیږي. زه په منډه ورځم." خو زهره چې خبریده نو جانۍ بیا د ټانګې نه ټوپ وهلی وو او په یوې وړې ګې لارې په منډه وه. د زهره له خولې بې واره یوه ښېرا راووتله.

"ملا د ماته شه...جانۍ...مه ځغله...پرېوزې...وه جینۍ..."

خو جانۍ د مور د غږ هیڅ پروا ونکړه. هغې ته د خپل پلار قبر معلوم وو. نېغه ولاړه او قبر ته نږدې ودریده. بیا یې خپل واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه پورته کړل او د مشرانو په شان یې د شونډو په منځ کې پس پسی وکړې.

زهره قبر ته را ورسیده و د خپلې لوپټې په یو پلوو کې تړلی د خپل کور د رام ېل څو ګلونه یې په قبر وشیندل. فاتحه یې وکړه، بیا یې د قبر په خازه لاس کېښودو او ورو ورو لګیا شوه، داسې لکه چې خپل مړ خاوند ورته مخې ته ولاړ وي. " ته خو پوهیږې تېر کال په ما څومره سختې تېرې شوې. مزکې درته ساتلی شمه. لونږو عزت به دې څوک وساتي. اعظم لا ماشوم دی... د عابدې مجرمه یمه...څه وکړمه. ې کلي کې مې ګوزاره نه کېږي... ما ته بخښنه وکړه."

زهره څو شېبې همدغسې ولاړه وه. ې جانی د نږدې قبرونو نه څو کاڼي راټول کړی وو، د خپلې نانزکې قبر یې جوړ کړی او مور ټولې خبرې یې هغه وړوکي قبر ته کولی. زهره د خوابنی او خسر قبر ته هم ودریده. یا یې جانی له ګوتې ونیوله او بېرته ټنګې ته راغله. د ببرې د ونې لاندې ناست مناف ماما نسوار وتوکل، خوله یې د پټکی د ر څوړند پیڅکی پورې پاکه کړه او لکه د مشین ټانګې د روانولو مراسم یې پورا کړل. ټانګه د بوډنی د ړه نه چې تېریده نو جانی نابېره ناره کړه، " بي بي څه شوه؟ مورې بي بي ولې مور سره نه راتله؟"

د زهر زړه کباب شو، هغې هیڅ هم ونه و ل، د جانی بي بي د نې نازولی لور عابده نن سحر مور سره د خدای په امانی لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی وه. د خویندو سره یې ډېر پټ رازونه وئیلی وو او چې تله ، جانی یې د هغې د ب مکۍ نوی بورقه ځان ته راښکله چې، "ښې ښې مه ځه... مونږ ښار ته ځو...موږ سره راځه..." او عابدی ورته وئیلی وو چې زه بیا درځمه. زهره په تصور کې لیدل چې عابده به اوس له پنډیری اوړه راوباسي.

عابدی پخپلو وړو وړو لاسونو د پنډیری نه اوړه راوویستل او خپلې یور ته یې په شکرې کې اړول. هغه د دلاور د نازولی زوی ـ خان ناوی وه. او د ناوی توب د ورځو دا لومړی دنده وه چې د هغې په غاړه لویدلی وه. هغې خپلې لپی شمیرلی او د مور د کور ډوډۍ یې یادوله. خپلو لاسونو ته یې وکتل، نکریزو رنګ اوس هم تازه وو. د هغې مړوندونه دومره نازک وو چې د صابون کلک والی به یې نشو زغملی. هغې د ښایست درز په نږدې کلو کې هم خپور شوی وو او ـا دا ښایست ورته جنجال جوړ کړو. دا ' د یوولسو کالو وه چې خلک یې غوښتلو ته را مات وو. خو د هغې پلار سید کرم به هر چاته وئیل چې لور یې ماشومه وه.

عابده پلار ته ډېره ګرانه وه ځکه خو به یې ورته په کور کې سبق ږښودلو. دی د خپل لی په یو څو لوستو کسانو کې و انګریزانو به یې د پښتو درسونه ورکول. دوه کاله پخوا د شاه ګل کلی ـلک ورسره په ښار کې پیژندګلی شوی وه او سید کرم ورسره لوظ کړې وو چې عابده د شپاړلسو کالو شي نو د هغه زوی ته به یې ورکوي. خو د مرګ لاس پرې بر شو او دې د ملاریا(ملیریا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ناروغی مړشو. د زهره د سر نه لکه چې چت لیرې شو. د هرې خوا نه بادونه را والوتل او خس و خاشاک یې د دې په کور کې ورویشتل چې د دې سیلی لومړی قربانی عابده وه. د کلی خان، دلاور چې پخوا به یې د سید کرم نه حیا کیده، د هغه په لوېښتي کې زهره ته د عابدی لپاره خواست وکړو.

هره حېرانه وه چې څه وکړي، د خاوند په غم پوهه نشوه او د لور په غم اخته شوه. یوه ـِرځ به د شاه ګل ملک له خوا پیغام راتلو او په بله ورځ د دلارو خان له ک ره. دواړه کورنی د یوې ډغری وې او ورو ورو د واده د خولت سره به یو ګوابن هم مل وو چې که لور یې بل له ورکړه نو... د دې...نو...په آوریدو به زهره وارخطا شوه. سید کرم یو ناسکه ورور وو چې له پښو معذوره او د کلی په هټی به ناست وو هغه هم د دلاور خان نه سخت وېریدو. زهره پخپله پدې کلی کې پردۍ وه. هغه د سوات نه راواده شوی وه. یو ورور به یې په کال چرته راچکر شو، که ، د تپوس پوښتنې یې ؤک نه وو. ې ورځو شپو کې هغه د ېید بابا زیارت ته روانه وه چې په لاره کې یې شمانۍ ولیده او هغې ورته په غوږ کې داسې خبره وکړه چې زهره وارخطا ببړته کور ته راوګرځیده.

ابدی ته هغه ورځ ښه په زړه وه. ـِلو خویندو کور پاک کړی وو. کټوۍ په انغري باندې وه او دوې په غولی کې ناستې وې. هغې پخپله په کروشیې د کټ څادر بونلو. اپیری په وړو لاسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارګاه ټینګه کړی وه، پرتوګاښ یې جوړوو او شفا په یو ټوکر کې د خپلې خور نه چارسوتي کښیدې چل زده کوو. کله چې مور یې وارخطا د وخت نه وړاندې کور ته را دننه شوه نو هغه پوهه شوه چې خبره ورانه وه. جانی د اعظم کور ته نه راتلل ځکه دوي هم مور سره روان وو او د دوې میله خرابه شوی وه. نور کله به زهره ورته یوه یوه ځپېړه راخلاصه کړه، خو نن د هغې وضع ښه نه وه. نو ورته اوبه راوړی، چا ورته ببوزی وهلو او زهره په زوره زوره مریم ته ناری کړې چې د دوې سره یې دېوال په دېوال کور وو. مریم په منډه راغله، ورپسې د هغې خاوند هم راغی او بیا دوې په کوټه کې څه صلاح مصلحت وکړل چې څوک ترې خبر نشول. نو په هاغه ماښام د دلاورخان په کور کې دزې وشوې. دا د صمد خان او د عابدی د کوېژدنې اعلان وو. له ورځ د دلاور خان له کوره سړي راغلل، ګوټ ووشو او سمدلاسه د عابدی د واده نېټه ټاکل شوه.

عابدی د پنډیری خوله وتړله، او ورو د خمبې نه راښکته شوه. هغه تراوسه خپل واده ته حېرانه وه، د دیارلسو کالو عابدی میاشت څخکې هم د خپلو خویندو او همزولو سره به د شپې پټ پټونې کولی. دا کومه ټکه رالویدلی وه چې مور یې د شهید بابا زیارت ته د تلو برخای، د دې د واده په غم کې شوه. په هاغه شپه دې څومره ژړلی وو، ته یې څومره زاری کړی وې چې ورته حال ووایی. که نه د ګاو بانو د کور کوهي(څاه) ته به ورودانګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پدې خبره ورته مو ووئيل' " ښاه ګل ملک وايي چې که **عابده** یو رانکړه نو ووبه يې ټپنتوو."

د عابدې د واده په اوو ورځ زهره هوډ کړی وو چې نوري لونې به د خپل کونډتون نه، نه زاروي. د سید یو ډېر نږدې ملګرې د رشيد کونډه، محبوبه په ښار کې اوسیده **او د** زهره د حال نه چې **خبره‌شوه نو** په هم هاغه محلت کې يې ورته د کرايې کور پیدا کړو چې محبوبه یکې اوسیده. د زهره د کلی پدې مازدیګری همدې کور ته روانه وه.

## دويم باب

## ۱۹۳۹

زهره خپلې تولې خنداګانې کلي کې پريښې وې. به ښار کې هغه د "ببو" په نوم يادیده. **دا نوم** ورته د رشيد اولادونو ورکړی **وو.** محبوبه د کابل نه را واده شوی وه. هغې به د **بورقو(** ادرې) لپاره تږکر کابل ته ورلیږلو چې وربښمين جالی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښ(چین) ورته وګنډي. نو ښځو به خپل ټوکر او وریښم ورته ورکول او محبوبې به پکې خپله ګټه اخیسته. د هغې په کور به یو څو ښځو په اجوره (اجرت) کار کوو او زهره هم د ښځو په دې ډله کې شامله وه. حبوبې ورته د جامو ګنډلو یو زوړ ین ورکړی وو او هغې ته یې چل هم ورښودلی وو. زهره به س پخپله هم د محلت د کورونو لپاره جامې په مزدوري ګنډلې.

فا او ښاپیرۍ د محبوبې د لور سره د ښار د لاسي کارونو مرکز کې داخلي شوی وي چې حکومت پرانیستې و. ازدیګر به دوي د مور سره لاس کوو. اعظم لا پخوا د ښار په ښوونځي کې داخل و و اوس د کلي نه ښار ته د ځانګې سفر نه خلاص وو. له کوره به ړ پینو ورتلو او هره به سحر وختي شفا، ښاپیرۍ او اعظم له ډوډۍ پخوله. بیا به د جانۍ سره بازار ته ولاړه، د سود سودا نه وروسته به یې ټوه باندې کړه او بیا به یې ټوله ورځ مشین لاستی تاوولو. ازدیګر به دواړو لونو ورته د خپل سټر چې دوې به ورته "څرخه سینټر" وئیل، کیسې کولې. د هغه ځای د استادانو، د نورو جینکو، خاله، د څوکیدار، څوک به یې یادول چې د زهره په ژوند کې یې یو خوږ بدلون راوستې وو.

ښاپیر به اوس کتابونه ولوستل، د څرخه سینټر نه به یې کله نا کله د کیسو کتابونه کورته راوړل. د شپې به یې د لاټین (هري کېن) په رڼا کې دا کیسې لوړغږ ولوستلې. د زهره په کور کې تر وسه بریښنا (بجلي) نه وه، خو هغه خوشاله وه. ې ورځو شپو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلی زړې ښځې چې به ښار ته د سودا لپاره راتلې نو د هره په کور به هم را وګرځیدی. بیا به یې ورته د عابدې او د هغې د سخر ګنې حال ووئیلو. زهره هم د کلي د ښو بدو او د بلې مزکې د فصل د حاصل لپاره څو وارې کلي ته ورغلې وه. د کلي د کور صفایي به یې وکړه خو شپه به یې پکې نه کوله.

عابدې حال به یې ولیدو نو ټوله شپه به نارامه وه. د دلاور خان په حجره کې به مېلمانه ډېر وو او عابدې خوابښې د کور کارونه په انړیندو ویشلی وو. پدې ډک کور کې د عابدې ورځ بده وه. هغه د عمر نه وړه وه او وجود یې هم نازک وو، د کور په نورو کارونو کې به ورسره د کلي څو ملګرو او کله نا کله خپلو یونو مرسته کوله خو د ې خانکه اوړو د اخښلو په وار به یې ژړل. بدې به خانک په کټ ایښې وو او پخپله به ورته په زمکه ولاړه وه. یوه ورځ همدغسې د اوړو په دریم خانک کې یې ایله اوبه او مبیره اړولې وو چې سر وربانډې وګرځیدو او راپریوته. په کور ، یو غوبل جوړ شو او د عابدې خوابښې هم وارخطا شوه. زهره ېر ځل ورسره ت جنګ کړی وو چې د هغې لور د دې کارونو نه ده. د کلي دایي شمی راغوښتل شوه او هغې په منډه د عابدې په وابښې زیرې وکړو چې عابده د ملشوم‌سره وه. بیا نو عابده د ملاشوم تر زیږیدو د اوړو اخښلو نه بې غمه شوه.

د عابدې د زوی د کیدو خبر نورجانی راوړی وو. زهره ورته په سر لوپټه واچول عابدې ته یې ځواب وکړو چې په بله جمعه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلی ته ورځي. ناپېرى، شفا او اعظم د کلي ورتګ ته خوشاله وو. پدې تېر يو کال کې دوې عابده يو دوه وارې ليدلی وه او دا ځلې يې ورور و خويندو زهره ته ښه په کلکه وئيلی وو چې دوې به په کلي کې لس شپې کوي. زهره چې د جوړو شوو جامو يوه لويه غوټه د محبوبې کور ته وو رسوله نو په هغې يې هم د عابدې ته زوې زيرې وکړو. محبوبې رله ژر د کوڅې په ګوټ د شيام حلوايی دوکان نه شيريني را وغوښتله. بيا يې په زهره ټينګار وکړو چې کلی کې دې ډېره نه پاتې کيږي. يو خو د ودونو جامې ورته ډېرې را روانې وې او بله د اعظم د سبق يادونه يې وکړه چې سالانه امتحان نی آزمويني) يې په سر وې.

زهره تر اوسه د ښوونځي د سبق په حساب ډېره نه پوهيده خو دومره خبره وه چې محبوبه هره خبره د هغې د ګټې لپاره کوي. کې سپينې شين خالی محبوبې به په دريو ژبو خبرې کولی شوي. د اردو ليک ولوست يې د خپل خاوند رشيد نه زده کړی وو، هره به يې هم کله نا کله راهڅوله چې يو څو تور کې دی ولولي. خو هغې ځان په زړو کې حساب کړی وو. د جمعې په ځ زهره د ټانګو اډې کې منلف مام نه ځواب وکړو چې سپينين دی ورپسې کور ته رلشي. او په هغه مازديګر د مناف ا ټانګه په کلی کې د شنډ توت لاندې چې ودريده نو زهره خپلو دونو ته د غوښې، چای، وريژو او د سابو غوټې په سر کړې. ی ته يې د کور کنجيانې ورکړې چې دوې دې هر ني ځای پر کړي. پخپله د ويالی بلې غاړې ته د دلاور خان کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانه شوه. عابدې د کور ښځو ورته د سترې مشې سره مبارکي هم وویله. زهـ مرې لور او بیا لمسې ښکل کړل او وې لیدل چې عابده نوره هم کمزورې شوې وه. یو څو وارې دروازې ته وکتل نو مور یې پوهه شوه چې د خویندو په انتظار وه. زهره ورته وویل، " نن ناوخته وو صبا به درته راشي." کور ښځې لاړې د مازدیګر تناره او د کټوې په غم کې شوې نو زهره د ډوکي نه وه غوړه کاغذي کڅوړه راوویسته او عابدې ته یې په لاس کې ورکړه. پدې کې هـ معجون(مسالـه) وه چې په تېرو څو ځو کې زهره پخپل لاس جوړ کړی وو. څلوېښتو توکو جوړ دا څوندور خواړه د اعظم او د جانۍ ډېر خوښیدل خو زهره ایله یوه یوه چونډۍ ورلـه کړی وه. اعظم پدې سخت غصه وو چې د مسالې، بادام، غوزان، چارمغز او بې شمېره نور نااشنا توکي خو ده ورته له بازاره راوړی وو نو په هغه مسالې د ده حق زیات جوړیدو. هغه په دې نه پوهیدو چې مور یې هره شپه د یوې یوې پیسې په حساب کولو اوده کېده.

دې کڅوړه په یوې طاقچې کې کېښوده او مور ته یې د چایو تابیا کوله چې زهره پاڅیده. غې اوس ژر تر ژره کور ته ځان سول غوښته. عابده هسې هم پوهیده چې زهره به هیچرې د هغې کور کې ایساره نه شي. د هغې راتګ به همدغسې په منډه وو. واده راهیسې مور د هغې په کور کې بې له اوبو نور څه نه وو څښلي، زهره به وئیل چې د واده کړی لور کره ډوډۍ خوړل د بې غیرتو خلکو کاروي. ه څه هم خلکو به ورته ډېر وویل چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره یوازې د سړو لپاره ده خو زهره دا دود پخپله په ځای ساتلی وو. غې د سید کرم او اعظم لپاره هم سوچ کوو او ځان یې د عابدې پلار ګڼلو.

ن هم چې هغه د دلاور خان له کوره خپلې کوڅې ته روانه شوه ښځو ورباندې ډېر تینګار ونکړو. د زهره د چم ګاونډ ښځې کله چې د هغې ښکالو اوریدلی وه. هر چا به د خپل کور له دېواله ورته سترګې مشرې وکړل او بیا به پخپلو کارونو اخته شوی. تر پل کوره چې رسیده نو د مازدیګر لمونځ ترې قضا شوی وو. هغه لړه ګړندې شوه ځکه جانۍ یې هم نه لیده او خبره وه چې د هغې نه وړاندې په منډو منډو کور ته به رسیدلې وې.

به کور کې ښا ۍ او شفا ځای سم کړی وو او درې کټونه په غولی کې پراته وو. په انغرۍ ، اور بل او ښاپیرۍ ورباندې د خاورو په کټوۍ کې ښه باندې کړی وه. شفا اوړه خښلی وو او اعظم د جانۍ سره د لرګي په اندره پایه(زینه) ښکته پورته کیدو. شفا د لاټین(هرې کېن) شیشه پاکوله او د تیلو ډېوه یې هم ځان ته دې ایښې وه. زهره ته دا هر څه ډېر ښه ایسیده خو د سید کرم ای تش وو. پداسې وخت کې به هغه خپل کتاب سرته ایښې وو په کټ به نیم ملاست وو او په آسمان به یې د الوتونکو مارغانو سیل کاوه. ، نا کله به ورسره اعظم او جانۍ هم ملاست وو او هغوې به یې د مارغانو نومونه ښودل. د ملا انګ، د هغې د تصور دا نړۍ ړنګه کړه. نې اودس تازه کړو او د لمونځ نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره وخته يې خپلې وظيفې کولی. شفا چې هريکين بل کړو نو زهره د مصلی نه را پاځيده. هغې ته د لاټين شيشه صفا نه معلوميده خو اوس ناوخته وو. واړه ورړي وو او خپلې لوبې يې بس کړې وې. ل د انغرې چاپېره ناست وو. ښاپېرۍ کټوه د خوړلو لپاره ابره کړې وه او مور ته په انتظار وه چې په تبۍ ډوډۍ پخه کړي.

زهره چې ډوډۍ پخولو ته کيناسته نو پام يې شو چې ټولې بسترې تراوسه دننه ي پورې څوړند اړولي کټ کې پراته وو. اوس دننه تياره وه او پداسې وخت کې اکثراً په توشکونو کې به لړم يا کربوړی پټ وو. پدې سوچ د زهره وجود نارامه شو او لونو ته يې ويناوې پيل کړې. د ښاپېرۍ د سترګو اوښکې ونه ليدې. ښاپېرۍ ، همدغه ګيله ترې پيدا شوه ې هغې به ټول کارونه سم کړې وو خو مور به ورته يوه خبره د آفرين نه کوله او په يوې غلطی به يې پکه کړه. دواړه جينکی راپاځيدی، شفا ډېوه بله کړه او دننه خور ته يې ونيوله. پېرۍ يو يو توشک را بهر کړو، وې نډلو او بيا د يو بل پنډ نه يې د سان چاپه دار څادرونه راوويستل کټونه د خوب لپاره جوړ کړي.

ې ټول وخت کې زهره ډوډۍ هم پخوله او ځان سره بونګيده، " هره خبره زما په سر ده. ه ښځه هم يم او سړی هم... د کور او ټول کارونه ماته پاتې دي." د هغې پام نه و چې ﺟﺎنی او اعظم د تبخی د تودې ډوډۍ نه نمړی ماتولی او سپور يې خوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زهره له دې عادت نه ډېر بد راتلل. یو وارې چې اعظم لاس وړاندې کړو نو زهره د ګې د څمڅې سره ورته تیاره وه او په لاس یې ووهلو، خو اعظم خپل کار کړې وو. د ډوډۍ نه وروسته ره د ماسخوتن لمونځ ته ودریده او لونړ یې لوښې راټول کړل.
زهره به د ماسخوتن د ل ځ نه وروسته ډېرې اوږدې وظیفې ولې خو نن د هغې د دعاګانو سلسله د ډمامو په شور ماته شوه د شپې پدې چپتیا کې غږ د ډېر لرې راتلو او هغې د مصلی نه خپلې اوندۍ مریم ته غږ وکړو. " مریمې دا د چا په کور کې تماشه ده؟" مریم د کوهي نه اوبه راویستلې چې په غولی کې تړلی مال ته یې واچوي. هغه یوه شېبه غلې وه لکه چې غوږ یې ایښې و، بیا یې هم هاغسې په لوړ غږ وویل. د دلاور خان دوی په حجره کې ا جوړې ډنګ ډونګ دی.
زهره پوه شوه چې د هغې د لمسي شاه جهان زیږېدو خوشالی ځکه سبا ته د ماشوم سرکلی وو. د عابدې مشری یور ورته وئیلې وو چې نن مابنام له ښاره یوه نامتو ډله سازیان رابلل شوی وو او سبا به د دوی په حجره کې تماشه وي. خو داسې ښکاریده لکه چې تماشه هم اوس پېل شوې وه.
زهره په بله وره یو څه خوشاله معلومیده. لونړ یې خپلې خوښې جامې اغوستې وې او دې ورته هېڅ نه وو وئیلی. اعظم سهار د چایو نه ورو ته چې په کلی کې د خپلو ملګرو سره یو ای شوی وو نو بیا تر غرمې مور نه وولیدلی. خو هغې نن د کلی د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په شان اولادونه هیر کړي وو. عجیبه خبره دا وه چې نن
رمه د نورو ښځو او د لور په ټینګار زهره د عابدې په کور کې
، لومړی ځل ډوډۍ هم وخوړه. ماښام د لمانځه نه وروسته د
دلاور خان په حجره کې تماشه وه، ښځو له کارونو ځان اوزګار
کړې وو او د حجرې خوا وشا په کوټو (بامونو) ځان ته ځایونه
نیولی وو. ماپېرۍ او شفا د خپلو خورل او عابدې سره یو ځای
ناستې وې. د زهره زړه نه کیدو چې د ماښام نه وروستو نوره
ایساره شي. مازونه په هغې هسې هم بد لګیدل خو د لونو لپاره
ناسته وه. د هغې په شان نورو زړو ښځو د ډمو د ګډا ننداره
دومره نه کوله، څومره چې پخپلو کې خبرو ورله خوند ورکوو. د
ره د چم ښځې هم راغلی وی او ځینو واړه ماشومان لرل چې
سر له ماښام په غیږه کې ورته اوده وو. جانۍ هم څو شیبې سیل
وکړو او بیا راغله د مور په غیږه کې اوده شوه. زهره پدې وخت
کې فیصله وکړه چې خپل کور ته به ولاړه شي.

، ښځو یوه جوپه راپاسیده، یوڅو تنه د لرګي په اندرپایه راښکته
کیدې چې په حجره کې شور ماشور جوړشو. هغه ټولې چې
ښکته او نیمې بره ولاړې وې د کوټې هغې دېوال ته یې منډې
کې چې ښکته ترېنه حجره ښکاریده. زهره م د ښځو د یوې
جوپې سر راپورته کړو چې ښکته په حجره کې وګوري چې څه
پېښه وه. ېرې په میدان کې ګلفام او آینې سندرې ویلې.
اړو به په ګډه څو مصرعي ووئیلی، بیا به یې د ډولکی په درز
پلو ګونګروګانو ته شرنګ ورکړو او د حجرې یو او بل سرته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې څرخ تیر کړو. زیاتو خلکو د هغوی سندرو ته غوږ نیولی وو
ږ ګلفام چې به کوم لوري ته ورغله ها خوا به ډېر جوش لیدل
کېدو. زهره د دوې دواړو جامو کالو ته ځیر شوه. دوې په سرو
اوښنو رنګونو د کوچیانو کمیسونه اغوستې وو او پړتوګونه یې
تور وو. په‌سرونو ، سرې اوږدې لوپټې وې او د وجود غړې
یې نه معلومیدل و د ګلفام سور کمیس په ملا کې تنګ وو او د
بینې غاړې نه به یې کله کله لوپټه والوتله نو د سرو له خلې به یو
زوږ راپورته شو.

زهره په تلو کې ه چې د ګلفام د یوې مصرعې په وئیلو د غلام
سخي زوی لاس وراوږد کړو، د غې غځېدلی لاس یې وونیولو. د
فام پښې بې توله شوې او غه په ناستو ځوانانو پریوته. هرې
خوا ته‌شور چیغې شوې نو د غلام سخي زوی هغه نځا ګره
راپورته کړه. هغه وخت په ښځو کې ناسته د غلام سخي ښځه
خېل زوی ته په ښکنځلو سرشوه. زهره چې د وړاندې نه د
حجرې په حال نارامه وه، پدې حالت نوره هم ناقراره شوه. لوېو
ته یې غږ وکړو چې،" راځئ" ښفا یې په زوره پاڅوله خو ښاپیرۍ
عابدې سره ونښته او ډېرو ښځو په وینا او مینت زاریو، زهره
ښاپیرۍ نه لاس واخیستو. بیا د کلي په خاموشو لارو هغه د
خپلو دریو اولادونو سره د کور په لورې روانه شوه. زهره د
ې د دروازې زنځیز یو وارې بیا ولیدو چې له دننه کلک شوې
و. او جانۍ د وخته اودې وې. اعظم یې په زوره د دلاور خان
حجرې کور ته راغوښتې وو او یو څه وخت هغه پښې په ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

در بولي. بیا له خپلې خور سره په لوبو شو او اوس هغه هم کور ووړ په خپل کټ پروت وو. زهره په تیاره کې د هغه په کټ څو شیبې کیناسته په ویښتو کې یې ورته ګوتې ووهلی او بیا ولاړه پخپل کټ پریوته.

د دلاور خان له حجرې اوس د سازونو غږ د دې تر کوره راتلو. هغې ته خپل د واده شپه رایاده شوه، په هماغه شپه هم ډمامې غږیدې. دې ژر د قران سورتونه رایاد کړل، یا یې سر د بالښت لاندې پټ کړو خو اوس ددې په ماغزو کې موسیقي غږیده. هغې د لاحول وظیفه پیل کړه نو وور ورو موسیقي بنده شوه خو اوس د هغې وجود په خوړیدو شو. دا لکه د ماهي، چې له اوبو بهر وي، اوړیده راوړیده. پدې کې د هغې د ذهن په پرده یوه ښځه راښکاره شوه. دا ګلفام وه، د سور کمیس او تور پرتوګ د پسه د بوډې ټال رنګونو لوپټه به والوتله، د ګلفام مخ د هغې خپل مخ شو. د غلام ـي د زوی پر ځای د هغې خاوند سید کرم ناست وو، د دې لاس یې ونیولو ـ دا رنګه بنګه د هغه غیږ ته ورپریوته. د هغې ټول احساس کاوا که شول. له خولې یې یوه کریکه راووتله، وجود ـ خولې خولې وو... ساه یې ښکته پورته کیده او د شفا غږ یې له لرې اوریدو ، " موری! ـ چل درباندې شوی دی."

د هغې د کمیس د غاړې توکمې خلاصې وې او شفا یې لاس نیولی وو. زهره اوچته راپاڅیده او خپل ځان ته یې پام شو. شفا ژړغونې وه، دې ژر ته ووئیل،" هیڅ نه دی...لکه چې خپسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راباندې ناسته وه. ـ ګوټ اوبه راکړه." شفا پاخيده و د سپوږمۍ په تتې رڼا کې يې ګړونج ته ځان ورسوو. بيا خاورې د منګي نه يې **دسلورو** جام ډک کړو او مور ته يې ونيولو. زهره اوبه څښلې او شفا ته يې ووئيل چې ويده شه. د حجرې موسيقي اوس نه آوريدل کيده **او** د کلی سپو غپل. زهره پوهه شوه چې د حجرې خلک اوس خپلو کورنو ته روان وو.

## دريم باب

## ۱۹۴۰

ـاپيرۍ د کروشيې څادر پوره کړی ـس يې په لوی پالنګ ـړولی وو چې مور يې وګوري. ـهره د څادر يو يو ګوټ پخپل کې نيولو او په مخ به يې د تسلي ښې خبرې شوې. په تېرو ـ مياشتو کې ښاپيرۍ د کيسو د کتابونو **ولوستل** بند کړې وو او کور کې به يې پدې څادر کار **کوو.** ـه څرخه ـنتر کې ښاپيرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښفا ول ژمی د نورو زده کوونکو جینکو په شان ځ پوځیانو
لپاره د خړو وړیو ن دستانی، جرابې او سویټرې اوبدلی. ، جنګ
کې زور پیدا شوی وو او ټولو ، د هټلر خبرې کولې چې ډېر ظالم
سړی وو. کله نا کله دوې به په "پربهات" او پېسه اخبار راټولی
ې چې د ښوونکو له خوا ورته راغوښتل کیدو. هټلر د ځېرې
سره ي ټولې اشنا وې و ښاپېرۍ ته به د هغه د غصې ډکې
سترګې د خپلې مور سترګو ته ورته ښکاریدې.

ن هم هغې لکه د یو پوځي جنر ، د ښاپېرۍ د کار جاج واخیستو.
ښا یې ځادر قت ړو او ښاپېرۍ ته یې ورکړو چې په لوی
دوق کې یې کیږدي. د ښاپېرۍ لپاره د اوسپنې دا لوې صندوق
زهره په ارزانه بیه د یو لوهار نه ا خیستې وو چې د پیرنګیانو د
کورونو د زاړو شیانو نیلامې ته به ورتللو. په صندوق کې د
جانی له خوا ښاپېرۍ لپاره راوړل شوی نور ډېر سوغاتونه هم
بند و. کله چې ښاپېرۍ دا صندوق خلاصوو نو په جانۍ به لکه
چې بوي ولګیدو. اوس هم هغې د کر ثیی ځادر د صندوق په
یوې خوا کښودو نو جانۍ ورته ودریده او سمدلاسه یې د سپینو
زرو پایزیبونه را واخیستل. پېرۍ پوهه شوه چې جانۍ څه
غواړي، هغې د دروازې شا ته وکتل نو مور یې په پخلن اخته وه.
، دواړه پایزیبونه په پښو کړل، پرتوګ دواړه پایڅې یې په
لاسونو کې پورته ونیولې او په مکیز مکیز کله یوې خوا او کله
بلې خوا وګرځیده. جانۍ خوشاله شوه، بیا هغې په صندوق کې
ې اودي رنګه بنارسي م راښکله او خور ته یې ونیوله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناوې شه. ا پېرۍ بيا له دروازې تا کړل او بنارسي يې په سرکړه. ځ له ډېرې خوشالې کټ کټ وخاندل او پدې وخت کې ناپېرۍ بهر د اع م غږ واوريدو چې د کور زنځير يې کړنګوو. هغې ژر ژر بنارسي او پايزيبونه په صندوق کې ورواچول او سر يې بند کړو.

نۍ له وخته د دروازې خلاصولو لپاره د اوسپنې د جنګلې سره لۍ پړې رابنکلې وو. د هغې لپاره دا هم يوه لوبه وه، د کوځې د دروازې په سر کور کې دننه د سپنې په يوې ځلور ګوټيزې ټوټې دننه درې ګوټيزه پټره وه چې بنکته پورته کېده. د دې سره يو لوۍ پړې د کور تر ولو اوچت منزل غځيدلی وو. هر چا به دروازه وټکوله نو د کور خلکو کې يو کس به ورته د بره نه هغه ې رابنکلو. دې ته به يې "هوړه" وئيل او ه بنار کې دا خبره امه وه چې د دروازې په ټکولو، د کور د بارۍ نه يو وارې بنځو و مرو دا پوبنتنه کوله چې څوک يې؟ اعظم د پبنو درزارې زهر په پخلن ځي کې اوريدو. ن څه خاص خبره وه چې هغه په وڅه کې د لوبو نه وروسته داسې په منډه کور ته راننوتلو، که نه هره ورځ به مور ورته د ې (کړکۍ) نه يو وارې غږ ضرور کوو.

اعظم چې په پونو راوختلو نو په لاس کې د کاغذ تاو شوی نل (توتوړو) نيولی وو. هغه په دالان کې يبنې د لرګي په تخت بنيناستو او خويندو ته يې غږ وکړ چې راشئ. بيا هغه را تاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې غوړ کاغذ یې ورو ورو په تخت هوار کړو او د ټولو له خولې د حیرانتیا یوه چغه را وتله. زهره نور صبر ونکړای شو، هغې ژر ژر لاسونه د کمیس په لمنه وچ کړل او دالان ته راغله.
ـکو مور ته لږ ځای پرېښودو ـ زهره چې په تخت څه وولیدل نو زړه یې یو درز کړو. نه پوهیده چې څه ووایي ځکه پدې لوی غوړ کاغذ ښاپېرۍ جوړه وه.

ـاپېرۍ ته ورته څېره، کټ مټ هم هاغه آبي سترګې، ژېړ ویښته، په سرو شونډو هم هاغه مسکا... د ـ ښځې تصویر تر ملا جوړ وو. د نازک شیفون تکه سره ساړي ترلی وه، لږ په څنګ ـته وه او په لاس کې یې سیګرټ نیولی وو. دا نه معلومیده چې تصویر خیالي وو او که د ریښتیاو ښځه وه... ورسره یو ځوټکی لیکلی وو چې شفا په زوره ولوستل، " ـ بادشاه سیګرټ" زهره ـخ نه پوهیده چې څه و ـایي، جانۍ به بیا بیا تصویر ته اشاره وکړه او ـاپېرۍ ته به یې ګوته ونیوله چې، " بی دا خو ته یې." نابېره د تصویر د ـکلا جادو د زهره په غږ مات شو. " دا چا درکړې دی؟" هغې په سترګو کې د شک ښامار ښکاریدو او خوله یې اعظم ته وه. " هیچا نه دی راکړی." اعظم ډېر په اعتماد ووئیل،" دا کلنډر ما په دوو پېسو د کلدیپ ـګرټ وال نه اخیستی دی." زهره وارخطا شوه ، " دوه پېسې دې له کومه کړې وې؟" عظم د تخت نه راپاڅیدو، کلینډر یې راووچت کړو او مور ته یې په هم ـغه لهجه ځواب ورکړو، " نه یې وایم...زه د هر ځای نه مې چې کړې دی." ـهره خپلې څپلې ته لاس کړو ' " ته ودرېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه..." اعظم کوټې ته منډې کړې او شفا د مور د لاسه ځېلی ونیوله، رپرېږده موری... زه به ترینه پوښتنه وکړم." زهره ېرته پخلن ځي ته د تللو په ځای هم هلته په تخت وغځېده او شفا ته یې وویل ر "کټوی ته پام کوه." ې جانۍ چې مور په تخت غځېدلی ولیده نو ژر یې ورته بالښت راوړو.

هره د ښاپېری د واده په هکله فکرونه کول، هغې نورجا ی ته انکار کړې وو او د خپل زوم صمد خان خبره یې هم نه وه منلی. خو کله چې عابدې ورته خبر رکړو چې ښاپېری پخپله هم د اکرام سره واده کول غواړي نو زهره ځان له ویښته وشوکول. دوه میاشتې وړاندې چې کوم فساد هم پدې تخت شوی و، ګازې یې اوس هم د زهره په غوږونو کې تازه وې. په هاغه سخر اعظم او فا ښوونځي کې وو او انی په کوڅه کې د خپلو ملګرو سره لوبې کولې. صمد خان او عابده دواړه زهره نه په جرګه راغلی وو او د خپلو خبرو نه وروسته صمد خان بازار ته د کارونو لپاره تلی وو. ې تخت عابده ښاپېری او زهره ناستې وې. ښاپېری ر ټیټ وو او د عابدې سره جوخته ناسته وه. زهره ورته د اکرام په هکله لګیا وه. دا چې هغه ولې د ې کور ته نه راځي...دا چې ډېر کاله کېږي، سید کرم هغه د کلی د دوو نورو هلکانو سره بربنډ ی وو او ځای پر ځای یې درې واړه رټلي وو. کرم ته یې ښه وره وره ځېږه هم ورکړې وه او ورته یې وئلی وو چې ټول کلی به ورباندې خبروي. د ، پېښې نه یواځې زهره او د اکرام مور نورجانه خبری وې. اکرام له دې وروسته د زهره کور ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتلو، ان تر دې چې د سيدکرم په مرګ هم په حجره کې به يې فاتحه ورکوله.

يو ځلی زهره هغه د کلی په لاره چې وليدلو نو ورته يې وويل چې دې ولې ورکړه نه راځي. اکرام په هم غه ځای زهره ته ځواب ورکړې وو چې زما د ستاسو ټولو نه بد راځي. دا خبرې زهره هغه وخت ښاپيرۍ ته کړې وې چې نور جانۍ ترينه د اکرام ره د ښاپيرۍ لاس غوښتې و. ا يې ځو ځو واره خپلو ټولو اولادونو ته وئيلی وو چې اکرام له دوی کرکه کوي. خو ښاپيرۍ ته هاغه شپه په زړه وه چې د عابدې د نکريزو په موقع کله چې دوی لاورخان د کور په لوی انګڼ د نږدې خپلوانو د ځوانانو ګوټې په نکريزو سرې کولې، نو اکرام ورته تر ټولو زياتې پېسې لاس ايښې وې. ې مور ته ځو وارې دا خبره ياده کړې وه. خو زهره به ورته وويل چې هغه خپلې پېسې خلکو ته ښايي. د اپيرۍ پدې خبره به تسلي نه کيده چې اکرام او نورجانۍ دواړه د خپلو پېسو او د مال په نمايش ښاپيرۍ او نورو ته ځان ښکاره کوي. هاغه سحر عابدې په لومړی ځل د مور سره په لوړ غږ خبرې کولې او زهره هم خپل زيار ايستلو چې عابدې ته قناعت ورکړي خو اخره ستړې شوه او توره ډال يې ور وغورځول. هغه د ښاپيرۍ په طبيعت پوهيده چې د هيڅا خبره به يې نه منله. دا هم خبره وه چې اعظم به د خويندو پلوي کوي ماښام د اعظم دې رې د هغې په احساس ټاپه ولګوله چې د ښاپيرۍ خوښه وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به هم خوشا ، وي. د ښاپېرۍ د قسمت فیصله وشوه او زهره یو واري بیا ماتې خوړلې وه.

جانې په ټول کلي کې د خپل زوی سیاله نه موندله ښاپېرۍ ورته خپله ښکاریده. زهره د هغې د معذور اخښي وریندار وه. د هغې خاوند بې تعلیمه سړي وو خو په زوی اکرام یې تر شپږمه سبق ویلی وو. اوس هغه په ښار کې د پیرنګیانو په یو ګودام کې منشي وو. دې د شپاړسو کالو وو او تنخواه یې د میاشتې شل روپۍ وه. د کلي ښځو به وئ ، چې زهره کبرژنه ده چې د جنګ ې سختو ورځو کې یې داسې هلک ته خپله لور نه ورکوله. نورو به ویل چې د زهره اروا اوس د کلي د خلکو سره نه ډیرې. خو اوس چې زهره واده ته غاړه ایښې وه نو نابېره د دې خبرو بڼه بدله شوه. هم هغو ښځو چې زهره یې کبرژنه بلله، ویل یې، "زهره خپله لور درنوی." بلی به ویل،" د اپېرۍ سبق ورته اوس غم جوړ شویدی."

، ښاپیرۍ لپاره ژوند یو ښکلې خوب ګرځیدلی وو. نورجانه به په هړه دویمه دریمه ښار ته روانه وه. خپلې نازولې امرور ته به یې زلوبې، کله بادام او پسته او کله نه کله ولایتي کلچې راوړې. و ځلې یې د کلچو یوه ډبه ورته راوړې وه چې د ټین جوړه او پاسه پرې یوه ښکلې ښځه او یو سړ په انګریزي جامو کې یو بل سره ج خت ولاړ ښکاریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

، پدې زمانه کې به هرڅه په راشن خرخیدل ټولو د ګوړې
ی ځښلی. ولې د ښاپیرۍ لپاره به نورجانی پخپله د چینو پاو دوه
وه کاغذي لفافه رواړه. نورجانی ورته د واده لپاره هم ډېر ښکلې
ان اخیستل. د کمخواب جوړه یې د بمبی نه ورته را غوښتې وه.
د سپینو او سرو زرو کالي په اندر شیر کې تر ټولو اوچت زرګد
(رام) به لاس جوړ شوی وو. د خیال او د خیوی توکي، سرخي
ډېر، عطرونه په صدر کې د پیرنګیانو له یو دکانه اکرام پخپله
اخیستی وو.

ۍ ته به د نورجان خوږې خوږې خبرې د یو خوږ ژوند
مه وې. هغه به تل د ښاپیرۍ کښیده شوو شیانو نه زار و قربان
کیده. اخر د پنځلس کلنې ښاپیرۍ د واده نېټه وټاکل شوه او زهره
د خپلو بچو سره بیا کلی ته ولاړه. هغه به ټوله ورځ لکه د لیونو
پخپلو پښو ګرځیده. غنم کرل شوې وو او د ۍ دهقان ګل شرف
به هر کال د اوبو ستونزه لرله، د زهره د اوبو په وار به اسلم دوی
له نا کله د اوبو مخه واړوله، او تر څو به چې زهره خبریده نو
هغوی به د یو پټي اوبه ترې غلا کړې وې. سږ کال هم دغه لانجه
وه او ۍهره به پخپله اوبه څارلی. هغې بورقه غورځولی او د لیلن
پړونې کې به یې ځان نغښتی وو. د کلی ټولو خلکو د زهره
ډېر عزت کاوو. خو د ۍرندې او د پټیو اوبو په سر ځان ځاني
وه. دا به په پټیو کې په منډه د یو سر نه بل ته روانه شوه، جانی
او اعظم به ورپسې وو. اعظم چې به د مجبوری مور قهر او د
ۍښکو ډکې سترګې ولیدلې نو ځمکې ته به یې لغته راخلاصه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په چغه به یې وویل. سوری دا ځمکه خرڅه کړه" زهره به د
ىغه په خوله لاس کیښودو، " نه بچیه داسې مه وایه... د کلي خلک
پورې وخاندي دا ځمکه ستا د پلار امانت دی... داستا ده...
زه خو یې نشم ترڅولی... او ته هم پام کوه چې دا خبره بل چاته
ونکړې."

ا اعظم ښار ته ور ولیږل شو. محبوبې د زهره سره لوظ کړی
وو چې تر امتحانونو به دی د هغې په کور کې اوسي. ښاپیری د
ىه ورځ هم راغله او د نورجانۍ په کور کې د ټول کلی خلکو
ډوډۍ خوړله. ت رام ورته لس ورځې وړاندې یو من(څوښنت
سیره) مټایي تیاره کړې وه چې هغې د نکاح لپاره تربنه یوه
ىکرۍ ببله کړې وه. د دوډۍ نه وروستو اکرام د خپلې ملگرو
سره په حجره کې ناست وو او ىور ورپسې څو وارې اب کړې
وو چې کورته ورشي، خو دی ، خپل ځای نه نه خوځیدو. دلاور
خان بل زوی صمد ته په غوږ کې څه وویل نو هغه اکرام د لاسه
ونیولو او د خپلو دوو نورو ملگرو سره په بدرگه یې د کور په
لورې بوتلو. هلته ښځو هم ډوډۍ خوړلې وه، د وریژو خانکونه د
ى بل د پاڅه ایښودل کیده، د کور محلت ټول چرگان او ماشومان
ه ځمکه تویو شوو وریژو اخته وو. ځوانو جینکو چې اکرام
ولیدو نو تمبل یې راواخیستو او سندرې یې پیل کړې.

هلک نر چینار دی جینۍ د گلو ونه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورجانی د خپ ، کچه کور په غولی کې زوی له یوه بله کوټه جوړه کړې وه او اوس د ې کوټې مخ ه یې په ځمکه د خاورو اوړه کنډ لی په یو قطار اړولی ایښې وو. د اووم کنډولی سره خوا کې د کلی نایښه بصرۍ ببو په لاس کې چچ نیولی ولاړه وه. د اکرام د ترور انړور او د زهره لیورزۍ تجلی، په لاس کې د خاورو هاغه منګوټې نیولی وو چې اوړمه ورځ یې د کلی د اوو کورونو د کوهیانو په اوبو را ډک کړی و. ی ټولې د اکرام په انتظار وې چې اوس پ ځوړند سر او سستو قدمونو د کوڅې له دروازې د جینکو په بدرګه د کوټې په لورې روان و. ځو هم د جینکو سره غړ ګډ ړې وو او ټولې ورو ورو کوڅې لوري ته روانې شوې. نورجانې خپلې زوی د خاورو د کنډولو قطار ته ودروو. بیا یې ورته په غوږ کې وور ورو وو ، چې څه به کوي. اکرام هم د اندې نه خبر وو ځکه د کلی د ودونو دا دود هرچاته معلومه وو.

اینې اوس خپل چچ د اکرام په سر اړولی ونیولو او تجله په کټ ودریده منګوټې یې د چچ د پاڅه ورکوړ کړو او نورجانۍ خپل وی ورو غوندې کوټې ته ورټیله کړو. د تجلی په لاس کې د وټی اوبه په یو شړق په چچ واوړېدې او هم پدې وخت کې رام په پوره زور خپله پښه لومړی کنډولی ته راخلاصه کړه، بیا له پښه او د پښو درز د ماتیدونکو کنډولو د غړ سره یو ځای، د تمبل په غړ کې ورک شو. ورجانې د جیب نه یوه سپینه روپۍ راوو سته او د تجلی په لاس یې کېښوده. بصرۍ ببو ته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټاسو کڅوړه ورکړه او هغې د ورا اتې ښځې په مخه کړې چې د
ِ نه تر کوڅې پورې ورو ورو خوځېدې. دننه به کوټه کې
ِام ښه شيبه په پالنګ ېښو جامو ته کتل په دې نوي کوټې کې
نور سامانونه نه وو. يوې خوا ته ډيټوس پروت وو چې مړې
شمعې پکې په نکريز ، ګډې شوی وې او په منځ کې د کاغذي
ِنو د ګلدستي پاڼې په نکريزو لړلی ښکارېدې. دی هم هغسې
ولاړ وو چې شا ته يې د مور غږ واوريدو، "شابه هلکه زر کوه...
ناوخته کيږي."

بهر غولی کې اوس لږې ښځې پاتې وې او دوی هم بورقې په
سر ورو ورو د زهره د کور په لوري روانې شوې. صمد او د ده
ٔکري کوڅه کې يوې خوا ته ولاړ وو او مخونه يې دېوال ته
ِو چې ښځې په ارام تېرې شي. دوی د اکرام په انتظار وو. څو
شېبې وروسته نورجانه او اکرام دواړه له کوره راووتل. اکرام د
بوسکی کميس او سپين د سان پرتوګ اغوستی وو، د تيلی خپلی او
په سر هم هغسې ټوپی، لاس کې يې لوی د وربېښمو رومال وو.
دا د هغه خپلې جامې وې، بصری ببو ورته په دروازه کې سپيلني
لوګي کړل او بيا سرې د حجرې په لوري روان شو، او نورجانی
په منډه د بصری سره يو ځای د نورو ښځو سره مله شوه.

## څلورم باب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ہ د کور دروازې ترلی وه او د ورا (جنج) ښځې په کوڅه کې ولاړې وې. عابدې او شد ټپلې ټولې ملګرې راټولې کړې او لاره یې ورته نیولې وه. دوی د و ا د ښځو نه پیسې غوښتلې، ې جینی تمبل(چمبه) وهلو او په ټپو کې یې د اکرام د کور ښځې یادولې.

ی مې ځوانی ته قدم کېښود- د واده غم ورته کووم چې راضي شینه

په ډول و ډال کې حمزه خان وې- کورته دی راغلم مور دې ګ وهلی وونه

ې مې وې په لاس مې نکړې- . موزیګې په خویندو راغلم تش لاسونه

د اکرام یوه زړه دای چرته د بل ی نه راغلی وه او ښځو هم هغه وړاندې کړې وه د ناوې د ملګرو سره خبرې وکړې. آخر نورجانی راښکاره شوه او ښځو مخې ته ورټیله کړه چې زمونږ پیښې په ولاړه ستړې شوې، د دې جینکو خوله بنده کړه چې دروازه خلاصه کړی. ورجانی له جیبه یوه سپینه روپۍ راواخیسته او د دروازې د یوې ویټکی نه یې جینکو ته ونیوله. بدې روپۍ واخیسته او د جینکو په شور او خنداګانو دروازه خلاصه شوه. ښځې ټولې وردننه شوی او چار چاپېره ایښو کټونو کې یې ځان ځای کړو. تمبل وهونکی جینې اوس د غوی په منځ کې ودریده او د ورا ښځو ته یې اشاره وکړه چې نڅا وکړې، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو شپېې يې همدغسې په يو بل يې ملنډې وهلې، اخر تجله را
ـانډې شوه او څرخ يې پيل کړ.

ـاپيرۍ دننه په کوټه کې د خپلو ګوټ خيليو سره ناسته وه. لاسونه
و پښې يې په نکريزو سره او ويښته يې په خوشبوداره تيلو
غوړوو. جينکو ورله اوربل جوړ کړې وو خو د واده جوړه يې لا
نه وه په غاړه کړې. . سيدانو د کور يوې ښځې د ډېوې په تته رڼا
کې د قران تلاوت کوو. کله نا کله د ښاپيرۍ په ملګرو کې به يوې
ږرته په ټيټ غږ يو څه ووېل او هغې به سر نور هم ټيټ کړو.
ړ ښځو اوس د ناوې شيانو ته کتل چې نورجانې د صندوق نه
راويستل. هغه د يو صندوق سره ناسته وه چې په ځمکه يې په يو
ڼادر ايښې وو او وار په وار ترينه يو يو شی راوتلو. تجله ولاړه
وه او هر شی به يې په لاس کې را واخيستو، چارچاپېره به يې
ې ته ښکاره کړو او بېرته به يې ترور ته وسپارلو. د کمخواب
ړه او بنارسي د مازديګر په لمر کې ځليدل. د سپينو زرو کالو
ټولې ښځې ګوته په خوله وې. ا يې لاڅه کوې چې نورجانۍ
ې له د سرو زرو دورونه او ګلوبند هم جوړ کړی وو چې په
ول کلی کې چا سره نه وو. عابده تر اوسه به د خپلې غاړې د
سرو زر ـ زنځير ته خوشاليده چې سخر ورته په واده کې جوړ
کړې وو خو اوس د خور کا ، چې يې وليدل نو ځان ورته ډېر
خوار او غريب ښکاره شو. ځکه د واده په وخت د سپينو کالي د
کلي هرې ناوې ته جوړيدل خو دومره سره زر چا نه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننداريې نه وروسته خو ټولو ښځو ته هم دا موضوع په لاس
ړغله چې ښاپيرۍ ډېره خوش بخته جينۍ وه. ځينو سپين سرو
ې د سرو زرو ګلوبند يې چيرې نه وو ليدلی، غوښتنه يې کوله
چې دوی به هغه "شې" ړدې نه ګوري. د دريو تولو د سرو
زرو ګلوبند ډبی تر ډېره وخته لاس په لاس ګرځيدو. د ناوی
ندوق دننه کوټې ته يوړل شو نو هلته جينکو د يو څادر نه پرده
جوړه کړه او ناوې جامې بدلی کړې. جينکو ورته بوټان هم په
و کړل چې د څرمنې ای د پاسه پرې د هغې د جوړې په
ن کمخواب لګيدلی وو. اپيرۍ چې ناوی شوه نو جينکو ورته
يوه وړه هنداره مخې ته ولله چې ځان وګوري ښاپيرۍ پدې
تيار کې نه څه ليدې شول او نه يې پروا کوله. هغه خپلو کالو ته
خوشاله وه، نداره يې څو شيبې مخ ته هسې ونيوله او بيا يې
جينکو له بېرته ورکړه.

بهر د زهره په چم کې د اسلم حجره کې د ورا سړی ناست وو. د
ړمات ملا ته هم د حجرې په يو ګوټ کې ځای جوړ شوی وو.
ملا چې ی نو د نکاح په هکله يې يو څه خبرې وکړې، بيا د
**دلاور خان،** سره له اکرام او د هغه د دوو ګرو، حجرې نه ووتل
او د اسلم کور ته يې مخه کړه. هلته په يو کوټه کې ملا د نکاح
خطبه وويله ېې د جينۍ له خوا دلاور خان د نکاح پلار شوی وو.
هغه پخپل وار دروازې ته وکتل چې زهره يې شا ه د نورجانۍ
سره ولاړه وه. بيا ېې ملا ته د ښاپيرۍ رضا وښودله. ړې ځلی
همدغسې وشول چې ملا دعا ته لاس پورته کړ نو نورجانۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړي مټايي يو طشت د اسلم ماشوم زوی ته ورکړو چې په ناستو کسانو يې وويشي.

هم پدې وخت کې حجره کې ناستو کسانو کې ځوان ټوپک لسم نه وونيولو او څو ډزې يې وکړې. د هرې خوا نه د مبارکۍ شور را پورته شو او ډمامی بيا پيل شوې، په حجره کې ځلکانو اتڼ کوو او صمد د اکرام لاس نيولې د زهره کور ته روان شو. پېرۍ پوهه نشوه چې نکاح څنګه کېږي، دومره خبره وه چې سحر ورته مور وئيلی وو چې هغه به خپل د نکاح واک دلاور خان ته سپاري. شفا داسې فکر کوو ې ګوندې واک هم د ښاپېرۍ د نورو شيانو سره د اوسپنې په صندوق کې بند وو او ناوی يو وخت هغه بل چاته سپاري. دا چې ولې به واک اکرام ته نه او ر خان ته سپاريدو، شفا او جانۍ دواړه پرې نه پوهيدې. هغوې چې د عابدې نه پوښتنه وکړه نو هغې دواړه ورټلی چې د مشرانو به کارونو کې خبره مه کوئ. فا وليدل چې د ښاپېرۍ لپار ، شوی نوی پالنګ دوو ښځو اوچت کړو او د کور په غولی کې يې کېښودو. د ګ پښې سرې وې، د لرګي کټاره يې بيله وه چې پکې دواړو غاړو ته يوه يوه ګلداره چيني خښته لګيدلی وه. د نواړو د پالنګ د پاسه د سور رنګ الوان توشک او دسور اتڼ څادر وغوړول شو چې و اندې د وريښمو مشينې ونه جوړشوی وو. برستنه د شاهي ټوکر نه جوړه وه چې ښځو په لاس کې يې جاج اخيستو. يوې خوا ته د نمانځه لپاره د لرګي نخت کېښود و او ورباندې د ميسو لوښې يې قطار کړل. کوزه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلمچي، دوه غوری او یوجام او هم پدې تخت هاغه صندوق هم
ښي وو چې جانی به ورته خزانه ویله. پدې صندوق کې درې
جوړه جامی، د تیلی د څپلیو یوه جوړه، تولیه صابون او د کروشیی
در او نور واړه شیان ایښي وو. د صندوق د پاسه یې یو سپین
کبنیده شوی پلوو هم وغوړوو او ځو لا د دې شیانو ننداره کوله
ېې ماشومانو راوځغ ل چې هله ځلمی راځي.

کرام د څلورو ځوانانو سره کور ته را دننه شوچې صمد یې لاس
نیولی و. زهره ورته مخې ته ولاړه وه، د اکرام خوله هم هاغسې
ګنډلی وه خو صمد ورته پ تخرګ کې خپله څنګل ووهله چې
خوابنې ته سلام وکړه. اکرام زړه نا زړه وو چې زهره ورته په
سر لاس کیښودو زور یې ورله ورکړو چې سر ټیټ کړي. په
ونو ناستو ځوانو ښځو اوس په بورقو کې مخونه پټ کړې وو.
ن سرې پخپلو ځایونو ناستې وې او ناواده ینکی ټولی دننه د
ناوی نه چاپېره وې. ان خوانې ښځې د نکاح د مبارکیو په وخت
ت بند کړې وو او په ښاپیری یې د چف کولو نه وروسته
بنارسي یې د په سر پورا را ځورنده کړې وه. بیا یې ورته
وویل " زه ځویه...بنارسي بند لکه ونیسه چې څوک دی مخ ونه
ي... اوس به دا مخ یواځې خپل خاوند ته ښایي... پام کوه چې
څوک یې د هغه نه مخکې نه ګوري... ې د مخ نور به دی
ورک شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ه را وړاندې شوه او ښاپېرۍ ته یې یو لوی وریښمین رومال په لاس ورکړو چې مخ ته یې ونیسي... "کله کله ښځې د ډولۍ پر ﺨت تېل ماتېل کوي چې د ناوی مخ بربنډ شي." ښاپېرۍ رومل کلک ونیولو، خو پدې وخت کې ﺬ برجومات د ملا ښځې په شنه ﮐر کې تاو یو نوی قران هم په بنارسی کې .ننه د ښاپېرۍ په لاس کې ورکړو. هغې ایله دا قرآن د سینې سره جومات نیولی وو ږسی یې په ښوېدو شوه. ناڅاپه د هغې د یوې ګوټ خیلۍ ورته پام شو او پلوونه یې ورته سم کړل. هر څه په عابدې هم تېر شوې وو. ﻐه را وړاندې شوه او ښاپېرۍ ته یې چل وښودلو چې څنګه به په یو لاس بنارسی او په بل کې ږان ټینګوي.

بهر "الا الا الا "شوه اکرام په پالنګ کیناستو نو صمد خان ﺮته مشهدي لنګۍ وتړله. ږهره ورله په ښار کې د نسواري "ګبرډین" کوټ هم جوړ کړې وو، هغه یې د جامو د پاسه واغوستو نو زهره و د سرو زرو ګوتمۍ په ګوته کړه. د پالنګ د حلوا ﭙتنوس نه ټولو هلکانو لږه لږه حلوا واخیسته او اکرام ته یې خوله خوږه کړه. له دې سره د حلوا پتنوس بهر حجرې ته وویستل شوه او ټولو ماشومانو هم ﻬغې خوا ته ور وځغستل. ورجانۍ د اکرام لاس نیولی وو او په ټولو سپین سرو ښځو یې ګرځوو چې ورته ﺴلام وکړي، ښځو به ورته دعا سره پخپل وس انه یا دوه آنې په ﻼس کېښودې. ﮐکان چې د اکرام سره یو ځای بهر حجرې ته ووتل نو د ښاپېرۍ کډه هم راټوله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عابده په یو کټ ناسته وه او ټولو ته یې کتل. د هغې دویم ماشوم په نس کې وو، باور یې نه کیدو چې دوه کاله پخوا د هغې خپل واده شوې وو. د ښاپیرۍ په ځای یې ځان ولیدو چې د کوټې له ,ازې د خپلو ملګرو په حلقه کې ورو ورو بهر راووتله، د کوخې خوا ته دواړه تمبې خلاصې وې او ماشومان د ډ ِلۍ چار چاپیره تاویدل را تاویدل. زهره یو سور څادر جانۍ ته ورکړو چې ډولۍ د پاسه یې وغوړوي، یو چا ه ډولۍ کې دننه سور توشکې یښې وو. جانۍ د بیګا راهیسې د مور غوړونه خوړلې وو چې نغه به د خپلې خور سره ډولۍ کې ښیني او مور ورته په سخته وئ ی وو چې په ډولۍ کې دریو کسانو ځای نه وي. ښاپیرۍ ه به د هغې نږدې ملګرې شهۍ په ِلۍ کښیني. عابدې اوس ټه پټه ژړا پیل کړې وه، شفا هم ژړل، زهره د کوټې نه یو پنډوکې راوویستو چې په یوه اري رنګه رومال ک , وچه میوه، لونګ او قند تړلي وو. شهۍ د میوې غوټه ترې ونیوله او ښاپیرۍ ته یې پام شو چې تراوسه یې نه ژړل. هغې ګر وکړو چې صبا ته به ښځې ور پورې خاندي نو ژر یې وویل،" ناوې به رخصت شي او ورور به یې نه وي." د دې خبرې د آو ِیدو سره ښاپیرۍ په ساندو شوه، ای زما روکیه." اوس هغو ښځو هم ژړا پیل کړه چې تر هغې په خبرو اخته وې. یو چا ناره کړه، " مه ژاړه لورې...او په سلګیو شوه. هره سترګې وچې وې، هغه ښاپیرۍ ته نږدې شوه و د بنارسي د پاسه یې ښکل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې تر دروازې پورې پدې څو ګامونو کې ښاپېرۍ څو وارې
ودرول شوه، بیا چا په شکور کې غنم راوړل. ـهۍ د ناوۍ لاس
ـزګار کړو او شکور ته یې برابر کړو، ښاپېرۍ په موټې کې غنم
را واخیستل او شاته یې وشیندل. درې موټې غنم د شیندولو نه
ـروسته هغه په ډولۍ کې کښېنول شوه او شهۍ هم ورسره کیناسته.
ولۍ د پاسه د غوړیدلی څادر پلوونه را ځوړند شول او دوو
ړو چې له ډېره وخت د کوځې په سر کې یو دېوال سره ډډې
ـلي ناست وو، په منډه راغلل او د ډولۍ دوه ډنډې یې وړاندې او
وروستو په اوږه کړلې او روان شول. ـړجانۍ د پټاسو او لاچي
انو یوه غوټه بصرۍ ببو ته ورکړې و چې د ډولۍ د پاسه یې
وشیندي. بصرۍ ـړو ته د ورو ورو تلو غږ کوو او بیا په ټوله
لاره یې پیسې او پټاسې پ ـ ډولۍ شیندلې. د ماشومانو جوپې وې
په ډولۍ پسې یې منډې وهلې او د پټاسو او پیسو د راټولولو
لپاره به لکه د چرګانو په زمکه پرېوتل او یو بل سره په جنګ
شول.

ـ زهره په کور کې یواځې د هغې لوڼه او محبوبه پاتې وې او
ـنکۍ چې د کور په پاکولو اخته شوې نو عابده دننه په کټ
سملاسته. زهره او محبوبې تر هغې ورته نه وو وئیلي چې اعظم
خپل ملګري سره په بایسکل سپور روان و چې یو موټر د شا نه
ل. دواړه ټپي شوي وو خو ماسپښین چې محبوبه د ښار نه
راغله نو هغوي ته یې دومره وویل چې د اعظم د امتحان پرچه
ماځیګر کې وه. زهره د محبوبې سره ښار ته د تلو لپاره بورقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ا واخيسته او لونو ته يې وويل چې سبا سهار وختي به بېرته ـې. د عابدې شک شو چې په اعظم څه شوي وو خو مور رته وويل چې د کلي لاره ښه نه وه او محبوبه يې يواځې نه پرېښوده چې ښار ته ولاړه شي.

نورجانۍ چې کور ته ورسيده نو د ورا ځيذ ښځې د وړاندې نه په کور کې و دا د نورجانۍ نږدې خپلوانې وې او د ناوی د هرکلی ته ولاړې وې. ولی د کوڅې دروازې سره کيښودل شوه نو يوه ـوره چيلی يې د ناوی په پښو کې حلاله کړه. ـړې ښځې د شړشمو په درشل کې توی کړل او ښاپيرۍ چې د ډولی نه راوويستل شوه نو لو ـۍ ښځې ښه يې د ـې تيلو د پاسه کېښوده. تمبل وونکي جينکۍ بيا راټولې شوې وې او ـاپيرۍ ته يې د هرکلی سندرې ويلې. د هغې تخت ـ شوی وو او دا يې پرې کښېنوله نو ـنهۍ ـم ورسره د جوخت خپل ځای ونيولو. بيا يو ماشوم د ـپرۍ غېږې ته ورکړې شو او شهۍ ورو د ښاپيرۍ په لاس ر ـپۍ کېښوده چې ماشوم ته يې ورکړي. دوې په انتظار وې چې آينه مصحف رسم به هم کيږي، خو د شپې تر ناوخته د اکرام درک ـنه لګيدو ـ ټولې ښځې خپلو خپلو کورونو ته ولاړې. د واده د ـ خلک سترې ستومانه پخپلو ځايونو کې پريوتل، و ښاپيرۍ يې هم کوټې ته وردننه کړ او شهۍ پخپل پالنګ کېنوله. ـ ښاپيرۍ سره مور يوه نايېه هم راليږلی وه، هغې څو وارې نورجانۍ ته غږ وکړو چې اکرام دې له حجرې را وغواړي. خر چې شهۍ هم د خوب لپاره د ناوی د کوټې نه ووتله نو اکرام را ښکاره شو. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان پسې د کوټې تمبې وتړلې او د کوټې په ګوټ کې پروت د لرګي پر تخت وغځېدو.

ښاپېرۍ په پالنګ ناسته وه، د بنارسۍ د پلوونو نه یې اکرام ته پټ کتل چې کله به را پاڅي او دې ته به سترې مه شې وايي... کله به ورسره خبرې کوي، کله به د دې پلوو له مخه لرې کوي... کله به د هغې لاس نیسي... کله... هغه په انتظار سترې شوه، خوب ور باندې ډېر زور کړې وو او سر به یې یو خوا بل خوا ټالۍ وهلو، خو هغه له وېرې نه ویده کېده. هسې نه چې اکرام خفه شي، هغه خبره وه چې دې تند مزاجه وو. ډېر وخت واوړېدو... هغې خپلو د پینو زرو پایزیبونو ته کتل او د جانۍ څیره ورته مخې ته ودرېده. بیا یې ځ لو نازکو ګلابي لاسونو ته پام شو چې پکې د سپینو او د زرو ګوټې ځلېدې، د هغې په کټه ګوته کې درې ګوتیزه شیش ګوته هم وه او د په هندارې کې به یې خپل ګلوبند ولیدو. د ی کمخواب او د بنارسی ، رنګ ې فرق وو خو ګلونه یې یو شان وو. د هغې په لاس کې د نکریزو ک ورو ورو د ډېوې په رڼ ې کله سور او کله تور ښکارېدو، هم پدې رنګونو کې د هغې سر د بالښت سره و ګېدو او هم ه غونډه مونډه په پالنګ یوازې اوده شوه.

## پینځم باب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپېرۍ د خواښې په غېږ له خوبه راوېښه شوه نو بهر سپیدې چاودیدلې وې . نورجانۍ هغې ته د لمونځ غږ **کوو.** هغې تخت ته وکتل خو اکرام هلته نه و. . کوټې په یو ګوټ کې د اودس لپاره ځای جوړ وو، هلته یوه نوې ږه او چلمچي ایښودل شوی وو. ـاپېرۍ ژر ژر خپلې ګانې لیرې کړې او د لمونځ لپاره یې ځان تیاره کړو. ور ښځې را پاڅیدلې وې خو د ـې کوټې خوا ته ږک نه راتلل ښاپېرۍ نه پوهیده چې څه وکړي. نورجانۍ ـاغله، د کوټې دروازه یې ځان پسې وتړله او د ښاپېرۍ سره کیناسته... تر ډېره وخته یې هغې ته د راز خبرې کولې. **د لمر** خاته سره د ښاپېرۍ او اکرام د ناشتې لپاره د زهره له کوره چای پراټې او حلوا په یو لوی خوان کې راوړې شول. ـهۍ یو وارې ـیا ښاپېرۍ ناوی کړه او **دسوچا** تیلی د کار جوړه یې ورته غوسته. هغې ورته په کمڅۍ کې د رامبېل د ګلونو لړۍ هم تاو ې و چې سهار وختي شفا او جانۍ د خپل کور د بوټي نه راشوکولي او په تار کې ورته پیئلي وو. بیا د ښاپېرۍ تخت بهر په لان کې کېښودل شو و ټولو د ناوی سره چای وڅښلي. بصرۍ ټرور چې بیا رابښکاره شوه نو غې په لاس کې د رنګینو کاغذونو جوړه یوه آویزه نیولی وه. . ښاپېرۍ د کـ ټې د دروازې په سر دغه آویزه وځړول شوه، بیا هغې سپیلني لوګي کړل او په ټولو یې ـګرځول، ـرجانۍ ورله څه پیسې په لاس کېښودې.

د غرمې تر ډوډۍ پورې د چم ګاونډ ټولې ښځې نورجانۍ کورته راغلې د ښاپېرۍ بنارسي به یې پورته کړه مخ به یې ورله وکتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په لاس به یې پیسې کېښودلې. ځینو ـ پیسو پر ځ ی نورجانۍ
، هګۍ او کوچ کېښودل. مازدیګر مهال ځینو جینکو بیا تمبل
راوخیستو او د واده سندرې یې وئیلی. ماپیرۍ ښه خوشحاله
معلومیده او د جینکو په خبرو به یې کله نه کله بې واره وخاندل،
خو نورجانه یو څه نا څه ناکراره ښکاریده. کله چې به یې ولیدل
ـې د محلت ځوانی واده کړې ښځې ښاپیرۍ سره پټې پټې خبرې
کوي نو دا په ژر تخت ته رانږدې شوه او په زوره زوره به یې د
ځو پام ځان ته کړو.

ماښام بانګونو پر وخت د ناوی تخت ـنه کړی شو، د ښاپیرۍ
ه راغلی نایڼه هم پاڅیده او ښاپیرۍ ته یې تسلي وکړه چې سبا
ورپسې خویندې راځي. ـ هغې ملګرې شهی لا د غرمی د
ډوډۍ نه وروستو خپل کور ته تللی وه. ماښام په ډوډۍ کې درې
ڭلور ښځې پاتې وې چې د نورجانۍ د کور لوښې لرګي یې خپلو
ځایونو ته رسولی وو. ـ ښاپیرۍ ستړی وه او غوښتل یې چې
خو نورو ورځو په شان د ډوډۍ نه سمدستي وروسته اوده شي.
شپه هغه پخپل پالنګ یوازې نه وه ناسته نورجانۍ هم ورته
لنګې ته ډډه وهلی وه. نږور او خواښې څو شیبې د جامو او د
خبرې کولی بیا نورجانه د خپل زوی په هکله ورسره لګیا
شوه ـا چې هغه ډېر لایق وو او د کلی ټول خلک ترې سوځي.
ـاپیرۍ ورته د خپلې مور خبره او اکرام ته یې د خپل پلار د
پیرې کیسه وریاده کړه ـ نورجانۍ هغه زړې خبرې وبللې. د
کرام د قدمونو د ښکالو په آوریدو دواړه غلی شوی. دې چې را

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه شو نو مور ته یې په ټیټو سترګو سلام واچوو. بیا ولاړو په تخت کیناستو، نورجانۍ په ټیټ غږ زوی ته یو څو نصیحتونه وکړل او بیا پاڅیده. ام د دروازې زنځیر ترلو ته هم اوچت نه شو او هرې کېن په تته رڼا کې ښاپیرۍ ته د هغه نیم مخ ښکاریدو. نن هغې بنارسي لرې کړې او شنه لوپټه یې په نیم سر ځورنده وه خو اکرام بیا هم ورته نه کتل. هغه په فکرونو کې غرق وو، بل ملګرى پاینده خان ورته مخې ته ولاړ وو. بهر خاموشي خپره شوه خو دی راپاڅیدو، ښاپیرۍ هم ملا نېغه کړه. اکرام له کوټې بهر ووتلو او ښاپیرۍ ځان سره سوال او ځواب کول چې تمبه خلاصه شوه او اکرام یې ولیدو چې د غولی نه یې ځلیدلی کټ را دننه کړو. هغه د کوټې په بل ګوټ کې یو څو شیان اخوا خوا کړل او کټ یې پکې ځای کړو. بیا یې خپله شړۍ ورباندې وغوړوله، ئ یې وویستلی او په غځیدو کې یې مخ بلې خوا ته واړولو.

اپیرۍ چې دا ولیدل نو زړه یې آرامه شو، هغه له خپله ځایه را پاڅیده، وازې رنځیز یې وترلو، بیا خپل ټول کالي یې وویستل، وریښمین رومال کې یې غوټه کړل غوټه یې د بالښت لاندې کېښوده. هغه پخپل نوی پالنګ په آرامه وغځیده او د ویده کیدو ړاندې یې د هرې کین باتۍ مړه کړه. د هغې خوب د دروازې د زنځیر په کړنګیدو مات شو، ښاپیرۍ ژر ولاړه او تمبه یې خلاصه کړه. نورجانۍ د هرې کین سره را دننه شوه، پالنګ حال او په بل کټ اوده اکرام ورته د شپې ټوله کیسه تېره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې لا زوی ته د بدو ردو لپاره خوله جوړوله چې پدې کې ملا د حر بانګ پیل کړو. ړرځ د ښاپېرۍ لپاره د خوشحالۍ شېبې په ټولۍ کې راوړې وې. هغې ټولې خویندې راغلې وې، ورسره کلې نورې جینکۍ هم وې. نورجانۍ ورته ډېره ښه ډوډۍ کړې وه خو ډېرې خبرې یې نه کولې. ښاپېرۍ د زربفت جامې په غاړه کړې وې او ټولې ښځې ورته په کتلو نه مړیدې. د هغې د جامو او د کالو نه وینه هم ډېرو په لومړۍ ځل اوریدلی وو، شفا د هغې د ل سنګار شیان ټولو ته وربنودل.

ډۍ نه وروسته ښاپیرۍ خپل د پسول صندوق پرانیستو او ټولو جینکو ته یې ترینه یو یو سوغات ورکړو، د چا په لاس ړریښمین پرتوګانښ، چا ه د سوچه وریښمو رومال او نورو ته یې د ګلابو د وړۍ وړۍ شیشې ورکړې چې مور ورله په ښار کې اخیستې وې. ډیګر ټول خپلو کورونو ته روان شول نو ښاپیرۍ د لمونځ ه وروسته د قران تلاوت پیل کړو. نورجانه د پرون نه ړیاته په تشویش کې ښکاریده. بې اکرام پسې ځواب کړې وو د ماښام ډوډۍ دې په کور کې وخوري، خو په حجره کې مانه ډېر وو او خوابنې انړور یوازې ډوډۍ وخوړه.

ړرجانۍ نن زوی سره د سختو خبرو لپاره تیاره ناسته وه او کله چې اکرام بیا خپل شلیدلی کټ کوټې ته دننه کړو، نو په پالنګ ناستې مور ورباندې لکه د پیشو حمله وکړه. ښاپیرۍ کله خوابنې ته کتل او کله اکرام ته او نه پوهیده چې نورجانه ولې دومره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قهر وه. که د اکرام زړه نه کېږي چې د هغ سره دې په پالنګ اوده شي نو هغې ته دا ستونزه نه ښکاریده. بیا یې د اکرام خبرې ته یې پام شو، "ماټ هیڅ مه وایه، اِنړور دې راوستله... ارمان دې پوره شو... زه اوس دا ښځه کولی نشم... زما د ې د ټول خاندان نه نفرت دی. ښاپیرۍ هک پک پاتې شوه. اکرام له دوې دومره کرکه کوي...د دې اندازه ورته نه وه خو اوس د مور هغه خبرې چې پخوا ورته مبالغه معلومیدې، د مېړه له خلې یې پخپله واوریدې.

ورجانۍ خپل خ په ځپېړو ووهلو او په ژړا کې یې اکرام ته ېرې کولې. ښاپیرۍ نه پوهیده چې خوابښې ته تسلي ورکړي او که اکرام سره پخپله خبرې پیل کړي. هغه ناوی وه او په کلي کې ړیو ورځو د ناوې غږ به چا نه اوریدو. نورجانۍ اوس زوی ته جولې غوړولی وه او مینت زارۍ یې ورته کولې چې د هغې د توب نه دې حیا وکړي. اکرام خپلې ځپلۍ له پښو وویستلې او یوه ، په زوره په ځمکه وویشتله. "زما لپاره ښځې او پدې ځپلۍ ې هیڅ فرق نشته... ما درنه ښځه نه وه غوښتې... اوس چې دې راته کړیده نو خپله یې سمباله کړه.

د واده اوو و ې تیرې شوې او د اوومې د دود لپاره ښاپیرۍ تک شین کمیس او سور پرتوګ اغوستې وو. په سر یې ژېړه د جارجټ لوپټه وه چې په سپینو خالونو ډکه وه او پلوونو ته یې د ریښمو ځونډې لګیدلی وو. د هغې خوینډې او ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لې شوې، سندرې يې وويلې او نورجانی ورته بيا درنه ډوډۍ ورکړه. له دوډۍ وروستو پېرۍ لومړی د سيدانو کور ته په ولی کې او بيا خپلې مور کره د جينکو په بدرګه ولاړه. اکرام ې ورځ په ښار کې و، د ، په دفتر کې پيرنګې افسر بدل شوی وو او نوی افسر چې له کلکتې نه راغلی و، له ټولو سره ژندګلوی کوله. ورجانی دا خبره ځو وارې د کلی ښځو ته کړې وه چې د هغې د زوې لوې افسر راتلو. جينکو به ښاپېرۍ ته يوه شوخه خبره وکړه و ټولو به په زوره وخندل. هغې درې ځې مور کره تيرې کړې او زهره به د ښاپېرۍ خبرو ته غوږ ښنې وو چې د اکرام په هکله څه وايي. هغې ته دا عجيبه وه چې ۍ ټول وخت د خپلو جامو او د کالو خبرې کولی. هغه ئوشاله معلوميده خو زهره ته د هغې په سترګو کې هاغه ځلا نه ـکاريده چې د عابدې په سترګو کې يې د واده په دوېمه ورځ ليدلې وه.

د اعظم امتحانونه خلاص شوی وو او هغه هم کلی ته راغلو. په سر يې يوه پټۍ اوس هم تړلې وه چې د موټر د وهلو نښه وه. دا ـه اوس ټول کلي ته معلومه شوې وه. محبوبه هم له ډېرې مودې وروسته د زهره په کور کې ميلمنه وه او هغه د دې په قدر عزت اخته وه. د جمعې ورځ د اکرام د ډوډۍ لپاره وټاکل شوه خو ورجانی ځواب واستوو چې اکرام د اتوار په ورځ وزګارېږي. زهره په قهر شوه ځکه هغې قصاب ته د غوښې لپاره فرمايش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړی وو. بیرته یې اعظم ورپسې ولیږلو چې غوښه د جمعې نه بلکه د اتوار په ورځ پکار وه.

په هغه ورځ د زهره په کور کې یو واری بیا ګڼه ګوڼه شوه، مریم خپل ـل لوښې زهره ته ورکړې وو او پخپله به یې کله نه کله په دېوال سر ـه کړو چې وګوري څوک څه کوي. محبوبې یو لوی پتنوس له خواږو او له میوې ډک کړې وو چې خپل اړخ نه یې ناپېری سره ورلستوو. ـدې له کوره حلال کړې چرګان راوړي او مور ته یې پخولو لپاره ورکړې وو. ښفا په ښار کې د ګلابي فیرني د پخولو چل زده کړې وو او د پوډرو کڅوړه یې له ـانه سره راوړې وه. جانۍ ټول وخت د خور نه تاو راتاو ګرځیده ـ ګوندی لږه پرېکړې پسته یا بادام ورله ورکړي، خو شفا به ـرته پښې ودربولي. خر چې ګلابي فیرني د شیشو په دوو قابونو کې چکه شوه نو شفا هغه راوبلله او هغې ته یې د سپینو د ورقو پاڼۍ په لاس کېښودۍ بیا یې ورته چل ور وښودلو چې څنګه دا نازک ورق به په فیرني هواروي. انۍ پدې کار خوشاله شوه او چې خور ورته پرېکړې پستې او بادام په لاس ورکړل نو هغې په فیرني ودوړل.

. غرمې ډوډۍ تیاره وه، نورجانۍ راغله او د محبوبې سره په کټ اوچته ناسته وه. ښا ـۍ هم ورسره په څنګ کې ناسته او د دوی خبرې یې اوریدی. ورجانۍ د اکرام خبرې کولی، دا چې هغه څومره لایق وو ـ دا چې انګریز افسر ترینه دومره خوشاله وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې غوښتل یې دی ګلستان ته له ځانه سره بوځي خو هغه ورسره نه ځي. وایي چې دا کلې به نه پریږدم. زهره په یو تخت سترخوان هوار کړو او ټولو ته یې غږ وکړو چې ډوډۍ وخوري. اکرام تر اوسه نه وو راغلی، نورجانۍ پسې څو وارې ماشومان ور واستول، بیا یې اعظم ته غږ وکړ چې اوخښې راولي. هغه ډېر وخت وروسته راغلو او سترخوان یو ګوټ کې کیناستو، بیا یې ورو غونډې وویل، " اکرام لالا وایي چې ما ډوډۍ په حجره کې خوړلې ده، تاسو زما انتظار مه کوئ." د ښاپیرۍ د سترګو رکه شوه، د شفا شونډې ځورنډې شوې، عابدې د خپل ماشوم زوی په ډکه خوله کې نورې وریژې هم ور ومنډلې، محبوبې د رګ اندامونه ژر په ټولو وویشل. زهره د وریژو غورۍ د اعظم او جانۍ مخې ته کیښوده او قورمې غوښه یې ورته په لاسونو کې ورکړه.

ورجانۍ هیده چې که زوی یې نن د خوابښې کور ته رانغلو نو کلی به ور پورې وخاندي. له ډوډۍ وروسته هغه پاڅیده او اکرام پسې حجرې ته ولاړه. هلکانو ورته وویل چې زوی یې خپل کور ته تللی وو. ورجانۍ چې کور ته راغله نو څه ګوري چې اکر د واده په پالنګ غځیدلی و پښو ته ورته د ده ملګرې پاینده خان ناست وو. نورجانۍ به لیدو هغه وارخطا را پاڅیدو، هغې ته یې سترې مه شې وویل او په منډه له کوټې او ورپسې له کوره ووتلو. جانۍ لا پدې خبره ځان پوهاوو چې پاینده خان د دې د ی په کوټه کې څه کول. هم هغه وخت اکرام هم له کوټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتلو او ـ مور په سترګو کې ې قهر ولیدو. نورجانۍ ورته
وویل، " خوابنې ر ته ولاړ شه او ښځه دې راوله." اکرام بې له
ه بحث کوځې ته روان شو، مور ورته په دروازه کې ولاړه وه
او کله چې وې لیدل چې اک ام ښي لاس ته د حجرې پر ځای ګس
لاس ته د زهره د کور لاره ونیوله نو هغې یوه اوږده ساه واخیسته.

د زهره د کور دروازه خلاصه وه او جانۍ د ګاونډیانو د وړو سره
په درشل ناسته پیتاوې کول. د اکرام په لیدو هغې دننه منډې کړې
او مور یې خبره کړه. ناڅاپه د کور په خلکو کې بیا یو حرکت
پیدا شو او ټول راپاڅیدل. د اکرام هرکلی وشو او دی په یو کټ
کېناستو چې ور دې نوی ګلداره څادر غوړیدلی و. مخامخ په بل
کټ محبوبه او ښاپېرۍ کیناستې، د دواړو کټونو په منځ کې د دوو
ګینو میزونو د پاسه چای او رنګارنګ خواړه کیښودل شول.
ډرې ښځې و ماشومان خو او شا په نورو کټونو ناست وو ځوک
پکې ولاړ وو او د ټولو سترګې کله ښاپېرۍ او کله به اکرام ته
شوې. شفا د چم ګاونډ ماشومان له کوره وویستل او مریم له دېواله
اکرام ته سترې مه شي کړې وو. هغه ډېرې خبرې نه کولې او
کله نا کله به یې د محبوبې د خبرو لنډ ځواب ورکړو. عابدې او
ورته ځو ځو وارې د کلچو او د شیرینۍ قابونه وړاندې کړل
اکرام به د چایو د پیالی نه یو ګوټ وکړو او کله به د چا په
ه موسکی غوندې شو. د ښاپېرۍ او د شفا ځینې ملګرې د
غولي په یو ګوټ کې پلو کې په څه صلاح مصلحت اخته وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکرام اخوا ،بخوا کتل، هغه ویزاره ښکاریدو او اخر یې عابدې ته
مخ واړوو چې، "موږ به ولاړ شو." عابدې په یوی شوخی موسکا
اکرام ته وکتل او بیا یې وویل، " ښه ده موږ به ښاپیری نوره نه
ایساروو.' اکرام پښې ښکته کړې چې څپلی . پښو کړي خو هلته
د ده د تیله دارو څپلیو جوړه نه وه. بوه څپلۍ وه او بله د ناوی
,یندو ترې پټه کړې وه. دې جینکو پټ پټ خاندل خو بیا شفا
ات وکړو او اکرام ته یې وویل، " څپلۍ خو په پیسو کیږي."
؛ولو جینکو په زوره وخاندل، ښاپیری تکه سره شوه او د بانړو
دې یې اکرام ته وکتل. هغه یوه څپلۍ په پښه کړه، بله پښه یې د
کټ په بازو کیښوده او ودریدو. ډ هغه سترګې له قهره ډکې وې،
عابدې ته یې مخ واړوو او ورته یې وویل، " څپلۍ راکړه که نه
خور مو هم د سې ټول عمر له ځانه سره کښینوئ." د جینکو خندا
بنده شوه او خولې یې وازې پاتې شوې. عابدې غټې ملالی
ـترګې له اوښکو ډکې وې او زهره غو تل چې هم په هاغه څپلۍ
په اکرام راباندې کړي او دا سر ورله مات کړي. هغې د اکرام د
؛رتلو لپاره خوله خلاصه کړې وه خو محبوبې ته یې پام شو چې
سترګې یې ورته برندې کړې وې. هره ځان قابو کړو، عابدې ته
یې د سترګو اشاره ؛ړه، هغې یوې پیغلې ته سر وخوځوو او دې
جینی د خپلې لوپټې د پلوو لاندې پټه څپلۍ را وویسته. بیا ورو
غوندې ولاړه او د اکرام مخې ته یې هغه څپلۍ کیښوده.

ېری پدې څو شپېو کې له خپله ځایه پاڅیدلی او خدای خبر کله
محبوبې ورته بورقه په سر کړې، دوو وړو جینکو ته د هغې جامو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنډوکی او د خوړو تشت په سر ښنې وو. اکرام نور هیڅ **و** نه
او د کوڅې دروازې ته روان شو. ښاپېرۍ نه هیر وو چې د
و سره خدای په اماني وکړي، د هغې ملالو سترګو د اعظم لټه
کوله خو وروړ یې **د** وخته د اکرام په تندي پوهه شوې او د کلی د
ی پورې غاړې ته د یو پټي په دېوال ناست وو. هغه ډوبیدونکی
ـ ته کتل چې ټول اسمان یې د ده د زړه وینو په شان سور کړې
ږ. ښاپېرۍ د خپلو اوښکو د پټولو لپاره په بورقه کې مخ پټ کړو
او اکرام پسې له کوره ووتله.

شپږم باب

## ۱۹۴۱

انی نن سحر مور ته یادونه کړې وه چې د میاشتې دویمه نېټه وه
**او** زهره د محبوبې کارونه ژر ژر خلاص کړې وو. ټوې یې هم
د شپې پخولی وه چې په وخت کچرۍ ته ولاړه شي. **د** هرې
میاشتې په دویمه نېټه به دا کچرۍ ( محکمې) دفتر ته ورتله. سید

(c) ketabton.com: The Digital Library

م د انګریزانو په پوځ کې چې څومره موده کار کړې وو، په هغې حساب اوس هره میاشت کونډې ته یې د پینشن (تقاعدي) پیسې ورکولې. پورا ه روپۍ به زهره کور ته راوړې، د اعظم د ښوو ي د میاشتې خرڅ به وربانديې کیدو. پدې دفتر کې د زهره ډېرو نو کونډو سره پیژندګلوی شوې وه. . هغه ځای یو بابو(کلرک) یوسف د هر چا فایلونه اتل او ټول فارمونه او کاغدونه به یې ورته برابرول. کله کله به چې زهره د دویمې نېټې نه پاتې شوه نو په بله ورځ به ورتله، یوسف به ورته چای هم اوغوښتلی او جا ی سره به یې یوه نیمه ټوکه هم وکړه. دواړو ته یو بل د ژوند ځینې اړخونه معلوم شوې وو. زهره خبره وه چې ف هره ورځ په بایسیکل د خپل کلي نه ښار ته راځي. په کلي کې کور او مزکې یې لرلې او د مو ر او د ښځې خبرې به یې کولی. یوه ځ چې زهره ترې د اولادونو پوښتنه وکړه نو هغه غلی شو، بیا یې ه د ښځې د نري رنځ حال ورکړو چې علاج یې روان و.

زهره ډېره خفه شوه ځکه یوسف د لو کالو وو او پدې ځوانۍ کې یې ډېر په حوصله د ښځې د نځ علاج کوو. هغه تر اتم جومات پورې سبق ویلی و ر زهره ته به یې یادوونه کوله چې په جانۍ دې سبق ووایي. نو د زهره لپاره یوازې د اعظم سبق تر ټولو مهم وو. د کرم غوښتل چې زوی یې ډاکتر شي. هم دا وه چې عظم په ښار کې د انګریزانو په یو داسې ښوونځي کې سبق وئیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د میاشتې فیس به یې ترې اخیستو. کال کې یو وارې به لس
روپۍ د امتحانونو (آزموینې) د داخلې او د کتابونو اخیستل کیدی.

سږ کال فصل بیا ښه نه وو ری، زهره ټول غنم نه وو خرڅ
کړي. یو هټۍ وال ورته ویلی وو چې په جنګ کې زور
دا شو نوغنم به نور هم ګران شي، د زهره د کلی کوټه ټوله د
غنمو په بوجیو ډکه وه. ې د پینشن روپۍ راوړې، محبوبې هم
ورته د مزدورۍ درې روپۍ په لاس کینودې نو زهره په کور کې
حیرانه کیناسته. د اعظم د سبق پیسې نه وې پورا تېر ځلې هغې د
حبوبې نه لس روپۍ پور اخیستی وې او تراوسه د هغې دوه روپۍ
ورته پاتې وې. پیسې یې ترې نشوای غوښتلی او لاسونه
یې مروړل چې خپلو لیچو ته یې پام شو. د سرو زرو دوه نازکې
کړې ورته سید کرم د اعظم په زیږیدو جوړې کړې وې او د تېرو
دوو کالو په سختو کې هم زهره دا کړې نه وې رڅې کړې، خو
اوس بله چاره نه وه. د اعظم د را و وخت وو، هغې جانی ته
ډوډۍ ورکړه، پخپله یې دوه نمرې وخوړې او لور ته یې وویل، "
ه بازار ته ځمه، د ورور نه بغیر بل هیچا ته دروازه خلاصه نه
کړې.

زهره منزل د زرګرانو په بازار کې وو، سورج مل زرګر پخپلې
ۍ کې ناست د یو امبل پترې شمېرل او زهره یې ولیده نو په
حترام ورته پاڅیدو. هغې ا هم څو وارې د سورج مل د دکان
نه د خپلو او کلي والو لپاره کالي پترې جوړ کړې وو، نن هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهره په ليدو سورج مل خوشاله شو او په بازار کې تيريدونکی د چای والا هلک ته يې د چای راوړو وويل. خو زهره ورته د لاس په اشاره وويل،" مه راغواړه چاې ...سورجه وروره کالي نه جوړوم. سورج مل په خندا وويل، " ه نو اوس به ته د ې ځايه ه چايو ښنکه ځې." زهره دکان ته وروختله او په فرش غوړيدلې قالين سره جوخت يې چپلکې کوزې کړې. هغې بورقه ه ځانه کلکه تاو کړه او کيناسته. سورج مل د ې د پښو حال وليدو، بيا يې د ه سترګو کې د فکر سيوری ورته ښکاره شول نو په لاس کې نيولی اميل يې په يو ډبي کې بند کړو او زهره ته ې مخ ووګرځوو. ڼه چل دی ببو؟" . سورج مل د پوښتنې سره د زهره زړه را ډک شو، خپلې شونډې يې وزبيښلی او د لاسونو کړې يې ورته وويستلی. " دا راته خرڅ کړه... په هر څو چې کيږي... د زوی د سبق لپاره لس روپۍ پکارې دي." دسورج مل مخ سورشو، بيا يې لږ په خفګان زهره ته وويل، " دا زه درته ومره بې غيرته ښ ارم چې ستا د لاس کړی به خرڅوم؟"

زهره يو څه حيرانه شوه، بيا يې ورته وويل، "سورج وروره...زه خبره يم چې د ک له امله سره زر ارزانه دي...خو ته..." د ې خبره نيمګړې پاتې شوه. سورج مل مخ واړوو او ورته يې وويل، " خپلې کړی دې په لاسونو کړه، زه به درته لس روپۍ درکم." زهره يو شيبه غلی وه، بيا يې ورته وويل، " که روپۍ ، راکوې نو سود به هم اخلې؟" سورج مل اوس رښتيا په غصه شو، لږ په زوره يې زهره ته وويل، " دومره بې عقله خو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـکارې... ، لس روپۍ بې سوده درکوم، هر وختې چې دې پېدا کړې ماته يې راوړه." بيا غه پاڅيدو او د دوکان په بل سر کې ګيدلی د اوسپنې د سيف (لاکر) مخې ته کيناستو. زهره خپلې کـړې بېرته په لېچو کړې او د زړه درد يې ـترګو ته کډه کړې وه. سورج مل په مهربانۍ د هغې اوښکې نه ودرېدې، پوهه نشوه څه وختې يې لس روپۍ د کميس په تخرګ کې جوړ لوی جيب ـنکته کړې، کله يې چای وڅښلې او سورج مل ورته نور څه وويل، بس د هغه يوه خبره به يې بيا بيا غوږ کې اوريده. " زه دومره غېرت نه يم چې ستا د لاس کړې به خرڅوم."

په کلي کې د مايا هټۍ وه، د خپل معذوره پلار او دوو ورونو سره ړی د هټۍ شا ته کور کې اوسيدل. د کلي ماشومانو به د مايا ړکان نه د ګوړې ځلوبۍ، املوک، چڼې او نور خواږه اخيستل. ـنګارنګ دالونه، وريژې،هګۍ او د موسم ـابه به يې هم خرڅول. د کلي زيات خلک خوار وو او پېسې به چا سره نه وې. دسودا لپاره به خلکو مايـ ـه غنم، جوار، هګۍ يا شوده وړل او بيه به يې مايا پخپله ټاکله. خو عجيبه خبره دا وه چې کله به يو ماشوم ورته ـېسه ونيوله نو هغې به ورته ګوتې نه وروړلی. د مايا د هټۍ قانون دا وو چې پېسه به دې ورته په ځمکه غورځوله او هغې به ـاندې خپله پېښه راښکله. ـه خاورو کې به يې دا پېسه وموښله نو بيا به يې راواخيسته. هغې چېرې ه . کلي د نورو ښځو سره يو ـای د ويالی نه اوبه نه وړلی ـنه به يې څوک خپل کور ته دننه ـېښودل. زهره چې د سورج مل د دکان نه راووتله نو د مايا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلند ور په زړه شو. عجیبه خبره دا وه چې د مایا دواړو وروڼو د
ي د هلکانو سره هر ځای منډې وهلې. په ودونو کې به یې
غوښې هم خوړلې. زهره په ټوله لاره د مایا او د سورج مل په
هکله سوچونه کول. ېلې کوځې ته رانږدې شوه نو دشفا د
ـې شیاما مور یې ولیده چې د دوي په ګاونډ کې یې کور و.
دواړو تر خپلو کورنو یو بل سره زړه خواله وکړه او بیا د دروازو
ځیرونه یې وشرنګول.

م نړیوال جنګ کې زور پیدا شوی وو. د انګریزانو استازي
ه په کلیو بانډو ګرځېدل او ځوانان به یې پوځ کې بړتي کول خو
لاورخان خپل ټول زامن خوندي‌ساتلي وو. د کلي خلکو به ویل
چې هغه سرکاري کسانو ته پیسې ورکوي او پکې یې څو سره
ملګرتیا یې لرله. نورجانه سخته وېریده چې هسې نه زوی ورله
پوځ ته وربدل کړي. زهره سره هم وېره وه چې اعظم به ترېنه د
ـوونځي نه یوسي خو داسې ونه شول. د ښاپېرۍ د واده دوه
میاشتې پوره شوې او اکرام قبایلي سیمې ته بدل کړې شو. په بنو
کې د مدیریت په دفتر کې د یو بابو ضرورت وو، اکرام له خدای
ورځ ورکړه. هغه خپل بکس بند کړو او مور ته یې ـویل، " خوښه
دې خپله... که اِنږ ـر ځان سره ساتې، وې ساته، زه یې له ځانه
سره نه بیایم." ـاپېرۍ اوس د جامو او د کالو د طلسم نه راوتلې
وه خو هغې ته خپل جرم نه وو څرګند. د پلار د څپېړې ګناه ګاره
وه هغې د ناویتوب ورځې اوس په تیرېدو وې. د چم ګاونډ
ځې به راتلې او نورجانه به یې په سترګو سترګو کې پوښتله چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انړوردې څه لري؟" مانا حامله ده که نه؟ نورجانې به د دواړو
ړنو ګوتې په هوا کې تاو راتاو کړې، شونډې به يې هم ورسره
ڼې کړې، مې لکه چې دا ټول د ښاپېرۍ ګناه وي.

ې به کله ناکله د ښاپېرۍ خبر اخيستو خو زهره او خويندې يې
لا مه ددې حالاتو نه خبرې نه وې. په ښار کې د زهره زړه
جوړ وو چې د اکرام خپله سخرګنۍ نه وه خوښه، ولې ـ ښاپېرۍ
ايست ته به تېينګ نه شي او پخپله به ورسره ژوند کوي. د کلي
به ښځې راتلې نو ز ه به د ښاپېرۍ حال ترې وپوښتلو او په
ظاهره هرڅه سم وو. هغې کالي او جامې هغه څه وو چې د
ځو لپاره د خوشالۍ ا د ارامه ژوند نښې وې. عابده اوس بيا د
ماشوم د زېږولو په انتظار وه او له څو مياشو راهيسې ښار ته نه
وه تللې. زهره چې د اکرام د نوې نوکرۍ نه خبره شوه نو دا
پوښتنه ورته پيدا شوه چې ښا پرۍ له ځانه سره بيايي او که نه.
غې د شفا سره يو څو وارې زړه خواله وکړه، خو پدې پوهه وه
چې د دې هره خبره به يې ردوله. ښاپېرۍ په هکله به شفا تل د
خور پره کوله، يو وارې هغې مور ته ډېره په تونده لهجه خبره
ګرځولې وه. پداسې وخت کې به زهره دلګيره شوه او ځان به يې
واځې احساسوو. محبوبې ته به يې د اولادونو د نافرمانۍ خبره
وکړه نو هغې به هم ورته نصيحت پيل کړو چې کلي ته ډېر ک
اتګ مه کوه. شفا به د محبوبې د لور مينا سره د لاسي کارونو
مرکز ته ورتله، ی به ټوله ورځ د انګريز پوځيانو لپاره د خړو
ړيو نه سويټرې (جمپر) اوبدلې. زهره د محبوبې خبره منلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ږوازې مړي، ښادی له به کلي ته لله، شفا، اعظم او جانی به يې
م له ځانه سره نه بيول. سحر به ولاړه ا کوز ماسپښين به د پيو
خرڅوونکو ګوجرانو ه تانګه کې ښېرته راغله. نن سحر زهره
ځواب شوې وو چې د دلاورخان مشره ښځه مړه شوې وه،
غې شفا او اعظم ته ډوډۍ پخه کړه، جانی يې له ځانه سره کلي ته
بوتله.

ړی د وير او جنازې نه وروسته د کلي ښځې يو يو کټ کې
څلور څلور کيناستې يو بل ته يې سرونه ټيټ کړي وو او په خبرو
بوختې وې. زهره ، تادي کې وه، غوښتل يې چې ښار ته ژر
، ورسوي، خو په راپاڅيدو کې يې د يوې ښځې د خولې داسې
خبره واوريدله چې د غوړونو نه يې لمبه راپورته شوه. د ښاپېرۍ
په هکله خبرې کيدې چې د نورجانې سره د مړی له کوره په وتلو
وه. عابده هم ورسره ولاړه وه، " ښاپېرۍ خواره وچه ده...نه نه
ممی دايې ليدلی ده هغه وايي چې ښاپېرۍ خو تر اوسه جينۍ ده."
زهره بورقه په سر، نېغه د مړي د کور نه ولاړه او د نورجانې
مخې ته ودريده. ې او ښاپېرۍ دواړو د مور تندې وليدو نو
، شوې چې جنګ جوړيږي خو په زهره لکه چې اور بل وو.
هم هلته يې د نورجانې پلار نيکونه ور ياد کړل، په چيغه يې ورته
يل چې خپله لور به په ښار کې لوی ډاکتر ته د معاينې لپاره
ياي چې څرګنده شي پ ښاپېرۍ کې څه نقص وو. هغې ښار ته د
ـ اراده پرېښوده، مناف ماما ته يې وويل چې د محبوبې کور ته
ولاړ شي او ورته ووايي چې شفا او اعظم د شپې لپاره خپل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ور وغواړي. بیا هاغه زهره چې لونو کره به یې ورځ نه تېروله د ښاپېرۍ سره یې شپه تېره کړه چې اصل حال نه ځان خبر کړي.

نورجانې ډېره هڅه وکړه چې په آرام او تسله خبره سره کړي، خو . کلي ځینو ښځو زهره ته ویلی وو چې نورجانې په ښاپېرۍ تاپه لګولی ده چې دا وچه ده. زهره ټوله شپه ناارامه تېره کړه، سحر بانګ سره راپاڅیده ښاپېرۍ خپل یو څو جوړه جامې او کالي غوټه کړل او ـ لمانځه نه وروسته مور او لور د شنډ توت به لورې رواني شوې. نورجانه پخپلې کوټې کې ملاسته وه او هیڅ خبره نه وه چې دوی څه وختي له کوره ووتلې. سحر د چایو لپاره چې راپاڅېده نو د ښاپېرۍ کوټې ته ، وکتل، هلته د دروازې زنځیر ړه لوی د اوسپنې قلف ځوړند وو. نورج ـه د کوڅې د دروازې به درشل کیناسته او زهره ته په ښېرو سر شوه.

"خدای دې د تورو خاورو لاندې کړه چې زما د زوی کور ورانو ـدای دی زوی ځواني مرګ کړه." د چم ګاونډ هغو چې زهره ته یې د نورجانې خبرې کړې وې، اوس د هغې سره د زهره په هکله په خبرو اخته وي.

## اووم بلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهره ستړې ستومانه په تخت پرته وه، لږه شېبه وړاندې محبوبه
ینه خپل کور ته تللې وه. جانۍ او ښاپېرۍ دواړه په پخلنځي کې
اخته وې او کله نه کله به د دوی د خندا غږ د زهره د فکرونو لړۍ
ماته کړه. سې ښکارېده لکه چې ښاپېرۍ تل هغې سره وه، د
هغې د یوې خبرې نه هم داسې نه ایسیده چې د واده وې ښځې
ژوند به یې تېر کړې وي. سحر چې دوی ښار ته را ورسیدې
نو اعظم او بېرۍ یو بل ته غاړه غړې شوی وو. دواړو دومره
وژړل چې زهره ورته حیرانه وه. د ی په ټولو اولادونو کې
یوازې عابده وه چې زهره سره به یې ډېرې خبرې کولی، اعظم ن
ډېره موده وروسته خور لیدلی وه او باذ، یې کوله چې ښوونځي ته
ولاړ نشي. و زهره وربانديې سترګې راوو ستې او ښاپېرۍ هم
ورته اشاره وکړه نو دی ولاړو. شفا به لږ ناوخته تلله او د مور په
ږه هغې نن له بازاره ورته غوښه او سبزي راوړی وو، بیا د
محلت د نورو جینکو سره له کوره وتلی وه.

ره پخپل زړه کې کرل ریبل چې څرنګه به د ښاپېرۍ سره
خبرې کوي. محبوبې ورته د یو کلینک پته ورکړې وه چې رام چند
ډاکټر او د هغې ښځې سیتا په ګډه پرانستی وو. ار ډېرې ښځې
به د علاج لپاره سیتا ته ورتللې، محبوبې ورته دا هم ویلی وو چې
د غرمې نه وروسته دومره بیروبار نه وي. س تر ټولو ګران
کار د زهره لپاره دا وو چې ښاپېرۍ رضا کړي. خو د غرمې د
ډوډۍ نه وروستو کله چې زهره هغې ته غږ وکړو چې کلینک ته د
ورتلو لپاره جامې بدلې کړي و ښاپېرۍ په چپه خوله د مور خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنله. د زهره زړه ارامه شو، داسې ښکارېده لکه چې ښاپېرۍ د ابدي ځای نیولی و. تلو کې زهره جانۍ ته یو وارې بیا تاکید وکړ چې دروازه دې هیچا نه خلاصوي تر څو بره کړکۍ نه یې راتلونکی لیدلی نه وي.

رام چند کلنیک د ښار د تانګو اډې ته نږدې و. د لوی سړک په غاړه جوړه دا ودانۍ په اصل کې یو پخوانی لوی کور وو چې د رام چند نیکه جوړ کړی وو. د لاندینۍ پوړ په دوو برخو وېشل شوی و. د لوی برنډې مخې ته یوه وړه باغچه وه چې د سړک نه ورته لاره ورغلې وه. اغچې یو خوا لاره د سرو او بله د ښځو کلنیک ته ورتله. هاغه خلک به چې د مریضانو سره راتلل بهر په برنډه ېې په لویو لرګینو تختو ناست وو. زیات شمېر به یې د انګو کوچوان، د موټرو ډرېوران او د خدمت ګارو و. زهره او ناپېرۍ د بر ه دروازې د انتظار یوې کوټې کې ناستې وې. یوې نرسې په رجسټر کې د ښاپېرۍ نوم،سن او نور معلومات لیکلي و. په معاینه خانه کې اوس نور یڅوک نه وو ځکه زهره ورته ویلي وو دا خبره به یوازې ډاکټرې ته واي. نرسې دوی ته یوه پرچه لیکلی وه او کله چې د دوی وار راغلو نو د پرچې سره یې دننه ور واستولی.

ډاکټ ه سیتا یوه ښایسته زړه ښځه وه، عمر یې له زهره ډېر علومېدو، خو ویښته یې تک تور وو. شنه ساړي یې تړلې وه، د ه پرې سپینه چپنه او په غاړه کې یې دوربین(ستېتکسوپ) وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو قلم یې په لاس کې وو او په ځینو کاغذونو یې ژر ژر لیکل کول، ـاپېرۍ یو څه وارخطا شوه. ډاکتره سیتا چې په کوم میز او چوکۍ ناسته وه، هغې نه علاوه پدې کوټه کې یو بل اوږد میز وو چې سه پرې سپین ځادر غوړېدلی وو. دې میز سره په څنګ کې د اوسپنې په چوکاټ ، آبي رنګه پردې لګیدلی وې. ډاکترۍ خپل لم کېښودو او دواړو ته یې د کیناستلو اشاره وکړه، بیا یې ښتنې پیل کړې. زهره په پښتو کې لګیا وه او ښاپېرۍ په ماته ږده اردو کې د مور خبرې ورته ژباړلې. یو څو خبرو نه وروسته سیتا راپاڅېده، زهره ته یې بهر د انتظار په کوټه کې د کیناستلو وویل او زهره چې له دروازې وتله نو شا ته یې ولیدل ، سیتا ښاپېرۍ هغې لوی اوچت میز ته بیوله.

د انتظار په کوټه کې یو دوو ښځو د زهره سره د خبرو هڅه وکړه چې هغه وخت صفاي ، کوله، خو د هغې ټول حواس دننه د کټرې او ښاپېرۍ سره پاتې وو. د هغې د انتظار شیبې په پېړیو وغځیدې او چې ډاکټره یې په دروازه کې ولیده نو زهره د خپل زړه درزا آورېدی شوه. . ډاکټرې په اشاره هغه یو وارې بیا دننه ولاړه، ښاپېرۍ خپله سپینه بورقه بیا په سروله چې معاینې لپاره یې لیرې کړې وه. . سیتا پوښتنې پیل شوې، او اخر یې زهره ته ویل، " ستا په لور کې هیڅ نقص نشته...دا تر اوسه جینۍ ده، دې ته سړي لاس هم نه دې ور وړی." زهره ډېره حیرانه نشوه ځکه ډاکټرې یوازې د هغې د زړه شک لرې کړې و، د کلي ښځو او بیا ه تېره شمۍ دائی ریښتیا وئیل. د ماښام د بانګونو نه وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره او ښاپېرۍ په کور کې وي. د لږ دمې نه وروسته زهره بیا له کوره ووتله او اوس د دې مخه د محبوبې کور وو. واړو ښځو تر ډېره وخته دننه په کوټه کې د يو بل سره زړه خواله وکړه او زهره پوره په تسله بېرته ېې را وګرځيده.

ښاپېرۍ او د اکرام د طلاق خبر په ټول کلی کې خپور شو، دا ځلې زهره د نورجانې د خبرو نه وړاندې د کلي عتبرو ښځو ته ټول حال وئيلې وو. دلاور خان نورجانې سره پخپله خبرې وکړې او ورته يې وويل چې پخوا له دې چې نور د ښاپېرۍ ژوند برباد کړي زوی ته دې ووايي چې پېرۍ ترې خلع اخلي. نورجانې بيا هم پدې معامله کې مالي ګټه وکړه او د خلع په بدل کې يې د اده ټول کالي او جامې يې له ښاپېرۍ واخيستې. د اوسپنې هاغه صندوق چې هغې د زهره له کوره راوړې وو بېرته ورته ور استوو او ښاپېرۍ د خپل مهر ځمکې نه هم لاس واخيستو.

زهره د زمکې او د کالو جامو په غم کې نه وه بلکه په دې خوشاله چې لور يې څه تاوان نه و کړې. په هغه ورځ چې د ښاپېرۍ د ژوند فېصله وشوه او دا د مور په کور کې کيناسته، نو زهره پرې د خپل زړه بړاس وويستو. هغه په زوره زوره لګيا وه او ښاپېرۍ ې اوښکې تويولې. شفا او اعظم غلي ناست وو او مور ته يې سو وېيلې. په لومړي ځل دوي ته احساس شوې و چې د مور زړه يې د کاڼي نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړی د یو څو میاشتو د ځنډ نه وروسته بیا خپل کتابونه راواخیستل. د نځم جومات(صنف) امتحانونه نږدې وو، هغې له خپلې ی استازې سره خبرې وکړې او په یو میاشت کې یې رته ځان تیار کړو. شفا او ښاپیرۍ دواړه یو ځای د پنځم صنف نه ووتلې. د چوتۍ پر وخت لاره کې یې کچه شنه امونه واخیستل، ته راغلې نو ښه مرچ او مالګه یې ورباندې دوړول او په خوند خوند یې خوړل. زهره دواړو ته حیرانه وه چې دومره تراوه دوی څنګه له ستونې تېروي. د شفا داسې مساله داره شیان خوښ وو، کله کله به یې د محبوبې د لور سره یوځای د املې شربت جوړ کړ. کچه شنه انګور به یې وټکول، او شوملې به یې سره ګډې کړې، بیا به یې دا د شیپې سړې ډوډۍ سره خوړل. د ژمې سختو یخو شپو کې به یې د ګوړې شربت جوړ کړو، ټوری به یې پاس په کوټه کېښودو، حر به د کنګل شوي ړری نه وړې وړې ټوټې ټولو ته ورکولې چې واخلئ... ما خوږه واوره جوړه کړېده.

زهره به تل شفا ته له چې دا بلاګانې به یې ناروغه کړې، خو هغې به نه آوریدل. ن هم د کچه امونو د خوړلو وروسته یې وښې ل چې په خېټه کې یې درد شو. په ښار کې هېضه (کولرا) خپره وه و زهره چې شفا بې حاله ولیده نو سمدستي یې تانګه اوغوښته او دا یې د رام چند کلینک ته ورسوله، ښاپیرۍ او جانۍ دواړه ورسره وې. په کلنیک کې په دې ولا اخته ډېر نور مان هم راوستل شوی وو. یوې نرسې د ټولو تبه معلوموله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې بلې خلکو ته ستنې لګولې. ډاکټره پخپله هم ډېره بوخته وه او
. وارې د انتظار کوټې ته راغله نو زهره یې ولیده. دوی ته
.دې شوه، ښاپېرۍ سره یې څو شېبې خبرې وکړې، بیا یې
ورته وویل د خور خیال ساته، علاج پر ځای پرهیز ضروري
وي. زهره د شفا په حال پرېشانه وه، هغې دا ونه لیدل چې سیتا
څومره ر وخت د ښاپېرۍ سره خبرې کولې. ببرته چې کور ته
اغلې نو ښاپېرۍ مور ته وویل، " ډاکټر سیتا وایي چې د دوی یوه
نرسه په کار ده...ماته یې وئیلي دي چې که د نرسانو کورس کول
غواړم نو دوی به راته په کلنیک کې کار راکړي." خو د کار نه
وړاندې د ښاپېرۍ لپاره یو کال د نرسانو په ښوونځي کې سبق
ضرور و. د زهره دا خبره نه وه خوښه...د نرسانو کار خو به
یوازې مسیحیانو او هندوانو جینکیو کول. ساپېرۍ سپینه بورقه په
سروله، بې له اکرام بل سړی د دې مخ هم نه وو لیدلی، خو د
محبوبې په مشوره ره د نرسانو ښوونځي ته ولاړه او وې لیدل
چې هلته ټولې ښوونکي ښځې وې. څو مسلمانې جینکۍ یې هم
یدې او چې زړه یې تسله شوه نو ښاپېرۍ یې پکې داخله کړه.

ه ښار کې به یې د انګریزانو په ـهېټرو (تیاتر) کې هندي فلمونه
م ښکاره کول. زهره یوه ورځ، ښاپېرۍ د نرسانو ښوونځي ته
ورسوله او له هغې مخې د سودا نه وروستو کور ته روانه وه چې
په لاره کې یې د نغارې غږ واورېدو. خلک د دې غږ په لوري
روان وو او زهره هم په خلکو کې شامله شوه. یو تن د سړک په
منځ کې نغاره ډنګوله او بل ورته په ته د یوې ښځې او سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ِنګين تصوير نيولی وو. ي تخته سپين او تور ټکي هم ليکلي وو خو زهره پرې نه پوهيده. نغارچي په هندي ژبې کې اعلان کوو ُ، " د بمبيی نوميالي ستوري اوس په بايسکوپ کې ګورئ." نغارچي په خلکو پاڼې هم وېشلې. د زهره ګوتو ته هم يوه پاڼه راغله چې دې سمدلاسه تاو راتاو کړه او د تخرګ په جيب کې يې داسې کېښودله، ته به وايې د روپۍ ټ چا ورله ورکړې وي. محبوبې چې د زهره د لاسه پاڼه واخيسته نو په خندا شوه، پدې کې هم ښځې او د سړي د څېرو سره د بايسکوپ اعلان ليکی وو. هغه پخپله يو دوه وارې د خپلو خپلوانو سره د بايسکوپ يدو ته ورغلی وه او پخپل کور کې ناستو ټولو ښځو ته يې څو څو وارې د دې کيسې کړې وې. د زهره شوق يې چې وليدو نو لوظ ي ورسره وکړو چې بل ځلې به دا هم له ځانه سره بيايي. خو زهره ته دا موقع چرې پېدا نشوه.

د ار په ډېرو کورونو کې خلکو د هرېکېن پر ځای د بجلي (برېښنا) تارونه ګولې و. د محبوبې په کور کې خو د يخ باد لپاره يوه پکه هم وه او و وارې د زهره د کور خاوند سره يې خبره وکړه چې په کور کې ورته رېښنا راولي، خو هغه به ورته بانې جوړولې. اخر چې د دې کور ته هم بجلي راغله نو د کور خاوند ورباندې کرايه زياته کړه. د پېځو پر ځای د مياشتې کرايه شپږ روپۍ شوه او زهره چې د بايسکوپ لپاره کومې پيسې ببلې کړې وې هغه په کرايه کې ولاړې. اوس هر ماښام د اعظم، جانی ا پدې خبره جنګ وو چې د لوی کوټې رڼا به څوک بلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر چا ته دې خبر خوند ورکوو چې هاغه تور بڼن کته کړې چې
په کړپ سره به يې په کوټه کې رڼا خپره کړه. د شپې خوب په
کې به هم نانډرۍ وې چې تور بڼن به ځوک بره کړي.
زهره، شفا ته مينت زارۍ وکړې چې هغه د ماشومانو چلن
پرېږدي نو د اعظم او جانۍ ترمنځ دا فېصله وشوه چې يو تن به د
رڼا لګولو پر وخت په چ کۍ ودرېږي او بڼن به ښکته کوي، بل به
رڼا بندولو پر وخت بڼن پورته کوي.

ورځې نه وې تېرې چې محبوبې د بجلۍ په زور توديدونکې
ي(اوتو) راوغوښتله او د محلت ټولې ښځې د هغې کور ته
وار په وار ولاړې چې دا نوی "شې" ګوري. پدې محلت کې يو
ځو کورونو کې ريډيو هم ، چې د غرمې به پکې پښتو سندرې
آوريدل کيدې. د کومې ښځې چې به يوه بدله خوښه شوه نو د خپل
کور د کړکۍ نه به يې په ګاونډۍ چغه کړه چې ،" لږ غږ يې
اوچت کړه." د يو اتوار پر ورځ زهره بازار ته ووتله چې د
خطاب ګل د دوکان نه "کله" ( کليا) راوړي. خلکو به د خپل کور
وچه ډوډۍ غه ته يوړه او ده به د پسه د پښو او سر په ښوروا کې
دا ډوډۍ ښه ميده کړه. باسه به يې پرې د سرو پيازو بګار(تبۍ)
هم واچوله.

زهره د جوړ شوي کله وښې را واخيستو نو د خطاب ګل په لاس
يې يوه ټکه (ټنکه) کېښوده. خپلې کوټې ته چې را دننه شوه نو په
ريډيو کې د سندرو غږ يې واورېدو. ه دريو ځلورو کورونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم هغه یوه مسته سندره غږېده چې د پېښور رېډیو ورته اېښي وه.
هغه ځان سره موسکی شوه، نن د چوټۍ ورځ وه او خلکو په ښتیا
ۍ له موسیقۍ خوند اخیستو. د کور مخې ته اعظم له دوو دریو
هلکانو سره لوبې کولې او لویه دروازه خلاصه وه. زهره چې
کور ته دننه کیده نو زوی ته یې د راتلو غږ وکړو. بیا پاس وختله
پخلنځي ته ولاړه نو هلته هیڅوک نه وو. لوی کوټې دروازه
ه بنده وه خو دننه هر څه ښکارېدله، شفا د هغې مستې سندرې
ه موسیقۍ داسې نڅا کوله چې له ځانه بې خوده وه و جانۍ ورته
لاسونه پړکول. زهره هم هلته په برنډه کې په تخت کیناسته او په
دواړه لاسونو کې یې خپل سر ونیولو.

# اتم بلب

# ۱۹۴۲

شفا نن سحر ډېره خوشاله، څرخه سینټر ته روانه وه. د هغې د
ښالۍ سوب جانۍ وه چې نن ې په ښوونځي کې لومړۍ ورځ
وه. زهره د محبوبې خبره منلې وه چې جانۍ توله ورځ په کوڅه
کې بېکاره لوبې کوي، که دوه نور ټکي ولولي نو ژوند به یې جوړ
ښي. جانۍ په لاره روانه او په لاس کې نیولې غوټه یې زنګوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پکې پراته او وریت کړې اګۍ تړلی وو. مور ورته ویلي وو
چې دا به په نیمه چو ۍ کې خوري. د شفا سپینه بورقه په سر وه
او د کتابونو غوټه یې په ترخ کې نیولې وه. . کوڅې په بل سر
ورته شیاما، فاخره، پري او رمولا ولاړې وې، چې ټولې د هغې
ـزولی وې او هره ورځ یو ځای به له محلته وتلی. رمولا یهوده
ـه او د هغې کور ته جانۍ کله هم نه وه تللې. د شیاما او د پري
کورونو ته به یې هره ورځ د څه نه څه کار لپاره خور یا مور
لیږله. کله د کروشیې د نمونې کتابونه، کله وړۍ او سیخونه، د
تارکشي کونډه ستن تار، د ګنډولو د مشین پرزې او داسې نور
توکي جانۍ له یوې کور ل ته ځغلولې. پدې کورونو کې
نورملشومان ـیاتره هلکان وو او د جانۍ په شان به یې د خویندو
کارونه نه کول. د جانۍ شیاما ډېره خوښیده او کله چې به ورکره
ولاړه نو هغې به ورله د خپلې مور او نیا نه پټ د خوړو لپاره څه
، څه ورکول. هغه بله ورځ شفا د اوسپنې دوه سیخونه او د شنې
وړۍ یوه ګوله جانۍ ته ورکړې وه چې شیاما ته دی ورشي چې د
هلکانو د سویټر یوه نمونه ورته جوړه کړي. ژمی را روان وو او
زهره د اعظم لپاره وړۍ راوړی وه ـې شفا ورته سویټر واوبدي.

جانۍ په منډه منډه ولاړه خو هغه د شیاما د نیا نه ډېره ویریده، بد
بد به یې ورته کتل او دا یې نه پرېښوده چې دننه کوټې ته ولاړه
شي. د دوی د حویلی په انګڼ کې یوه ښېله چوکۍ ایښې وه چې
ـانۍ به په هغې کیناسته. هغې به هیڅ شی ته ګوتې نه ور وړلې،
ـکه یو وارې شیام ورته په یو قاب کې د ګازرو حلوه ورکړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ویې خوري. نیا چې ولیده نو تر ډېره وخته یې دواړه نړتلې، یا جانۍ چې له کوره وتله نو وې لیدل چې نیا د انغری نه ایره راواخیسته او په زوره زوره هغه قاب یې په ماشوړه پاک کړو. یاما د نیا د لاسه جانۍ ته هیڅ نه شو ورکولی، نو یوه ورځ چې هغه ورغله نو هغې ته یې ورو غوندې اشاره وکړه چې بهر دروازې شا ته دې ودریږي. جانۍ غلی ولاړه وه چې د شیاما لاس د دروازې نه را بهر شو. هغې د ګرمو شیدو کاسه ورته ولی وه چې ژر ژر یې وڅښي. پدې ورځ چې شیاما د شنې ړۍ نه نمونه جوړوله نو جانۍ د هغې لاسونو ته کتل. نمونه پیچلی وه او شیاما ورته د سیخونو او د وړۍ د کورونو، د یو بل د پاڅه د تېرولو او د تار د اړولو چل ور ښودلو. یې څو وارې یې پخپله نمونه اوبدله، با یې جانۍ ته وویل چې هغه د دی په وړاندې هغه نمونه جوړه کړي. انۍ چې ځان پوهه کړو نو شیاما اخوا دېخوا وکتل. بې د ګاونډې سره په دېوال خبرې کولې. شیاما د پخلنځي نه د ځلوبیو کڅوړ راواخیسته او جانۍ ته یې ورکړه، بیا یې د لاس نه ونیوله او د کوره یې بهر کړه.

ں هم د جینکو پدې جوپه کې شفا او فاخره په بورقو کې پټې وې. ښیاما لوپټه په سر کړې وه و چې جانۍ یې ولیده نو راتیټه شوه او هغې ته یې ټینګه غاړه ورکړه. جانۍ د شیاما لاس نیولی و او هغې سره یې په ماته ګوډه هندکو کې خبرې کولې. د څرخه سپنتر یوه برخه اوس د سبق لپاره بېله کړې شوی وه. به څلورو کوټو کې . څلورو بېلابېلو صنفونو د جینکو لپاره د نسواري سڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې اوږدې غالۍ غوړول شوي وي. وی ته به یې ټاټ ویل او په یو ټاټ به پېړ جینکۍ یو بل پسې کیناستې.

ټولې جینکۍ د ښوونځي په تالا کې راټولې شوې، جا ی اوس د شفا سره ولاړه او هر چاته په ځیر وه. مشره استاده انګرېزه وه او هغې یو خبرې په هندي ژبه وکړې ې جانۍ پرې نه پوهیده. ولو جینکو سرونه ټیټ کړې وو او یو بل ته یې نه کتل. بیا د هریو قطار جینکۍ خپلو خپلو کوټو ته ورغلې. **شفا د جان**ۍ د نوم لیکلو لپار یوې وړې کوټې ته بوتله چې سپین ږیرې سړی پکې ناست وو. د هغې نوم او د پلار نوم ولیکل شو او یو کاغذ یې ورله ورکړو چې د لومړی صنف استاذی ته یې ور **وسپاري**. دې سړي چې شفا ورته بابو صیب ویل د یوې الماری نه کتاب او تختۍ **راوو**یسته. ورسره دوه د نیچې **قلمو**نه او مشوانۍ د یو ډبې نه راواخیستل، وشنایي پونړی یې هم ورسره کېښودې او شفا ته یې **وو**یل چې د تختې لپاره به **خاوره** له بازاره پخپله واخلې. **قاعده** شلیږي نو ښه به دا وي چې بهر په کوڅه کې په کاندار یې جلد ورته وخېژوي. شفا سرو خوځوو و د جانۍ د شیانو سره صنف ته روانه شوه. لومړی صنف کې جینکۍ ې وې، ښه شور وو. استادې په تخته سیاه (تورې دړې) الف ب لیکلی وو او جینکو په زوره زوره تورې یادول. جانۍ په یوه ېکه کې چې جینکۍ پکې لږ وې، کینول شوه او شفا ورته ډاډ ورکړو چې په نیمه چوټۍ ، به ورپسې پخپله راځي. نږدې ناستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې وړې جینۍ هغې ته کتل او موسکۍ شوه، جانۍ هم ورته
وخاندل او بیا د نورو په شان دا هم د سبق په یادولو اخته شوه.

تر ډېره وخته ژباني سبق و، بیا استادې امر وکړو چې اوس یاد
ي توري په تختۍ ولیکې. جانۍ نورو جینکو ته کتل، د هغې
ناورینه مشوانۍ تشه وه او نه پوهیده چې ر ک که جوړ کړي.
ې جینۍ هغه د لاسه ونیوله او استادې ته ورغله، مشوانۍ او
ي ورته ښکاره کړل چې دوې اوبو ته اړتیا لري. استادې
ورته اجازه ورکړه، دوې په منډه د غولۍ نه تېرې شوې او په بل
ـ کې لګیدلی بمبې ته ولاړې. ې جینۍ لږې اوبه په مشوانۍ
کې واخیستې، پونړۍ رنګ یې پکې ورګډ کړو، بیا یې اخوا
یخوا وکتل د جانۍ په سر د ململو لوپټه وه چې هم نن ورته مور
په سر کړې وه. ر څو چې هغه خبریده، ې جینۍ د لوپټې نه
یوه ټوټه شلولې او په مشوانۍ کې ور دننه کړې وه. جانۍ هکه
پکه ولاړه وه او د جینۍ نه یې پوښتن ، وکړه چې ولې یې مشوانۍ
کې دا ټوټه ور اچولې وه هغې ورته وویل په قلم چې ک اخلي
ږ ځاځکې بهر نه تویږي. دوی بېرته صنف ته ولاړې او په
ختۍ د تورو په لیکلو بوختې شوې. انۍ ډېر په احتیاط مخامخ
کتل، د توري شکل به یې په حافظه کې کېښولو او بیا به یې ورو
ورو په قلم هم هاغسې ولیکل. هغه بوخته وه چې پدې کې نابېره د
هغې نه مخکې ناستې دواړه جینکۍ د یو بل د ویښتو په شوکولو
لاس پورې کړو. د وی په تېل ماتیل کې د جانۍ د لاسه مشوانۍ
ولویده او تول کمیس یې ورله ولړلو، استاده راپاځیده، دواړه جینکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يې يوه يوه ځپېړه راخلاصه کړه خو چې د جانۍ د کميس حال ي وليدو نو هغه يې له ويښتو را ونيوله او دروازې ته يې ورټيله کړه چې " ورشه بدبختې... په لومړۍ ورځ دې مور ته کار وکټلو."

د وجود نه ډېره کمزورې وه، د استادې په ټېله په ځمکې را ېوته، سترګو لاندې يې تياره شوه او په غوږونو کې يې شغ شغ کېدل. په هوش کې راغله نو د شفا په غېږه کې پرته وه او هغې رته ژړل. دا بله کوټه وه چې پکې يوه زړه خاله ناسته وه. دې ، د جانۍ خولې ته د شودو قاشوغه ورنږدې کړه، او وې ويل، وخښه لورې طبيعت به دې ښه شي." جانۍ سخته وېرېدلې وه او په ژړا يې پيل وکړ، يوه خبره به يې بيا بيا کوله چې، " زه کورته ځمه." مشره استاده راغله، شفا د جانۍ دواړو ته يې تسلي ورکړه او خاله ته يې امر وکړو چې دوي دې کور ته ورسوي. بهر په کوځه کې يوه تانګه دوی ته په انتظار وه. شفا او خاله، جانۍ راوچته کړه او د تانګې په وروستۍ سيټ يې څملوله. شفا هم ورسره کيناسته، خاله وړاندې د کوچوان سره خبرې کولې او د شفا کور لاره يې ورته ښودله.

هره د محبوبې په کور کې بړستنه ګنډله چې په کوځه کې د ملشومانوشور ملشورشو. د شفا غږ يې واورېدو نو وارخطا ې ته يې ورمنډې کړې. د لور حال چې يې وليدو نو ژر يې په غېږه کې وله. خاله تانګې وال ته پيسې ورکړې او د زهره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د هغې کور ته ور دننه شوه. بیا خاله زهره ته ټوله کیسه وکړه، دا چې استاده ملامته نه وه، ټول واړه هره ورځ وهل خوري، ځوک د جانۍ په شان بې هوشه شوی نه وو. زهره نه غوښتل چې د لونو ماندې د خاله سره جنګ وکړي، شفا ته یې ېره وکړه، هغې یو څه مېوه د خاله مخې ته کېښوده، جانۍ نه یې و پوښتنه وکړه چې څه به خوري. اوس یو څه آرامه شوی وه، خو د ې پوښتنې سره ورته سې پراتې او هګۍ ور په زړه شول. هم هغه پراتې یې غوښته نو ټولو وخاندل. شفا لاړه تازه ه او هګۍ یې ورته پاخه کړل او بیا دواړو خوېندو یو ځای ډوډۍ وخوړه.

## نهم باب

## ۱۹۴۳

جانۍ تعلیم پاتې شو، هغه ډېره کمزوري وه، ډاکټر ورله د طاقت د روګان لیکلی وو او زهره زیار ویستلو چې هغې ته ښه خواړه ورکړي. زیارتونو ته به یې هم بیوله، غاړه به یې رنګارنګ عویذونه ځورند وو. کله نا کله به یې پر مټ هم تعویذ تړلی وو. ره ته یوازې د جانۍ غم نه وو، هغه به د شفا په حالت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړېده. تل به یې په سر کې درد وو، ډوډۍ به یې سمه نه خوړله ګلابي رنګ یې ژیړ شوی و. په هاغه ورځ خو زهره سخته ناراموه کله چې یوې ګاونډي ورته وویل چې د دې په کور کې پریان وي چې داسې دواړه جینکۍ په یو مخه ناروغې وې.
ه خبره وه چې د ښار ډېر کورونه درانه ځایونه لري خو دا یې ر نه کیدو چې د دریو کوټو پدې وړوکې کور کې به هم داسې ای وي. یوه شپه یې دا باور پوخ شو ځکه شفا په خوب کې په نا اشنا ژبه خبرې کولې. هغه سخته وېرېده او په بله ورځ د نوې کور په لټه کې شوه. محبوبې ورته ډېر وویل چې پیریان په کورونو کې نه وي او بله دا چې که په نوې کور کې هم دا حال وو نو بیا ه چیرته ځي، خو زهره د لور حالت نه شو زغملی.

ې ورځو کې د محبوبې د کور سره جوخت کور خالي شوی وو، کرایه یې د زهره د اوسني کور نه ډېره وه خو زهره په هر شان بل ځای ته کډه کوله. میاشت وروسته په نوي کور کې ځای پر ځای شوه او زهره دېوال په دېوال د محبوبې سره خپل کار روزګار بیا پیل کړو. د کوټې (چت) په دېوال کې یوه باری وه او به اوس د محبوبې کور ته له دې بارۍ تګ راتګ کوو.
انۍ، ښاپیرۍ او شفا هم خوشاله وې، خو اعظم خفه وو. د هغه حبوبه نه وه خوښه، د هغې په کور کې د خلکو د تلو راتلو خبره ې نه وه خوښه او دا چې محبوبه به د خپل کور په بیټک(حجره) کې له سړو سره لیدل. د چم ګاونډ ټول خلک خبر وو چې محبوبه تجارت کوي او د دې په کور کې راتلونکو خلکو کې زیات تره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اران وو، خو اعظم د کلي هلک وو، هغه ته دا هر څه عجيبه
کاریدل.

نوې کور کې د جانۍ صحت ، شو، خو شفا ورځ تر ورځه
ویلې کیده. زهره به ورله په سر . بادامو تیل لګوو، د شپې به یې
رته د ایشیدلو اوبو جام کېښودو چې لوخړه یې په سپړ.مو
کاړي، محبوبې ورته ویلي وو چې نزله یې بنده شویده ځکه یې
سر خوږیږي. ې هم ښه نشوه نو د خشخاشو، چارمغزو او د
بادامو شربت یې ورله ورکړو. بیا محبوبې یوه بله ټوټکه ورته
ورکړه. زهره د خیشتو شویو چارمغزو، خشخاشو او د بادامو پی
وویستل، هغه یې په توره خاورینه کټوه کې واچول، بیا یې د شفا
په سر منجیله کیښوده او د منجیلې د پاسه توره کټوه. جانۍ ته یې
ویل چې دا کټوه ورته ونیسي، بیا یې په کرچی کې ژېړ غوړي
په اور سره کړل او په کټوه کې یې واړول. شربت ا وخوټکیدل
او د دې غږ شفا په خپل سر کې واوریدو، کله چې د خوټکیدو غږ
بند شو نو کټوه د شفا له سره رانسکته کړې شوه. په تورې کټوۍ
کې هغه ښیدلې ګډوله یې ورته په یوه کاسه کې راویستل چې وې
څښي. جانۍ هم په منډه ځان له یوه پیاله راوړه او خپله برخه یې
غړپ کړه. خو شفا جوړه نشوه، ورو ورو د هغې دسر درد د
هغې وجود ته هم وغځیدو. ونځی ترې پاتې شو او دا په زیات
وخت په کټ پرته وه. د نیاپیرۍ د نرسانو زدکړې پاې ته رسیدلې
وې او د امتحان تیاري یې کوله. هغې د خپلې خور د علاج لپاره
ډاکتر رام چند ته ولاړه او د شفا لیدو لپاره یې کور ته راوبللو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر د شفا معاينه وکړه او زهره ته يې وويل چې ټولې الامې ښيي چې پدې کې د لوی تبې جراثيم دی. بيا يې ورته دارو وليکل او ځلکه يې وويل چې نورې ټوټکی به نه کوي، يوازې پرهيز **او** ـيزي دارو به ورله ورکوي.

ښاپيرۍ د سبق نه وروستو به د خور کټ ته ناسته وه او ځو اووی ، تېرې شوې نو شفا په ښه کيدو شوه. زهره به ورته نرم خواړه ورکول، دارو به يې پر وخت وو. ډاکټر رام چند د هغې د حالت نه ، ځه مطمين شو، خو زهره ته يې وويل چې نور دارو په بازار کې نه پيداکيږي. **د** ، له امله ډېر شيان ورک شوي **وو** او د شفا دارو به **ورله** . بمبۍ نه راغواړي. د کلي نه هره ورځ د ښفا د پوښتنې لپاره ، ه ښځې را روانې وې او د زهره د کور خرڅ سيوا شو. د هغې نه ډېر کارونه پاتې وو، پخوا به شفا هم ورسره په ګنډلو کې لاس کوو ، جانۍ به هم د کميس لمنې ورته په لاس رغولې خو اوس به هغې ټوله ورځ د ميلمنو پالنه کوله. ښاپيرۍ د خپلې وظيفې يو ځو روپۍ سمپولی او مور ته به يې ورکولي، فې ازموينې شوې وې او د نتيجې په انتظار يې د ډاکټر سيتا ره کار پيل کړې وو، هغه د ښاپيرۍ له کاره خوشاله وه او د نتيجې وروسته يې د نرسانو سپين کميس جرابې وټان او د خولۍ په سرولو اجازه لرله.

ـرو ورو زهره سره ټولې پېسې خلاصې شوې او په هاغه ورځ ـېره وځورېده کله يې چې د محبوبې نه ې بيا پور وغوښتو. يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

روپۍ د محبوبې لپاره هیڅ وه، خو د زهره له زړه وینې څڅېدې او
، بله ورځ یې ښاپېرۍ ته ووئیل، " مونږ به کلي ته ولاړ شو."
ېپېرۍ نه غوښتل چې خور یې بې علاجه پاتې شي. هغې اوس د
ډاکټر رام چند په کلینک کې کار پیل کړې و او ده ورته بله میاشت
د تنخواه ورکولو فیصله کړې وه، خو زهره چې حسابونه وکړل نو
پوهه شوه چې کلي کې به یې خرڅ لږ وي. ښاپېرۍ د کار نه
علاوه د اعظم دسبق ستونزه هم وه چې اوس په لسم کې و. د ده
کچه امتحانونه(ازموینې) نږدې وو، که پدې آزموینه کې پاتې
راغلی وی نو بیا د بورډ (عمومي) امتحان کې ورته د کېناستو
اجازه نه وه. زهره په دوو کې حیرانه وه. ښاپېرۍ د خپل مور
مشکل اکټرې سیتا ته وویلو او هغې ورته حل راوویستو. د رام
چند کلنیک درې نورې نرسانې د کرایې په یو کور کې اوسیدې.
په دوی کې یوه نرسه واده شوی او خپله کډه یې اوړې وه.
ۍ او اعظم به پدې کور کې تر هغې اوسیدل تر څو چې شفا
ـه شوې نه وه او زهره بېرته ښار ته راغلی نه وه. خو زهره د
دې حل په آوریدو سکوت ا ـکار وکړو چې خلک به څه وایي.

ښاپېرۍ، محبوبې او شف ولو زهره ته دلایل وړاندې کړل. ډاکټر
سیتا د شفا د معاینې لپاره د زهره کور ته راغله نو ورته یې بلنه
ـه چې مازدیګر دې هغه کور ته ورشي او پخپله وګورې چې
اپېرۍ او اعظم یکې ژوند کولی شي که نه؟ زهره د ښاپېرۍ او
اعظم سره ولاړه او چې په هغې ور کې یې دوه نورې ښځې
ولیدې نو رضا شوه. په دوی کې یوه د زهره د عمر کونډه وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړی یې د انګریز په پوځ کې چرته بل ملک کې جنګیدو، دویمه د پوخ عمر شین خالی وه چې هېڅا ته یې د ژوند حال نه وو څرګند **او** نه به یې چا سره خبرې شریکولې. هر وخت به یې وړی **او** بخونه په لاس کې وه او څه نا څه به یې اوبدل. زهره ناروغه شفا کلي ته راوستله.. لوښې لرګي یې ښاپېرۍ او اعظم ته ور نودل، د ګنډولو ماشین یې کلی ته راوړ**و** او یو وارې یې بیا پخپل پخوانی کور کې ژوند پیل کړ**و**.

ښاپېرۍ په انتظارګاه کې د وروستی ښځې نوم په رجستر کې **ول** کلو او هغه یې ډاکټرې سیتا ته واستوله ـ په دېوال لګیدلی ګړۍ کې دوه بجې وې. لږه شېبه وروستو د هغې په ځای کار کولو لپاره بله ن ـسه راغله او ښاپېرۍ د ډوډۍ او دمی ته د کلنیک اته جوړې په یو وړوکی کوټې ور ننوتله. دې کوټه کې به د **و** ـې یو یا دوه وارې د نرسانو او دائیانو بنډار جوړیدو، کله نا کله به ډاکټره سیتا هم ورته راغله. رام چند به د کلینک ټولو کار کوونکو**سره** هره دویمه میاشت یوه غونډه کوله او سرکاري اعلانونه به یې ورته اورول.

ره خاله به هر وختې پدې کوټه کې ناسته وه او نورو ته به یې د ډوډۍ ګرمول ـ او د لوښو د وینځلو کار ک**وو**. نن زلیخا دایي د هغې میندوارې ـځې کیسه کوله چې خاوند وهلې وه. ښاپېرۍ د داسې کیسو سره اوس عادت شوې وه. ره له دې چې نورو ښځو ته علومه وه چې په هغې د طلاق ټاپه لګیدلې وه خو هېڅوک خبر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـو چې ښاپیری تر اوسه جینۍ وه. اکټرې سیتا ورته مشوره ورکړې وه چې هېڅا ته مه وایه. لینک د ښار د ښځو لپاره ځینۍ ځای وو چې هر علاج به یې ژر او په ارزانه بیه کیدو. سرکاري روغ ، لږ لرې وو او که څه هم علاج پکې وړیا وو خو د خلکو ګڼه زیاته او ډاکټرانو ته به ډېر وخت په انتظار تیرېدو. اپیرۍ خپله ډوډۍ خوړله چې ډاکټره سیتا راغله **او** ټولو ته یې **خبر** ورکړو چې د دوی په درملتون کې اوس یو نوی کمپیوډر د ثار په نوم راغلی دی او د ډاکټر رام چند د مرستیال په توګه به کار کوي. ولو پدې خبره اطمینان څرګند کړ**و** ځکه بهر د سړو **مر**یضانو شمېره ورځ تر ورځه زیاتیده. د ډاکټر مرستیال خو بل ر کیدې شو خو په دې لوې ښار کې هر نوې ډاکټربه یا خو ، روغتون کې په کار ولګیدو او یا به قبایلی سیمو کې د پوځ **سره بوخت‌شو.** هندوستان د نورو برخو نه به ډېر لږ ډاکټران دې سیمې ته راتلل.

نرس کامنې . سیتا نه پوښتنه کړه، " نوی کمپوډر د کوم ځای ی؟" ډاکټر سیتا وویل " د کوم کلي اوسیدونکی دی، خو تعلیم یې ـی او څه موده په پوځ کې هم وو، اوس ورله اجازه ورکړې شویده چې ، ځای کار وکړي." د رام چند کلینک د سړو برخو لویه او هلته د کیناستو لپاره کرسۍ هم ډېرې وې. **د** دې او **د** ښځو د برخې ترمنځ لویه برنډه وه و په هغې کې به داروګان جوړیدل. . توخي مکسچر، سپین پوډر چې د اخبار په پوړیو کې به یې ورکول، . زخم لپاره ژېړ بوی ناک ملهم، ټول داروګان به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لویو لویو صندوقونو او د شیشې په مرتبانیانو کې راتلل. د دې داروخانې په یوه برخه کې به د شیشې وړې بوتلې په ایشیدلو او بو پاکیدې، به ځینو وړو هلکانو ورباندې لیبلې لګولې او مریضانو ته به پدې بوتلو کې دارو ورکول کیدل. هر هاغه مریض چې خپل تل به یې له ځانه سره راوړو، هغه نه به د بوتل پیسې نه اخیستل کېدې. ځای کې به هر وختې درې څلور کسان په کار بوخت وو. د صفایي انتظام ډېر سخت وو او کار کوونکو به په پوزو سپین نقابونه تړلي وو. ه میاشت کې یو ځلې به نګریز افسر د دې داروخانې معاینه کوله، اکله به څوک انګریزه ښځه هم ورسره وه او د ښځو د زېرنتون صفایي به یې کتله. ناپیرۍ به د هغې انګریزې ښځې جامو او بوټانو ته ځیر وه او ماښام به یې پله کوټه کې د پرتوګ پایڅې راپورته کړې، خپل ژېړ وېښته به ې په سرګوله کړې بوټان او جرا ، به یې په پښو کړې او دواړو داي ، ته به یې د انګریزې پیښې کولې.

یوه جمعه چې ښاپیرۍ او اعظم کلي ته ولاړل نو د شفا حال ورته نه نه معلومیدو. کور کې د ښځو ګڼه ګوڼه وه، شفا کمزورۍ او ژېړه ښکارېده. هاغه چوپتیا او آرام چې مریض له پکار وي، په سترګو نه لیدل کیده. مور یې خپل بندار تود کړې وو، یوازې انۍ وه چې کله به یې خور ته پښې ومږلې او کله به یې ورته وزۍ خوزووو. ښاپیرۍ د شفا د تبې حرارت معلومولو لپاره د شیشې ترمامیټر راوو ، هغه یې څو وارې وځنډله او بیا یې شفا ته تر ژبې لاندې کېښوده. تولې ښځې غلې شوې او هغوې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېرۍ د داروګانو بکس، د هغې د لاسونو یو یو حرکت ته په ځیر وې. زهره له یې ډېر خوند ورکړو چې یوه لور یې ناروغه وه او بلې یې علاج کوو. د ښد ری ټول کړه وړه د ډاکټرانو وو، یواځې ښینه چپنه او خولۍ یې نه وو. د شفا تبه هم هاغسې وه، په ۹۹ ف ولاړه وه چې تېره اونۍ هم دغه درجه وه. هغې له مور ښوښتل چې شفا له کوم خواړه ورکوي. مور ورته هماغه شیان شمېرل، د اوربشو اوګر شوده او د چرګ ښوروا. خو جانۍ کې را ودانګل چې، " غه بله ورځ خو شمۍ ترور ورته سره الوګان راوړې وو او شفا ترې یو څه خوړلي هم وو، شمۍ ترور وئیل چې خوله به یې پیکه شوې وي." ښاپېرۍ چې دا خبره واوریده نو د غصې نه تکه سره شوه. یا چې څه یې په خوله راتلل وې وئیل. ې ښځې ورو ورو د زهره نه را پاڅیدې او کور په یوه شېبه کې خوشې شو. زهره نه پوهیده چې څه ووایي، ښاپېرۍ په لومړۍ ځل دومره په قهر وه. هغې خو د خپل طلاق او د هغې نه وروسته حالاتو کې هم چېرې داسې غصه نه وه کړې. اعظم هم د شفا په حالت وکړېدو، مازدیګر دواړه ورور او خور چې شنډ توت روانیدل نو ښاپېرۍ مور ته غاړه غړۍ شوه، د هغې زنه یې ونیوله او وې ویل، " مورې د شفا ډېر خیال ساته... هغې ته د آرام ضرورت دی، خلک ورته مه پرېږده...لویه تبه په دارو نه بلکې په خواړو جوړیږي. .زه به ډاکټرې سیتا ته و وایم که په روغتون کې یې داخله کړي." ښاپېرې ولاړه نو زهره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ع ې پسې ځواب ور واستوو چې راشي ځکه نابېره هغې ځان يوازې احساسوو.

مد خان چې عابدې ته ځپېړه راخلاصه کړه نو د هغې پښو په که خپل وجود ټينګ نه کړې شو او د کټ سره نږدې راپرېوته، ر يې د کټ په بازو ولګيدو او د تندې نه يې وينې راماتې شوې. ی هم هغه وخت خور ته د زهره پيغام ور وړې و. هغه هيښ پيښ هم هلته ودرېده، دواړو ماشومانو په چغو مور ته منډه کړه. ريم په زانګو کې ويده وو چې هغه هم د پلار او د ورونو او خور چيغو او ژړا راپاځيدو، په کوټه کې محشر جوړ وو. صمد خان ای ولاړ وو او عابدې ته يې ښکنځلې کولې. هغې چې له ځمکې ځان راټول کړو نو د صمد خان ورته پام شو او د وينو په يدو، پښې يې ودربولې او له کوټې ووتلو. جانی ترهی نيولی وه او عابد رته څه وويل خو دې نه اوريدل. بهر نه يو څو ښځو سر راښکاره کړو او ب ا ټولې د عابدې په ملهم پټې لګيا شوې. کوثر جانی په غيږ کې ان پټ کړې و او لړه شېبه وروستو اوده شوه. شاه جهان په کټ ختل او بړستنه کې يې ځان پټ کړې وو او وړوکی ملشوم ی مور پورې نښتې وو.

د عا ې مشره يور خوشاله معلوميده ځکه لومړی ځل وو چې عابدې هم د سړی نه وهل خوړلی وو. اوس هغه د دلاورخان نيازبينه انږور نه وه...د کور د نورو انږيندو په شان يوه عامه ښځه وه. و ځلورو کالو کې د عابدې نازک وجود غټ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو او صمد خان اوس ﺑﻪ نه څه خبره هغې ته په قهر و. په دودی
ﮐﻲ مالګه ولې ډېره ده؟ ماشوم ولې ژاړي؟ ماستې ولې تروې دي؟
وبنه نه ده خړینه شوی... دا عامې خبرې وې چې عابدې به هره
ورځ اورېدې. په خاصو مواقعو ورسره یو دوه بدې خبرې هم مل
شوې، "بدبختې، سپېرې، پواړې"... خو ﻥ صمد خان ورته د پلار
ښکنځله وکړه نو عابده په قهر شوه. ﻐﻲ هر څه زغمل خو د
مور او مړ پلار سپکاوی یې نشو زغملی. نن له هغې نه ۔ خوابنې
خبره هم هیره وه چې خپلو ټولو اﻧ ﻮ ته یې څو وارې کړې وې،
" ﯼ ته خبره مه ګرځوی، که نه هډوکی به درته مات کړي."
ټولو ښځو دا خبره منلی وه چې قهر او غصه د نارینه حق وي او د
ې وهل خو په قران کې راغلي دي.

اوس د ﮐ ۔ ټولې ښځې له عابدې راچاپېره وې او د هغې د وهلو
اصل سبب یې معلوموو. عابده سرتړلی د ماشومانو په غم کې وه،
هغوی له چ ، لاس کې د ګوړې چکی ورکړې وه. ﺟانی د خور
سره په کټ ناسته وه او عابده له هغې شرمیده، نه یې غوښتل چې د
ﻮتې حال ټولو ته ووایي. په دومره وړه خبره صمد هغې ته
څپېړه ورکړې وه چې پخپله هم ترېنه هیره وه. ﺟانی ته یې وویل
چې هغه به صبا ته مور ﻪ ورځي. ۔ پخوا ددې چې جانی مور
ﺎل ویلی وای، د کلي ټولې ښځې خبرې او زهره ته یې حال
رسولی وو، اصل خبره هېچا ته نه وه څرګنده. زهره د شفا په
حال خواشینې وه اوس چې د عابدې خبر ورته راورسیدو نو صبر
ﺮې ونه شو، شفا سره یې دوه ګاوندیانې کښینولې او پخپله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بورقه په سر کړه د دلاور خان چم ته ولاړه. عابدې مور ته خپل حال تېر کړو.

ـان ورته پنځه روپۍ ورکړې وې چې له ښاره ځان ته د جامو سوچه جوړه واخلي. عابدې دا پیسې مور ته ورلیږلی وې ـې ځلور نیم ګزه لیډي ملتین ورته له کابله راوغواړي. صمد خان اوس دا خبره نه منله چې هغه عابدې ته هغه پیسې د جامو لپاره ورکړې وي. ـپسې خو هغه د امانت په توګه عابدې ته ورکړې وي.

ـره خبره وه چې له واده وروسته دا لومړی ځل وو چې عابدې ورته صمد خان د پنځو روپو او د جوړې خبره کړې وه. د دې ـې ښځې هم چرې د ځان لپاره پخپله جامې نه وې اخیستې. ـ ټولو ته به یو اختر بل اختر جامې جوړیدې. دلاور خان به پخپـ له ښاره د هر هاغسې ټوکر تانونه راوړل چې د ده په زړه او جیب برابر وو.

د زهره کشرې خو ـه ټولو ته جوړې پرې کړې، د ململو د تان به یې ورله لوپټې بیلې کړې او دوی به بیا پخپله خوښه ـنګولی، ځینو به ورله اهار(نشلـټـه) ورکړو چې لوپټې شخې شي.

خو اوس د دویم نړۍ و جنګ اغیزه په هر شي لیدل کیده. ـ ښار ـه ټوکر ورک شوی وو، ځو بزازانو پخپلو هټیو د کابل مال خرڅوو ـې دېر ګران و. ـیا د څه وخت لپاره د هندوستان ګلداره ـټ هم ورک شو چې پخوا به دوه آنې کز خرڅیدو. د محبوبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کې به په دې زمانه کې هم هر رنګه وریښمین او د کتان ټوکر
کېدو، هغې به د بمبۍ نه کمخواب او بنارس راغوښتل او
رخچین به یې د ګیانګ د تجارانو نه اخیستل.

زهره تر ډېره وخته لور سره ناسته وه. یې د نورو ټولو ښځو
په وړاندې د خپلو غوږونوسرو زرو الۍ وویستلې، د عابدې د
خوابنې په لاس یې ښودې او ورته یې وویل، " نن خو یې زما
لور د پنځو روپو لپاره وهلې ده .. دا والۍ زوې ته ورکړه چې په
ار کې یې خرڅې کړې او خپلې پیسې واخلي. زه به لور ته په
هغو پنځو روپو جوړه اخلمه، راوړمه او دا به یې اغوندي... که بیا
یې زما په لور لاس اوچت کړو و پښې به ورله ماتې کړم." د
زهره په وروستۍ خبر، د کور ټولې ښځې هک پک پاتې شوې.
هغې جانۍ له لاسه ونیوله او په ټوله لاره په ویناو و ښېرو کور نه
ورسیده.

# لسم بلب

# ۱۹۴۴

شفا یوه چیغه کړه او په کټ کې په لټو ټکولو شوه. جانۍ د لاسه
و بوتل پرېوتو او هغې شمۍ پسې منډې کړې. زهره هغه
وخت د منې د فصل په غم کې پټو ته ورغلې وه او په کور کې یې
نانۍ او شمۍ د شفا سره پرېښې وې. ی د بکیانې د ونې لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کټ غځېدلی وه او انۍ د منډې نه وړاندې هغې د شفا چغه اورېدلی وه، ژر راپاڅېده. هغې ته يې په خوله کې اوبه ورکړې. با يې ورته د پښو په تلو مالش وکړو. په دم تعويذونو او زيارتونو ټولو کې هغه د زهره مشاوره وه، لويه تبه هغې ته د پيريانو کار معلومېدو. په کلي کې هر چاته يې دا کيسه کړې وه چې په شفا پيريان ناست دي. ځکه غې يوه ورځ ويېنته خلاص پريښې او د نځر د ونې لاندې ناسته وه. کلي کې د اينځر دوه ونې وې، يوه په بره حجره کې او بله د اسلم دوی کور ته مخامخ. ټولو ښځو دا خبره يې بل ته کړې وه خو هېچا دا پوښتنه نه کوله چې شفا د سړو حجرې يا د اسلم دوی کور نه بهر کله ورغلی وه.

نمی د کلي باتجربه دايی وه او هيچا د هغې خبره نه شوه ردولی. ن چې هغې د څو ورځو راهيسې د زهره کره د شفا پالنه کوله و ټولو ته يې دا خبره هم کړې وه چې شفا د بې وشۍ په حال کې په بله ژبه خبرې کوي. نځو به توبې يستلی، بيا به يو څو ښځو پکې خپل غړونه ورو ورکړل، پس پس به يې وکړل، " ړی ښار ، يې څوک خوښ شوی وي... مور به يې ورکوي ځکه يې کلي ته راوستله." بيا به ټولو ، لوپټو کې خولې پټې کړې او پټ پټ به يې وخاندل.

شفا چې لږه آرامه شوه نو جانۍ مور پسې پټو ته په منډه وه. زهره يې په نيمه لاره کې وليده چې د کور په لورې را روانه شوې وه. جانۍ چې يې وليده نو ګړندۍ شوه او هغې په لاره د شفا حال ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر کړو. لومړی ځل نه وو چې په شفا داسې چپه راغلی وه، تېر ځل ښاپېرۍ په مور زېری کړې وو چې د شفا تبه اوس ختمه ده خو پرهیز به بیا هم جاري ساتي. د هغې راهیسې شفا کله کله له کټه راپاڅېده او څه نا څه په کور کې به وګرځېده، خو بیا به داسې چپه ورباندې راغله چې ژبه به یې بنده شوه. یو وارې زهره د ښاپېرۍ په غوښتنه شفا ښار ته بیولې وه، ډاکټر رام چند په روغتون کې ولیده. د لویې تبې علاج یې شوی وو. خو د بې هوشۍ سبب یې نه وو معلوم. ی شوه چې څه دماغي کمزوري ورته پېدا شوې وي خو ډاکتر زهره ته تاکید وکړ چې نور دې په کلي کې نه ایساریږي. شفا ښه هوښیاره جینۍ وه او د سبق سره یې ډېر شوق وو، کتاب او مطالعه به د هغې ناروغی لرې کړي.
تر رانږدې وو او زهره غوښتل چې په کلي کې څو ورځې
ې واړوي نو بیا به ښار ته کډه وکړي، د محبوبې سره یې خبرې کړې وې. په هاغه محلت کې یو کور هم تش نه وو، خو د حبوبې په هلوځلو ورته دوه کوټې اخوا بل کور پېدا شو، د زهر
زړه یو څه آرامه شو.

د رام چند په کلینک کې نن ډېره اله ګوله وه. ښار په لویی څلور
کې کانګریسیان راټول شوی وو، د جواهر لال د راتګ خبره
کیده چې یو چا پکې شر جوړ کړې وو. هل ټکول پکې دومره نه
ووشو خو څو کسان په تیل ماتیل کې تر و لاندې راغلی وو.
پد کې ځینې لوی روغتون او ځینې رام چند کلینک ته راوستل
شول. له بده مرغه ډاکټره سیتا پدې ورځ پخپله ناروغه وه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو خوا هیڅوک نه راتلل. مریضانې ې چې خبرې شوې
ښوې چې مشره ډاکټره نشته نو ډېری پکې کورونو ته لاړې. رام
د چې خبر شو نو ښاپیری ته یې وویل کوم مرض چې ته پخپله
تشخیص کولی شې، دوا پرچه ورته جوړه کړه. پیچلي مرض به
کمپوډر نثار ته وروسپاری خو هغې ځې ه پوښتنه کوه؟ که نه
غواړې چې سړی یې ووینې نو کور ته دې ولاړه شې.

ی پدې خبره خوشاله شوه، پدې کلینک کې اوس د هغې یو
کال پوره شوی و. دا یې ډېر ارمان وو چې هغه هم مریض ته
پرچه ولیکې، دوربین (ستیتوسکوپ) په غاړه وځړوي او د ډاکټر
په کرسۍ کښیني.

یوه دایي د میندوارو ښځو سره لګیا وه، شاه ګل هم ورسره مرسته
کوله. ښاپیرۍ د یوې ښځې سره خبرې پیل کړې چې وچ ټوخی
یې و، د هغې غاړه او سینه یې معاینه کړل، بیا یې ورته د ټوخی د
دارو نوم په پرچه ولیکلو او داروخانی ته یې وروواستوله.

داروګانو د جوړولو کوټه د هرې ورځې نه زیاته مصروفه وه، د
جلسي د ټیپانو لپاره ملهم جوړیدو، برنډو یوې خوا ته د اوسپنې په
ړنو کې لګیدلی پردې ودرول شوی وې او کمپوډر نثار هلته
په یو میز مریضان لیدل. ښاپیرۍ څو ښځې پخپله ولیدلې، نورو ته
یې د کیناستو اشاره وکړه، بیا ولاړه، د پردې نه یې سر ور ښکاره
کړه او نثار ته وویل، " ځې مریضانې په انتظار دی" نثار د
ستی مریض کاغذونه یو فایل کې ایښودل، پدې خبره یې سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـِته کړ او پردې ته يې وکتل، يو څو شېبو له حيرانه پاتې شو، په
پين اوږد کميس، جرابو او بوټانو کې لکه د يوې ماشومې دا
ښينۍ نرسه نه ښکاريده. د هغې په سر سپينه وړې ټوپۍ د هغې
ـره ويښته پوره نه وو پټ کړې. د ښاپيرۍ اسماني سترګې چې د
ِ سترګو ته ور برابرې شوې نو هغه وشرميده. د اکرام نه د
بيليدو وروسته هغې د رام چند نه علاوه چرې بل پردي سړي
سره خبرې نه وې کړې او نه يې چا نه په ډکه سترګه کتلې وو. د
نثار په کتلو د هغې په زړه کې لـ ئه د سمندر د څپو شور راپورته
شو. ـې د نثار ځواب ته انتظار ونه کړ او ببېرته معاينه خانۍ ته
ړه، يوې ښځې ته يې لاره ورسمه ـړه او پخپله د ډاکټرې سيتا
ه کرسۍ غلې کيناسته. مازديګر وروسته به مريضان کم شول،
ـار شتمن خلک به کله ناکله راتلل، خو دوی به د راتلو نه
ندې ځواب راوليږلو چې ډاکټر به ورته وزګار وي او که نه،
داسې کسان به د رام چند او د سيتا خاص مريضان وو او بل چاته
د دوی د مرض حال هم نه و معلوم.

ار د ټولو مريضانو له ليدلو وروسته اوس کلينک ته مخامخ د
سړک پورې غاړې ته په يو چای خانه کې ناست و. مخې ته يې
ورځ پانه اېښې او د شنو چايو پياله يې خولې ته نيولې وو. نثار د
کلي د هغو څو ځوانانو څخه وو چې په لومړی نړيوال جـ ک
ـې د انګريزانو ملازمت يې کاو. ده د يو ـوځي ډاکټر سره موټ
چلوو او د هغه په ملاتړ څه سبق يې وويلو او ـ څلورم امتحان پاس
کـ ـ. انګريزې ژبه يې هم د کار په وخت کې زده کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلي کې مور ورله خپله وربېره شاترينه واده کړه او دی د اوولسو کالو په عمر کې د لور پلارشو. خو د ده د کلي ژوند نه و خوښ ځکه د انګرېز ډاکټر په کور کې د ژوند بل اړخ يې ليدلی و. چې د کمپوډري امتحان يې هم پاس کړو نو د پوځ د ډلګيو سره به په ټول هندوستان کې ګرځيدو. يوه ورځ دی په غسل خانه کې راپرېوتو او پښه يې ماته شوه نو پوځي روغتون نه لرې کړی شو. ړې پېسې يې ورته ورکړې او نثار پدې پېسو د ښار په زړه برخه کې کور واخيستو. د ده درې زامن اوس ښوونځو ته تلل او شاترينې ته يې ډېر وړيل چې ښار ته راکډه شي، خو هغه په کلي کې خوشاله وه. د نثار د مور د مړينې نه وروسته اوس دا په کلي کې د يوشتمن سړي د ښځې په توګه اوسيده. دريو ـ او دريو زامنو زېږول ورته دا ډاډ ورکړې وو چې د هغې ژوند پوره دی. ار نه غوښتل چې زامن يې په کلي کې له تعليمه بې برخې پاتې شي، هم دا وه چې دوی ې د ښار کور ته راوستل. شاترينه لږ وخت لپاره ـار ته راغله خو ډېر ژر بېرته ولاړه.

نسحر نثار درې واړه زامن پخپله ښوونځي ته رسولی وو. هغه له دې خبر وو چې په کور کې د اخلي پخلي لپاره زمان موجود وو، د هزارې اوسيدونکی زمان ډېر ټوکي و خو د نثار لپاره په کې داسې څه نه وو چې دې ورته تللی وای.

"صيب نورې چای درته راوړم؟" نثار د خپل ژوند د روان فلم نه راووتلو او د چای خانې دروازې ها خوا د رام چند کلينک خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وکتل. ای والا ته يې په نفی سر وخوځاوو او پيسې يې ورته
ميز کېښودې، بيا هغه د کلينک په لورې روان شو. هلته يې
غوږ يې د يو غږ د اوريدو په تمه ، په کلينک کې هر څه ورته
لسما ې ښکاريدل.

ـ پخپل کرسۍ ناست وو، انتظار يې کاوه چې ښاپيرۍ به راشي
خو هغه بيا رانغله. اکټر رام چند يو څو کسان ورته و وليږل، ده
معاينه کړل او نسخه يې ورته وليکله. پنځو بجو به خدای خبر
ې نثار هاغه پردې ته کتلي وي چې د برنډې سره جوخت
کوټې په دروازه لګيدلې وه، خو د هغه د زړه مراد پوره نه شو. د
ينک يو څوکيدار ورته وويل چې د ښاپيرۍ خور په کلي کې
سخته ناروغه وه او هغه د خپل ورور سره د کلي په يوه ټانګه کې
د وخته تللی وه.

ېرۍ د شفا په ناروغۍ اوس لړه لړه پوهيده. هغې ته دومره
احساس شوی وو چې شفا هم ـکه د نورو خويندو له موره ګيله منه
وه، هغې ليک و لوست وغوښتل، شعر سره يې مينه وه...خو مور
به ورته کتاب نه ورکاوه. ا خبره عامه وه چې جينکۍ شعر نه
وايي، د خوشال ديوان چې به په کوم کور کې موجود وو، هغه به
د لوستو جينکو نه پټ ساتل کيدو. ىفا د رحمان بابا ځينې شعرونه
ياد کړې وو. و څو د پښتو کتابونه ورته عابدې راغوښتي وو خو
په هغې کې به زيات ټکي د فارسي و او د دې د پوهې لپاره شفا
ځوک نه لرل چې ورته مانا وښايي. اعظم به کله ناکله ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولوستل خو په ډېرو خبرو هغه پخپله نه پوهیدو. د هغه د ښوونځي زیات کتابونه په اردو ژبه نور په انګریزي وو.

شفا د وجود د ناروغۍ علاج کیدو خو د هغې د ماغو د رنځ علاج د چا سره نه و. ډاکټر رام چند ورته ویلي وو چې د شفا د بې شۍ چپې کیدای شي ژور خفګان وي. خلکو به ورته (میرګي) ویل. ناپیرۍ نه غوښتل چې خلک خبر شي. په کومو جینکو ې د میرګي دورې راتلی، خلکو به ورپورې ملنډې وهلې چې دا میره غواړي. ناپیرۍ کلي ته په لاره په ټانګه کې د شفا د میرګي علاج لټاوه. ثار ورته په سترګو کې ودریدو، "هغه لوستی سړی دی مور ته به وایمه .. شفا به ښار ته راولو." ېر ځلي هم هغې مور سره د شفا د واده خبره کړې وه، د نثار په هکله یې ورته ویلي وو زهره په لومړی ځل احساس وکړو چې د هغې د ملاتړ لپاره اوس یوه لور لکه د نارینه ورسره ولاړه وه. ناپیرۍ پخپل تصور کې شفا ولیده چې ناوې شوې وه. د هغې واده په ښار کیدو، دې پخپله هم ځان جوړ کړې دی او نثار ورته ګوري.
ټانګه اوس د کلي په کچه لاره روانه وه خو ناپیرۍ تر هغې هم د شفا د واده په تصور کې ډوبه وه. د کلي د جینکو سره یې تمبل وهلو او د نکریزو شمع یې بلولې. خو یو وخت پدې سندرو کې د ژړا غږ هم شامل شو. هغې د مور ژړا واوریده او بیا ورسره د کلي د نورو ښځو ماتم هم ګډ شو. ناپیرۍ نه پوهیده چې دا د هغې تصور و او که حقیقت. ه د شنډ توت لاندې ولاړه وه، اعظم ترې پ کړی وو او خپل کور کوڅې ته یې منډې وهلې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپیرۍ د تصور دنیا رنګه وه، د کلي خلک د هغې د کور په لوري روان و او تر څو چې هغه رسیده، د شفا د کټ چاپېره د ګڼو ویر کاوه. د هغې د قبر کیندلو لپاره د کلي یو څو تنه په حجره کې راټول وو. څو په حجره کې د دې مرګ نه علاوه د واده د ډوډۍ تابیا هم کیده.

کرام په ښار کې واده کړې وو او نورجانۍ غوښتل چې ټول کلي ته د واده ډوډۍ بیا ورکړي. اکرام د دې سخت مخالفت کړې و. هغه په ښار کې ډېرې پیسې د ښاریانو د واده په دودونو خرڅې کړې وې او اوس یې دومره توان نه لیدو. څو نورجانۍ ورته واښ وکړو چې که دې ډوډۍ ونکړه نو هغه به خپل ټول کالي او که خرڅه کړي او د کلي خلکو ته به وښایي چې د هغې زوی بد نه و.

د تېرو څو میاشتو راهیسې هغې انتظار کاوه، ښار کې د اکرام یو ملګری ورله د بل واده انتظام کړې و. نورجانۍ لکه د مېلمنو هغه واده ته ورغلې وه او د ښاریانو کړه وړه یې چې ولیدل نو هوډ یې وکړ چې په کلي کې به ارو مرو مېلمستیا کوي. د هغې نوی انږور غسې ښایسته نه وه لکه ښاپیرۍ، خو د جامو کالو فیشن یې برابر و. نورجانه د شفا د ناروغۍ نه خبره وه، ولې بیا یې هم هره شپه په کور کې جینکو تمبلونه وهل او د واده سندرې یې وئیلې.

د شفا د مړینې سره د کلي مشران راټول شول او دوي اکرام او نورجانۍ ته نصیحت وکړ چې دا به ناروا وي چې د ځواني مرګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ا د خلوینتی نه وراندې دوی د واده خوشالی وکړي. د
ورجانی ارمان په زړه کې پاتې شو.

## یوولسم باب

## ۱۹۴۵

د شفا د مړیني دوه میاشتې پوره شوی وو، زهره خپله کډه بېرته
بنار ته اوړی وه. ظم او بناپیرۍ یو وارې بیا د مور او وړې
خور سره ژوند پیل کړې و او ۔ زهره په سر کې ناڅاپه د سپینو
ویښتو شمېر زیات شوی و. ځان ، د کندلو په ماشین اخته کړې
، خو هیڅ کار ته یې ډېره نه لګیده. . کور تول کارونه به ورته
جانی کول ىغه ډېره نرۍ او په ونه جګه وه خو خبرې یې اوس
هم د ماشومانو په شان کولې. عظم د سکول(ښوونځې)
وستی څو میاشتې پاتې وې، د لسم امتحانونه نږدې وو، خو هغه
ه کتاب ته ګوتې هم نه ور وړلی. په دې نوي کور کې د پخوانو
اوسیدونکو نه د کوترو یوه خېرګې پاتې وو، اعظم ځان له یو څو
رې له بازاره راوړې او مازدیګر به یې لکه د نورو ځوانانو په
کوټه تېراو.

پیرۍ به اوس د ډاکترې سیتا سره هغو کورونو ته هم ورتله چې
اشوم د ولادت لپاره ورپسې ځواب کیدو. ه بنار کې جلسې
سونه ډېر شوې وو، په لارو کې به کله خدایي خدمتګار، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاکسار او کله مسلم لیګیان ښکته پورته کیدل. س له ښاره لرې
ځینو کلو بانډوکې هم درملتونونه پرانیستل شوی وو. به ځینو
کې به ډاکټران نه وو او له ښاره به ورته په اوونۍ کې یو یا دوه
ې مسلکي ډاکتران او نرسان ورلیږل کیده. رام چند روغتون ته
هم دنده سپارل شوی وه چې دوی به خپل نرسان او کمپوډران کلو
ته ورلیږي او ماشومان ته به د چیچک (حکو کو) ستنې لګوي.
د دې کار پیسې اضافه وې و د ښاپیرۍ په شان هر چا د نورو
پیسو لپاره خپل نومونه ورکړې وو چې دوی به د چوټې په ورځ په
ىرکاري ګاډو کې کلو ته ورځي. د زهره دا خبره خوښه نه شوه،
لې ښاپیرۍ پوهیده چې یوه ورځ په کور کې تېرول هغې ته هیڅ
ګټه نه لري. ر به یې ټوله ورځ یا ژړل او یا به یې د شفا خبرې
کولې. رکاري ګاډۍ کې به ډېر کسان وو او دوی به په لاره
کې پخپل خپل منزل کوزیدل. ه وروستۍ کلي کې به ګاډې د ډلې
سره تم شو، او بیا به یې مازدیګر خپل سفر پیل کاوه. او بیا داسې
ل چې د وروستۍ کلي په ډله کې به یوازې نثار او ښاپیرۍ
ې شول او مازدیګر بېرته راوګرځیدو پر وخت به ښاپیرۍ په
ِاندوینۍ سیټ ناسته وه، یو څو اونۍ چې تېرې شوې نو د
کاري ګاډۍ ډرایور به کله کله شا ته ناست ولیدل شو او نثار به
پخپله اډۍ چلولو.

اعظم په زوره زوره د پاکستان زنده باد په چیغو په کوڅو کې د
نورو هلکانو سره منډې وهلې. ده بسته په سر ایښې وه او د نورو
هلکانو په شان یو کاغذ یې په لاس کې نیولی وو. ده چې د کور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـوازه خپرې ولګولی نو دروازه ورته انی له وړاندې خلاص کړی وه. ا د جانی مشغولتیا وه چې د کور له کاره به وزګاره شوه نو کوڅې په لورې کړکی به یې خلاصه کړه او له هغې به بې ښکته تلونکو ته کتل. د نورو کورونو په باریو کې هم کله نا ه ښځې او جینکی راښکاره شوی او د محلت مجلس به پدې کړکیو کې تود شو. ډېرو جینکو ته له کوره بهر د ورتلو اجازه نه وه، نن هم هغې د کړکی نه کتل او چې د هلکانو په ټولی کې یې ور ولیدو نو د دروازې زنځیر یې ورته راښکلو.

اعظم په یوه ساه بره وختـ او جانی ته یې کاغذ ښکاره کړو. نن په ګ ګم پارک کې جلسه وه، اعظ هم د خپلو ملګرو سره ورغلی و دا پاڼې یې راوړې وې. ځانی ته د سپین کاغذ پرمخ تور ټکي معنا ښکاریدل. هغه نه پوهیده چې ورور یې ولې دومره په جوش کې و، ژر ژر یې هغه ته ډوډی په یو پتنوس کې راوړه او کاغ بې د تخت تر څادر لاندې پټ کړوچې د مور له قهره وېرېده. عظم له ښوونځي ورو ه بې پوښتنې بل ځای ته تللی و او د زهره لپاره دا لوی جرم و خو هغه نن غرمه د محبوبې کور کې وه. د چا د واده ښه ډېرې جامې د ګنډلو لپاره دوی ته ورکړی شوی وې او زهره به هره ورځ هم هلته کار کاو. اعظم ډوډی خوړله او خور ته یې د خدایي ـدمتګارو او د مسلم لیګ د جلسو کیسه کوله. د جانی لپاره دا ټول ټکي نا اشنا وو خو هغې ورور ته غوږ ایښي وه، " اوس به پاکستان جوړیږي." اعظم ورته وویل، " ـګه به جوړیږي؟ ک به یې جوړوي؟" اعظم ورته خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومات ورکول، |هندوان به په هندوستان کې اوسیږي او
مسلمانان به په پاکستان کې. ‌هندوانو پاچا به ګاندي وي او د
مسلمانانو پاچا به جناح وي."

جا ی سره وخوځوو او پرېشانه شوه. ورور نه وېریده چې د دې
‌ه پوښتنو ورسره په جنګ نه شي. ‌یا یې زړه ښه کړو او وې
ویل، " ‌مولا خو یهوده ده...د هغوې پاچا به څوک وي؟...او د
ګیتا پ ‌به څوک وي، هغه خو سکه ده...؟ هغې لا د خاکروب
(موسلي) سلیم په هکله هم فکر کاوه چې د هغوې پاچا به څوک
وي، خو اعظم ډوډی خوړلی او د ‌پوښتنو د ځواب پرځای
بره په کوټه خپلو کوترو ته دانه اچولو لپاره وروختلو. جانی ته دا
‌ې خبرې حیرانونکی وې، هغې خو د یو پاچا ځیره لیدلي و، چې
په سریې ‌اج ایښې وو او ورسره د هغه ملیکه ولاړه وه، ‌نګرېز
پاچا. هم د ‌ې انګرېز پاچا د جشن په ورځ ‌عظم د خپل ښوونځي
نه د شیریني (مټایی) یوه ‌ړه ټوکړی راوړې وه. ‌مور یې وویل
چې پکې پوره یو پاو بالو شاهی ایښې وه. اعظم ‌ هغه یو رنګین
تصویر هم راوړې و او ورته د هغه نوم ‌م ښودلی وو، جارج
‌ځم...او جانی ته به د هغه غوږونه د هغه د مخ نه ډېر غټ
‌کارېدل.

‌ښام ناوخته ښاپیری له کاره راغله، هغه نن ډېره خوشاله
معلومیده، ډوډی یې ه‌ ‌سمه ونه خوړه او په کټ څملاسته. جانی
ډېره موده وروسته د هغې پ‌ شونډو ګلابي رنګ لیدلی و. د واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرخي پوډر هغې پخوا د بکس په تـ ـې ورک کړې وو خو له څو
رځو راهیسې یو یو شی بیا دهغه وړوکی هنداري په چوکاټ کې
ښکارېدو چې د د ـې د کوټې په یو دېوال ځوړنده وه. ـه جانی دا
هر څه ډېر ښه لګیدل، د شفا د مړینې وروسته ددوی په کور کې
یوې ـی خاموشی خپل څادر غوړولی و. زهره به ډېرې لږې
برې کولې، خو اوس به ښاپیری کله ناکله د جانی سره ټوکې
وکړې. اعظم به د دې له لاسه شی وتـ تولو...شوخي به یې وکړه
او ښاپیری به له خندا شنه شوه.

ه ورځ جانی په کور کې یوازې وه، زهره د هرې ورځې په شان
محبوبې کره وه، ښاپیری نابېره ـ کوڅې دروازه وټکوله. جانی له
ـړکی ـیدل چې ښاپیری سره یو سړی هم و. دوې بره کور ته
ـاوختل او ښاپیری بورقه لیرې کړه، بیا یې هغه سړی ته وویل، "
دا زما تر ټولو کشره خور ده، جانی."

ـانی ته مور ویلي وه چې مېلمانه راشي نو سمدستي د چایو لپاره
اوبه په نغري باندې کېږدي. هغې ـداسې وکړل، ښاپیری د خپلو
ـاروګانو بکس په کور کې هیرکړی و، هماغسې راغلی وه. د
ـاپیری د خولې نه ـې ته د سړي نوم څرګند شو. جانی په
نځي کې اخته وه، خو له دروازې یې لیدله چې خور یې هغه
سړی له لاسه ـنیوله او لویې کوټې ته یې بوتلو چې د پاچا انځور
ـرته وښایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژرڅو جانۍ چای جوړولی، مېلمه د هغې خور سره همځوله په لویه کوټه کې ناست و. جاۍ وارخطا وه، د هغې په کور کې چېرې پردی سړی نه و راغلی. د عابدې خاوند صمد خان هم د دوی کور ته راتلو نو په برنډه کې به یې په تخت ډوډۍ وخوړه او بیا به په ار کې ورک و. ښاپېرۍ به له هغه مخ پټوو. خو نن ښاپېرۍ د دوی د کور قانون مات کړې و. .روازې زنځیر چې وکړنګیدو د جانۍ زړه جوړ شو، زهره پاس راوختله نو وې لیدل چې نثار ـ تخت ناست وو او ښاپېرۍ د جانۍ سره د چایو شیان برابرول.

ر زهره ته راپاڅیدو، ښه تود سلام یې ورته واچوو او هم هغه خبره یې ورته وکړه چې له ښاپېرۍ د دارو بکس په کور کې پاتې شوې و. ا ښاپېرۍ د چایو پتنوس په خت کېښود او مور ته یې وویل، " ما ویل چارسدې ته لاره ډېره ده، چای به وڅښو نو بیا به روانیږو" زهره ترې ، نورو نرسانو پوښتنه وکړه نو نثار ورته وویل چې " په سرکاري ګاډي کې تللي دي، موږ به اوس په ږل ګاډي کې ځو." ـهره نور هیڅ ونه ویل ..ښاپېرۍ او نثار چای وڅښلې او د خدای په امان په ویلو له کوره ووتل. جانۍ لوښې راټولول چې مور ورباندې غږ وکړو، " ـۍ څه مهال راغلي وو؟" جانۍ په انګڼ کې د لمر او د سیورې لیکې ته ودریده، بیا یې په یو ځای پښه کېښوده، " نمر په ـې ځای کې و."

زهره د سیورې پلن والی ته ـکتل او تندی یې ګونځې شو. جاۍ ـوهه شوه چې ښاپېرۍ راګیره شوې وه. هغه اوس د مور په تندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پو هیده      ا زهره چې نورې پوښتنې پيل کړې نو جانۍ وارخطا شوه.   اپيرۍ په هغې ډېره ګرانه وه او ذ، يې غوښتل چې مور ورسره شر وکړي.  ځان د خلاصولو لپاره يې مور ته وويل، " زه نه يم خبره.   ټول وخت په نغري کې اور بلولو، لرګي لامده ، څه به مې کړې وای؟"  ماښام لمونځونه شوي وو چې ناپيرۍ کور ته را ورسيده.   هره غوښتل چې ورسره خبرې وکړي ځو د ښاپيرۍ په اوږدو نريو ګوتو د قلم نښې او د هغې په ورو بوټانو سپينې دوړې ورته د هغې د روزګار حال په چيغو ويل.   نۍ ورته د وړاندې نه اوبه تودې کړې وې. ناپيرۍ چې ځان ووينځلو او مور ورته ډوډۍ راوړه نو دې بيا په بالښت سر ې او د خوب په وادۍ ورکه شوې وه.

ږ د زهره خوب تښتيدلی وو.  د شفا مړينه يې هيره وه او ښاپيرۍ کړو وړو ته زياته وارخطا وه.  هغه خبره وه چې نثار واده شوې دی، لوی لوی اولادونه لري، يوه لور يې هم واده کړې وه.  خو هغه ميخ ډول داسې نه ښکاريدو چې د دېر عمر به وي.  د هغه جامې به د ډاکټر  ام چند د جامو نه ښايسته وې. کوټ او پتلون به يې د صدر د يو اوچت درزي نه جوړول، بوټان به يې د څرمنې او د زمانې د فيشن سره سم برابر وو.  سيګريټ به يې د هندي فلمونو ټر پرتوی راج په شان په لاس کې نيولو، د کوټ د لاندې د واسکټ په جيب کې به يې طلاي ګړۍ ايښی وه چې زنځير به يې بهر ځوړند وو.   س خو يې موټر هم اخيستی وو، او زهره ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره لوړ معلومه وه، د هغې سترګې به تل اسمان ته وې، د کلي نه ‌ ياته په ښار کې خوشاله وه.

خو څو ورځې چې ډېره نارامه شوه ، يوه ورځ ډاکټرې سيتا ته ولاړه. هغه د مريضانو سره بوخته وه، د ډوډۍ په وقفه کې يې زهره خپلې کوټې ته دننه کړه او تر ډېره وخته يې ورسره خبرې وکړې. زهره چې له هغې کوټې راوتله نو داسې ايسېده لکه چې يو جوارګر خپل هر څه ی وي، سترګې يې په ژړا سرې او ک يې ژېړ تښتيدلی وو.

زهره په برنډه کې دوي اتول وو، محبوبه هم راغلی وه. ښاپېرۍ دننه په کوټه ، او جانۍ په پخلنځي کې بندې وې. دواړو د برنډې خبرې اوريدې. نن په مجلس کې دلاور خان نه وو، يوازې مد خان ناست وو، عابدې څلور اولادونه په کلي کې پريښې وو، يو يې په خېټه ې خان سره راوړی و. ډاکټره سيتا او رام چند هم غلل او د ښاپېرۍ د واده خبرې پېل شوې. او بيا فيصله پدې وشوه چې بل اتوار ته به نثار د خپلو څو ملګرو او خپلوانو سره اځي او د نکاح نه ور سته به ښاپېرۍ خپل کور ته بيايي. فيصله هم وشوه چې د زهره له خوا به يو څو مشران پدې نکاح کې ښيني او د محلت خلکو ته به په بله ورځ شيريني وېشل کيږي.

ه ورځې وروسته محبوبه او جانۍ ولاړې چې د نثار کور وګوري او د ښاپېرۍ د ځای ځايګي اندازه ولګوي، خو هلته د نثار ښځه شاترينه ناسته وه او محبوبې ته يې صفا وويل چې د نثار

(c) ketabton.com: The Digital Library

.ويمه ښځه به د دې په مړي راتېرېږي. زهره وارخطا شوه او نثار پسې يې ړاب وکړو. ښام بيا د برنډې پر تخت د محبوبې، زهره او د نثار خبرې وشوې. غه ورله ډاډ ورکړو چې ښاپېرۍ ، بل کور اخلي، سودا شويده او په دوو ورځو کې به کيلي (کنجي) د ده په لاس کې وي. زهره يو څه تسله شوه خو د ماپېرۍ بخت ته حيرانه وه. په لومړۍ واده يې کور و، خاوند يې نه و، اوس په دويم واده کې خاوند لري او کور يې نشته. د وتن لمونځ کې يې ښه په چيغو چيغو وژړل، جانۍ او ښاپېرۍ دواړه ورسره په مصلا کيناستې او دوی هم ژړل. اعظم په کټ کې ملاست وو او د کړک ۍ د شيشو نه بهر اسمان ته يې کتل. هغه ټولو ته په قهر وو، مور ته، ښاپېرۍ ته، جانۍ ته، نثار ته. . . که د پلار ټوپک يې په کلي کې نه وی، نو س به يې ټول وژلی وی او پخپله به د محبوبې خپلوانو سره کابل ته تښتيدلی وی، خو داسې ونه شول. ماپېرۍ په دويم ځل واده شوه او د نثار سره د هغه وړوکی کور ته ولاړه. د دی کور په لاندينی برخه کې لا پخوا د نثار ورور او وريندارې د خپلو شپږو اولادونو سره کډه کړې وه. ه ته يې وويل چې دوی د ښاپېرۍ خدمت ته راغلي دي، خو د نثار ټولو خپلوانو په لو ی ځل دا احساس کړی و چې هغه شتمن و او د هغه د دولت وارثان يواځ . هغه اولادونه او ښځې نه دي.

هره به اوس کلي ته ډېره نه ورتله، د ښاپېرۍ د واده نه ټول خبر شوی وو. کلي ښځو ورته د مبارکۍ په بانه ډېره تسلي ورکړې ه چې د ښاپېرۍ کور بيا اباد شو. خو زهره خبره وه چې په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کې د خبرو موضوع زهره او د دې لور وه. د هغې د شپې ب هسې هم تبنتيدلې و، اوس يې د نسوارو عادت اخيستى و. د غرمې او د شپې د ډوډۍ نه وروسته به يې چې نسورا په خوله کې ونيول نو دمه به شوه. ځانې سره اوس د لوبو لپاره د عابدې دوه اولادونه وو، ماه جهان د ښار په ښوونځي کې سبق ته ښينول شوی او کوثر به ورسره په تانګه کې تله راتله، ورځ به يې نيا کره تېره کړه.

زهره تر ډېره وخته د ښاپيرۍ کور ته نه ورتله، خو نثار به خپله ناوې هر ماښام مور کره راوستله. د اتوار ورځ به يې ټوله ورسره واړوله او پداسې يوه ورځ چې عابده او صمد هم د ښاشومانو سره راغلل نو د زهره په کور کې به ښه ګڼه ګونه شوه. د ماشومانو خندا او منډو ترړو د زهره د کور سکوت مات کړو او هغې ته به خپلې اندېښنې ځايه ښکاره شول.

## دولسم بلب

اعظم د تخت نه سپينه توليه او پاکې جامې را واخيستې، او له پړنو ښکته کوټې ته ورکوز شو. انې هم دغسې د تخت سره نږدې ولاړه وه، هغې يو لاس پخپل انګي ايښې وو، د بل لاس ګوتو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیر وه، چې په او ـ د صابونو پر ځګ چودیدلی وې. په غوږ.ونو کې یې اوس هم د اعظم یوه جمله بیا بیا آوریده!

" که بیا مې په کوټه ولیدې نو پښې به درله ماتې کړم." اعظم نن هغه په ځپېږه وهلې وه. خو جانی نه د مخ، د لاس او د زړه درد هیر و. ې په تخت ایښې د چایو پیالی د تنور ډوډۍ او د پیروی کاسې ته کتل. ورور یې بې له چایو له کوره وتلی و. هغه حیرانه ه چې مور ته به څه وایي، زهره پدې محال د محبوبې په کور کې یوې بړستنې ګنډلو ته ناسته وه او د خپل زوی اعظم د بد خوی فریاد یې کاو. دي په لسم کې کامیاب شوې و. خو نمبرې یې ـمره ښې نه وې چې د ډاکټرۍ په کالج کې یې داخله اخیستې وی. پېږۍ هڅه کوله چې ورور ته په رام چند کلنیک کې کار پیداکړي، نثار ورله د کمپوډري د امتحان لپاره کتابونه هم ـ اغوښتي وو.

اعظم به نیمه ورځ ویده و، ماسپښین به یې کوترې الوزولې او ـابنام به د یارانو سره کله سینما او کله کیسه خانې او صدر کې ـ ځیدو. کوټه یې د فلمي ستورو له عکسونو ډکه وه. نن چې له خوبه را ویښ شو، نو د ده د لمبا لپاره اوبه نه وې. جانی له سهاره د کور ټول ځادرونه او میز پوښونه وینځلی وو. . کوځې مشکی هم نه ښکاریدو چې دوی ته یې یو مشک اوبه راوړی وی. پدې حال کې به اعظم د بازار سقاوې ته لاړو. ـانی ورور ته جامې ـ تولیه پر تخت کیښودل او پخپله د کنګال شـ ـ ځادرونو ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالتي سره کوټې ته وختله. اعظم ښه ډېر وخت هم هلته پر تخت ناست و، مور ورله په لسم کې له کامیابیدو وروسته د لاس ګړی اخیستې وه. ه به هر شېبه خپلې ګړۍ ته کتل او اخر یې صبر تمام شو. دی خبر و چې د خواو شا کورونو کوتر بازان کله کله د غرمې هم په کوټه ګرځېدل، او جانې چې ډېر وخت واړولو نو دی ورپسې غلی بره وختلو. په کوټه ټوله تناوونه له تکو سپینو، شنو او انې رنګه څادرونو ډک وو.

جانۍ تش بالټۍ د پړونو سره ایښې او د بازار په لورې د دیوال د سوریو نه یې ها خوا په لو ، سړک د لاریو موټرو ننداره کوله.
غه له دې خبره نه وه چې د هغې ښې لاس ته، درې کوره لرې د وبه دار سلیم ځوی شهباز، وتره په لاس د خپل کور د بنۍسره ولاړ او دې ته یې کتل. هغه له دې هم خبره نه شوه چې ورور یې یو ویړ شوی څادر شا ته ولاړ، ه شهباز او کله دې ته سترګې برندې کړې وې. جانۍ خو هغې موټر ته ځیر وه چې د پاسه پرې سپېږ او زرغون رنګه جنډې رپیدې خواوشا ترې خلک راټول وو.

موټر چې د .ۍ له سترګو پناه شو نو دا ښکته راکوزه شوه، تش بالټۍ یې ایله پر ځمکه ایښې وه چې اعظم ترینه په سخته لهجه ښتنې پیل کړې. نې یو څو ځوابونه ورته ورکړل او ژر تر . یې لوښې راټولول چې د غرمې کټوۍ برابره کړې. خو اعظم پاڅیدو له کمڅې یې ونیوله په مخ یې ورله څو څپیړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړې. هغه هک پک پر خپل ځای ولاړه وه او خبره نشوه چې
ږرور يې څه وخت توليه اخيستې او سقاوی ه تللی او مور يې څه
وخت کور ته را دننه شوې وه.

زهره چې د جانی پر مخ د ګوتو نښې او هغې د سترګو اوښکې
اوليدې نو په سر يې اور بل شو. نن په لومړي ځل د هغې له
ولې اعظم ته ښيره راوتلې وه، د سيد کرم د مرګ پرهر يې تازه
شو. ظم ورباندې ګران و، خو پخپلو لوڼو يې د چا لاس اوچتول
نه شو زغملی. عابدې خاوند صمد د زهره د ګواښ نه وروسته
عابدې ته بدې ردې وئيلې خو له وهلو نه به يې ډډه کوله. د زهره
ې ژبې ته يوازې ښاپيری او اعظ تينګيدی شول. جانی د خدای
مظلومه وه، ټولو به ويل د دې خبرې نه دي زده. د عابدې لور
کوثر به ترينه زياتې خبرې کولی شوی. زهره د اعظم په انتظار
وه او کله چې دی له سقاوی بيرته راغلو و د مور وينا ته يې هيڅ
پام ونه کړو. جامې يې بدلې کړي او چې زهره ورته مخې ته
وريده نو ورته يې وويل، "د کومو لوڼ مينډې چې ټوله ورځ له
کوره بهر وي، وررڼه يې د وهلو حق لري." پدې خبره زهره په
واړو لاسونو خپل مخ په ځپېړو ووهلو، خو اعظم په منډه له کوره
او ب له کوڅې هم پناه شوی وو.

په ښار کې لويه شوی وه اوپه خوی عادت کې له خپلو
خويندو نه څه بل شان وه. ه هر کار يې سليقه له ورايه ښکاريده،
ږهره نه غوښتل چې دا لور يې هم د نورو په شان وړه واده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظم لپاره به يې جينکۍ کتلې، جوړې جامې به يې اخيستلې چې
هغه په کار ولګي نو په کال کې دننه به ورله واده کوي. خو اوس
اعظم چلن او د جانۍ ړدو وريښمينو ويښتو ورته ندېښنه پيدا
کړې وه او د ې حل د جانۍ په واده تماميدو. د دوی پخوانۍ
حلت کې د شفا او د ښاپيرۍ د ډېرو ملګرو کورونه اوس تش وو.
رمولا کورنۍ يوه ورځ ناځاپه ورکه شوه، چا ويل دوی فلسطين
ته تللی دی. شياما پلار په کراچۍ کې دوکان خلاص کړې او
دوی کډه وړی وه. د هر چا په خوله د پاکستان د جوړيدو خبره
وه. اعظم به اوس ډېرو جلسو ته ورتللو او زهره د هغه له خولې
اوريدلی وو چې د هندوستان ويش به کيږي.

عابده به اوس يوازې د اختر په ورځ مور کره راتله د هغې پنځم
اولادشوی و او د دلاور خان په دې لوی کور کې به هره ورځ په
دسترخوان کاسې اوړيدې. يو دوو ماشومانو به د ميندو نه وهل
خوړل، يو دوه به پکې په ژړا وو او يو دوو ښځو به پخپلو کې
خبرې بندې کړې. ميوه او شيرينی به په کوټو کې د بندو دروازه
شا ته خوړل کيده و اخر دلاور خان مجبوره شو چې د ټولو زامنو
ټوۍ او نغرۍ بيل کړي. ې فيصلې دوه ورځې وروسته ددې
ر په انګړ کې شپږ چوترې او د خاورو نغرې جوړ شول.

زهره ډېره هڅه کړه چې د عابدې لور کوثر نږدې کلی کې د
جينکو ښوونځي کې سبق ووايي، خو د دلاور خان د کور ټولو
ړو او ښځو په يوه خله د دې مخالفت وکړو. "د خانانو لوڼه سبق

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وايي." دا د هغې کور دستور و. عابدې پخپله د پلار نه په کور کې ښتو کتابونو لوستل زده کړه کړي و، خو اوس دومره وخت او توان يې نه لرلو چې خپلې لور ته سبق ښودلی وی.

ږه اوس پخپلو ټولو حواسو سره ځان سره کرل ريبل چې د ـانۍ د واده لپاره چا سره زړه خواله وکړي؟ محبوبه ورته په انو کې يو څو کورنۍ ښودلی وی خو نن هغې د ښاپيرۍ لاره څارله. ښاپيرۍ لور شوی وه او دوه مياشتې په کور کې د تېرولو نه وروسته هغې يو وارې بيا په رام چند کلنيک کې کار پيل کړې و. ه کلی کې ښځو لا د ښاپيرۍ د دويم واده په خبرو نه وې سترې شوي چې د هغې د ماشوم خبر يې واوريدو. هرې يوې به ٠ ګوتو شمېرل چې د هغې د نکاح او د ماشومې د زيږيدو ترمنځ څومره موده تېره شوی وه. شمۍ دايې پدې خبره چا باور نه کاو چې ماشوم د نهو مياشتو نه وړاندې هم زيږيدلی شي. اوس تازه وضوع د ښاپيرۍ دا چلن وو چې د دوو مياشتو لور به يې خپلې مور ته پرېښوده، خپل ىې (شوده) به يې نه ورکولې او د شيشې په بوتل يې ماشومه غلی کيده. هغې ښځې چې د زهره په کور کې د ماشومې د پيو د شيشې بوتل ليدلی و، ټولو ته يې د دې خبر ورکوو. دا چې هغه ۏتل د کشتۍ په شان جوړ دی، دواړه مخه خلاص دی او د ربړ تې پرې لګيدلی وو.

ښاپيرۍ نن پخپل کور کې وه او زهره خبره وه چې پداسې ورځ به دا د نثار او د ماشومې سره ماښام مور کره راتله. هر په کوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د موټر غږ په ا ریدو جانی دروازه خلاصه کړه او پخپله
ږخلنځي ته ولاړه، د هغې سترګې په ډېرې ژړا پړسیدلې وې او نه
ې غوښتل چې نثار یا ښاپیرۍ یې وګوري. ښاپیرۍ راتلو سره
اعلان وکړو، " ږې موږ فلم کتلو ته ځو." خو مور یې ولیده چې
پر تخت ملاسته او سر یې په سور رومال تړلی و نو پرېشانه شوه.
هم هلته په تخت کیناسته، نثار هم راغلو او چې د زهره نه یې د
ورځې حال واوریدو نو دواړه غلی کیناستل. د فلم پروګرام یې په
ځای پرېښودو او د زهره سره یې خبرې پیل کړې. د شپې ناوخته
پېرۍ او نثار بیرته خپل کور ته ولاړل او زهره ته یې ډاډ
ورکړو چې په بله ورځ به د اعظم سره خبرې کوي.

زهره خبره وه چې اعظم به ناوخته کور ته راتلو، هغه تر نیمې
شپې په مصله ناسته وه، نفلونه یې کول. خو داسې ښکاریده چې
اعظم په هغه شپه د کور لاره هیره کړې وه. جانی ویده وه او د
ملا د بان غږ سره یې د مور ژړا هم واوریده. زهره کرۍ شپه
د اعظم په انتظار تېره کړې وه، او اوس یې صبر تمام شوی و. په
کوڅه کې بی خرخونکي به سهار ناره کوله. نن هم د هغه د نارې
سره‌سم زهره بورقه په سر له کوره ووتله. محبوبه خبره شوه او
و ورو ټول محلتیان هم خبریدل، ښاپیرۍ نثار ته په ژړا وه چې
د ورور درک یې معلوم کړي. د اعظم د ټولو معلومو او نامعلومو
ګرو په کورونو کې لټه پیل شوه، پولیس خبر شو. ر ماښامه
ده شوه چې اعظم د خپلو دریو نورو ملګرو سره یو ځای د
ار د اورګاډو استیشن کې لیدل شوې و. دوي سهار وختي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی په ګاډي کې سپاره شوې وو. ښاپېرۍ زړه تسله کړې و، خو مور ته یې نه وو وئیلې.

اوس چې مور کره راغله نو هغې ته یې ول حال تېر کړو او ژوند واریې بیا پخپل ډګر روان شو. زهره ټول توان لکه چې په یوه شپه کې اوبه شوې وو. غې اوښکې اوس وچې وې او کله کله به یې سلګۍ وکړې، بیا به یې اسمان ته کتل او د هیچا خبرو واب یې نه وئیلو. عابده د یو ځو ورځو لپاره کلي ته راغله او ټوله ورځ به یې مور سره په خبرو تېره کړه.

ښانۍ به د محبوبې په کور د مور نیمګړی کارونه پوره کول. د هغې لاس صفا وو او محبوبې ورته تارکشي او د سیلمۍ ستارو کارهم ښودلی و. سږ کال زهره وریژې کرلې وې او فصل یې په ښه بیه خرڅ کړو. نه د ډوډۍ له غمه یو څه بې غمه شوی وه، خو اعظم ورته په زړه دومره لوی پر ر پرېښودو چې د رغیدو نه و. یوه میاشت چې تېره شوه نو نثار ته چا خبر راوړو چې د پېښور هغو ځلورو هلکانو د بمبیی په فلمونو کې د کار لپاره ځانونه وړاندې کړې وو. بیا اعظم کور ته یو لیک راولیږلو چې مور نه یې بخښنه غوښتې وه او دا چې ډېر ژر به دی په یو هندي فلم کې ښکاره شي. د دې لیک سره هغه یو ښکلی عکس هم و.

ښاپېرۍ چې خبره شوه نو مور سره یې ټوکی پیل کړې، چې دا به م بمبۍ ته لاړه شي او د دلیپ کمار سره به ووینې. زهره یو څه ارامه شوه چې زوی یې ژوندی او روغ و. د هغې وسوسې ختمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې د ورځې ژوند یې بیا سم شو. خو د شپې به یې ټول فکرونه د زوی په هکله وو، "خدای خبر سمه ډوډۍ به یې خوړلې وي که نه؟ جامې خو یې هم نه دې وړې...پیسې ورسره نه وې، په کوم حال کې به ژوند کوي."

په بل سهار زهره د خپل خاوند د پینشن د پیسو اخیستو لپاره کچرۍ ته ولاړه نو په دفتر کې نوی منشي ناست و. زهره د یوسف پوښتنه وکړه نو خ ه شوه چې د هغه ښځه مړه شوې وه او دې ۔ لسو ورځو لپاره په چوټۍ و. زهره خپلې پیسې واخیستې او کور ته روانه شوه. ز په لومړی ځل هغې ته احساس وشو چې د یوسف د کور اوکلي درک معلوم کړي، د ده په غم کې شریکه شي. د خپل زوی خبرې ورسره وکړې. د شفا د مړینې نه وروسته سف څو وارې د دې کور ته راغلی و. څومره کارونه یې هم ورته کړې وو، د ډېرو جنجالونو نه یې دا راویستې وه.

، ورځې نورې تېرې شوې نو زهره بیا د پنشن دفتر ته ولاړه. د هغې هیڅ کار نه و خو یوسف سره یې لیدل غوښتل. هغه خپل ځای ناست وو او چې زهره یې ولیده نو ورته د احترام لپاره ودرېدو. هغه یوې خوا ته کیناسته او انتظار یې کاو چې یوسف له کارونو ا ځګار شي نو دا ورسره خبرې وکړي. یا ښه ډېر وخت زهره ورسره خپلې خبرې کولې. ؞غه د ښځې په مړینې یې .ومره ژړا ونه کړه څومره چې د اعظم په کیسه یې اوښکې تویولې. یوسف ورته تسلي ورکوله او د اعظم په رویه یې افسوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کاو.      ي ورته د خپل يو ملګري پته ورکړه چې د تجارت
لپاره به کلکتې او بمبيی ته تلو راتلو. د هغه په نوم يې يو ليک
ورله ورکړو چې پکې د اعظم درک او د هغه سره د مرستې خبره
ليکلی وه. د زهره زړه ډاډه شوه، کور ته را غله نو جانی ته يې
ول حال وويلو. اپيرۍ هم خبره شوه، په بله ورځ دوی د اعظم
پاره د جامو او د وچې ميوې يوه غوټه برابره کړه، ښاپيرۍ د
ورور په نوم يو ليک وليکلو او د بمبيی تجار ته يې ورسول.

## دیارلسم باب

## ۱۹٤۷

اوس په بمبی کې څلور مياشتې تېرې کړې وې. په جنګي
مونو کې به ده د جنګيالو په ډلو کې کله توره بريښوله، کله به يې
دسړ ، او څپيړې جنګ کاوه او يو نيم وخت به يې يوه جمله
ډيلاګ هم ووئيل. ورځې ، ورته يوه روپۍ ورکړې کيده، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه ورته سم کار نه وو پیدا شوی. نه د پیښور د یوسف خان (د لیپ کمار) او د راج کپور غوندې بخت نه لرلو. دهسره ورغلي درې ګري دوه میاشتې په خوا بیرته خپلو کورونو ته ورغلی وو. اوس به اعظم کله نا کله خپل کور پسې خپه شو. د مور د لاس ډده ډوډۍ، د ښاپیرۍ سره خبرو، د کلي مازدیګری به ورته ترګو ته ودریدل، خو تر اوسه یې دومره پښې نه وې ګټلې چې خپل کلي ته هسکه غړۍ ورغلی وی. خپل فلمونه به یې څو څو ، پخپلو پیسو کتل چې ځان پکې وګوري. خو هغومره کار چې ده به پکې کړې و، په فلم کې نه ښکاریدو. تر اوسه هم د ده د مخ له نږدې عکاسي نه وه شوی او دې پدې سخت خپه و. خو س پکې راګیر و نه پوهیدو چې څه وکړي.

د ده سره راغلو ځوانانو ک یو تن قیوم په څو فلمونو کې د هیرو د ملګري رول لوبولی و. د فلمونو د اعلانونو په لویو پوسترونو د ده نوم هم لیکل کیدو. اعظم به ماښامي د خپلو نورو ملګرو سره ځای د قیوم په هکله خبرې کولې ځکه قیوم اوس دوی سره نه اوسیدو. دی د یوې ډېرې نومیالۍ فلمي ایکټرسې سره د هغې په کور کې مېشت و. د هغه په اړه یو خبر تود و چې ډېر ژر به دواړه واده کوي. ظم به پدې خبره نور هم کړیدو، ځان به یې هر وختې هنداره کې لیدو و د قیوم او ځان ترمنځ به ورته هیڅ وپیر نه ښکاریدو. ولې په ده تر اوسه کومه مشهوره ښځه نه وه مئینه شوی؟ د بمبی په فلمي ستوډیو ګانو کې د ده په شان د ښه رول او چانس په نظار ډېرې ځوانې جینکی هم راتللی و یو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعظم ته ډېر نازونه هم ورکړي وو. خو د هغه سترګي اسمان ته ، او په اسمان کي ځليدونکی ستوري د ده لاس ته نه راتلل.

د کور نه ورته د جامو او د وچي ميوې سوغات را رسيدلی و، د ړرو ملګرو ليکونه به هم راتلل. س د هند د وېش خبره ښه توده‌شوې وه. ځيانې به هم پدې خبرونو ډکې وې. يوه ورځ اعظم د نورو ډېرو ځوانانو سره په يو جنګي سين کي د توري نګ کاو. ريهرسل وشو، خو په فلمبندۍ کي به څه غلطي وشوه. ډايريکټر به "کټ" يلو او ټول به بېرته خپلو ځايونو ته ولاړل.

اعظم د فلم د مرکزي کردار جامې اغوستې وې، ـل جنګ ده ورته کوو، او کيمرې د ده شا او اړخونو ته ودرول شوې وې. دی خبر و چې په فلم کې به ، داسي ښودل کيږي لکه چې هيرو له جنګ کوي. نيمه ورځ تېره شوه خو تر اوسه د ډايريکټر په خوښه سين نه و لوبول‌شوی. اعظم ستړی و، مايوسي هم ورسره وه، پدې وخت کې ډايريکټر قهر شو او د مور ښکنځله يې ورته وکړه.

عظم توره وغورځوله، د يو ميز نه يې دشرابو ښښ بوتل را واخيستو او د ډ ريکټر يې پرې ووهلو. د فلم ـتينګ ند شو، ټول په زخمي ريکټر راټول وو چې د سر نه يې وينې دارې وهلې. اعظم په منډه د سټوډيو نه ووتلو، شاته يې نه کتل. ه خپله ځايه يې ټول بان ژر ژر راټول کړل، کوټې په سر کې يې ډاګې وليدو چې د ده په نوم يو ليک ورسره و. اعظم په تادي کې ليک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې واخیستو ه لوی سړک یې تش سایکل رکشه کې ځان ور واچوو. ه خپله ښاره را وتلو پر وخت چې کومه تلوسه ورسره وه هم په ه تلوسه اوس د بمبۍ له ښاره په تېښته وو. و دا ځلې م اورګاډې لکه چې د ده په انتظار ولاړ و. ده د لومړۍ درجې ټې ټ واخیستو او ګاډي ته ور وختلو. ده سره په لاره کې ځینې کسان مل شول، خو د اعظم زړه له خبرو تور و. سترګې یې پټې نیولې وې ټول فکر یې دې ته وو چې په لاره کې یې پولیس ونه نیسي. دا وهم ورسره وو چې د بوټل ګوزار سخت و، که ډایریکټر مړ وي نو د قتل د سزا نه به ځنګه تښتي.

اعظم ، ورځې په لاره کې تېرې کړې او لاهور ته چې رانږدې شو نو زړه یې و ځه ارامه شو. په لاهور کې یې یوه ورځ دمه وکړه او چې یې جامې بدلولې نو د کوټ په جیب کې هاغه لیک وموندلو چې د بمبۍ نه د را و لو پر وخت یې ډاکې نه اخیستې و. د لیک په لوستلو یې زړه بیا نارامه شو. ښاپېرۍ ورته د جانۍ د واده خبره کړې وه. د هغې واده د جمعې پر ورځ و، د اعظم نه ځې او تاریخونه خطا شوی وو. د سرای واله نه یې پوښتنه وکړه نو هغه ورته وویل صبا د زیارت ورځ وه.

ظم سهار وختي له هوټله ووتلو په زړه کې یې هوډ کړې وو چې د جمعې په سه ه ارو مرو پېښور ته ځان رسوي. . ګاډې ټکټ یې واخیستو او پخپله په انتظار کیناستو. په ټیشن کې یو کس نورو ته لګیا و چې په هندوستان کې د مسلمانانو وژنې پیل شویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعظم ، اخبار خرڅوونکي نه يوه ورځپاڼه واخيسته او بيا ټولې پاڼې يې ولوستلې. د .ه ګاډې چې د ډېلي نه راتلو په لاره ځنډيدلی و.

د عابدې زوی شاجهان چې له کوره وتلو نو مور ورته يو ليکلی غام په جيب کې کېښودو او ورته يې وويل، " ښاپېری ترور ته يې په لاس کې ورکړي." اه جهان به داسې ځينې کاغذونه ی ته وړل، ځينې به ترې هېر شول. پدې کې به عابدې د وې يا د بلې ښځې ناروغي ليکلی وه او ښاپېری به يې په ليدو ورته دارو درمل برابر کړل.

اه جهان د تانګې کوچوان ته د رام چند کلنيک ته د ورتلو وويل، بې هلته ورسيدل نو څه ګوري چې د کلنيک مخې ته په يوې لوی لاری، د رام چند د کور شيان باريدل. شاه جهان ترور پسې لته وکړه خو هغه له کوره نه وه راغلی او چا ورته وويل چې نثار او رام چند کچرو ته ورغلی دی چې دا کلنيک به اوس د نثار شي. اه جهان بېرته تانګې ته ورمنډه کړه، کوچوان اسپې ته چابک راخلاص کړو او شاه جهان چې پخ ل ځای کيناستو نو ورته يې وويل، " زه د خيره...کانګريسان روان شول." داخبره هغه په کلينک کې د چا له خلې اوريدلې وه.

و څو ورځې وروسته د رام چند کلنيک بورډ لرې شو او د هغې پر ځای په شنو او سپينو رنګونو يوه نوی لوحه خلکو ولوستله.

" نثار کلنيک برای زنانه و مردانه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

نثار لومړی ښځې شه ـينې اوس د ښاپېرۍ وجود منلی و. ـيو څه
ـده د ښار لوی کور ته تلله راتلله خو اخر يې فيصله وکړه چې دا
به په کلي کې اوسيږي. اپېرۍ او نثار خپله کډه لوی کور ته
يوړه نو زهره هم خپل کور لوښي لرګي راټول کړل. د هغې په
ـر کې ډېر شيان نه وو، خو څه چې يې په تېرو کلونو کې په
ـار کې اخيستې وو، ـه يې د جانۍ لپاره کېښودل. د کلي کور
يې بارانونو وهلی و هغې په جوړولو يې ډېرې پيسې ولګيدې.
ـاپېرۍ به ورته وويل چې هاغه کور کې دې زميندار کينوي چې
ـر ورله ساتي، خو زهره پخپل کور کې پردي کسان نه غوښتل.

بيا يوه ورځ چې يوسف د دې کور ته راغلو نو خپله ورينداره يې
هم راوستله. ـزهره يو څه شک منه شوه او د ډوډۍ نه وروسته دا
، يې په باور بدل شو کله چې د يوسف ورينداره ترينه د جانۍ
غوښتنه وکړه. زهره لږه حيرانه پاتې شوه، يوسف په عمر کې د
ـۍ نه ډېر مشر و، خو سپين ږيری نه و. د دوو ديرشو کالو و،
وکري يې پخه وه او تنخواه يې دومره وه چې په ښار کې يې ښه
ژوند کولې شو. زهره ورته وويل چې دا به د لونړو او زوی سره
صلاح کوي.

ښاپېرۍ او عابدې دواړو د دې مخالفت وکړو چې دوی دواړو ډېرې
وړې واده شوې وې. دوي نه غوښتل چې جانۍ هم د ژوند ښه
ـخه د سخرګنی په خدمت تیره کړي. ـاپېرۍ خو لا تر اوسه
جانۍ ماشومه ګڼله او ورته به يې نانزکې راوړلی. محبوبې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهره ته نصیحت پیل کړو ېي یوسف تر جانۍ ډېر مشر و. خو زهره اوس د اعظم نه ناهیلی شوې وه. ځان ورته ډېر زوړ ښکاریدو، داسې یې ګڼله چې جانۍ واده کړې نو دا به بېرته کلي کې ژوند پیل کړي. یوسف یې را وبللو او ورته یې وویل، " که په ښار کې کور اخلې نو زه درله لوږ درکوم، ما لوږ په ښار کې لویه شوې ده او د کلی د کارونو نه ده." یوسف ورته غاړه ښوده، نو زهره ټول خپلوان خبر کړل.

جانۍ د لویې کوټې د دیوالونو نه د فلمي ستورو تصویرونه لرې ل او ښکته پر ځمکه یې ایښودل. رګي په یو لوی صندوق ، یې د اعظم شیان راټول کړې وو. یرو څو میاشتو راهیسې هغه بره په کوټه (چت) نه وه ختلی، په سخته ګرمی کې هم هغه ښکته په برنډه کې به اوده کیده. اعظم چې کله راهیسې بمبی ته تللی و، ج ی به شپه او ورځ هم دا فکر کاو ېي که دې په کوټه سیل نه کولی نو اوس به یې ورور په کور کې وی. مور ویښته به یې داسې په یو مخ نه وی سپین شوی.

اوس د هغې د واده لپاره تیارې کیده. مور یې د دی نیم شیان لا وا د یوسف کور ته استولی وو، د اعظم د لرګي صندوق به د ېبوبې په کور کې ایښودل کیدو او زهره ورته ویلی وو چې تر ږدیګر دې د ورور ، شیان پکې کېږدي چې مزدوران یې یوسي. ی ته په دیوال لګیدلی د ټولو ستورو نومونه معلوم وو،" نسیم پرې چهره" د هغې ډېره خوښه وه. پدې تصویر کې هغه سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پښو ښکاریده، شهزادګۍ جامې یې پر غاړه وې او په اوږه یې یوه کوزه نیولې وه. یو ستوری "بهارت بهوشن" نومیدو، یو "سهراب مودي" و یوه ښځه "ګیتا بالی" نومیده چې د اعظم په نظر جانۍ ته ورته وه. و جانۍ به ت ، ورسره جنګ کاوه چې هغه دومره بدرنګه نه ده. د فلمونو دا ب تان اوس جانۍ ته په سجده وو د " لال پاچا سیګریټ" سره ښاپیرۍ هم له دیواله راوالوتله او د ترګو په رپ کې د ل ګي د صندوق په خیته کې ورکه شوه.

جانۍ ته د هر یو تصویر سره د خپل ژ ند ښې شیبې په ورکیدو ښکاره شوې. د صندوق سر یې بند کړو او د هغې د پاسه کیناسته. د هغې د سترګو اوښکې چې تر اوسه یې په خاموشۍ څڅې وهلې، نابېره په شور شوې. جانۍ له خولې بې واره د اعظم نوم راوتلو او هغې خپل مخ په دواړو لاسونو پټ کړو. یا تر ماښامه د دې سترګې وچې نشوې، د نکریزو جیړکو ورسره ټوکې او ملنډې وهلې خو هیڅ د ،ې د زړه غوټۍ ل نه کړې شوه. ښاپیرۍ او عابده له موره دومره خپه وې چې نکریزو ته هم رانغلې. محبوبې د زهره سره پټ پاللې و او د تل په شان ورسره ولاړه وه. د یوسف مور مړه وه او پلار یې ډېر بوډا و.، دواړه خویندې یې واده وې.

هغه له کوره جانۍ ته په یو صندوق کې څو ړې جامې راغلې ، چې د محبوبې په نظر ټول بې ډوله وې. ګلابي کمخواب د ړې سره دوه بنارسي لوپټې وې، یو زرغون او بل اودې رنګه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شین کمیس سره ژېړ پرتوګ او نارنجي لوپټه وه. زهره یوسف
ه کلکه ویلي وو چې د مړی ښځې جامې او کالي به د هغې لور
ته نه راوړي. نو ځکه یوسف پخپله د ښار په بازار کې هر څه
چې مناسب ولیدل اخیستي وو. زهره اوس پدې غم کې نه وه چې
ور جامې یې څنګه وې، هغه پدې خوشاله وه چې د اوږو پیټې
به یې سپک شي. یوسف چې کوم کور په کرایه کړې و، هغه د
دې له کور غټ او پاک و، دوه کوټې یې ښکته او دوه بره وې. د
ړبو پمپ پکې لګیدلی و او فرشونه یې هوار وو. یوسف پدې کور
ې کرسۍ میزونه او دوه غټ پالنګونه هم ایښې وو. زهره د
پېرۍ په دویم واده کې له کلي هیڅوک نه وو رابللی، خو اوس د
جانۍ په واده کې یې ټول خبرکړې وو.

اور ، ښار ته رانږدې و، یوسف خپل وړوکې صندوق لا پخوا
تیار دروازې سره جوخت ایښې وو. تلوسه یې دومره ډېره وه
ې له خدایه یې وزرې غوښتلی. خپلې ګړۍ ته به یې بیا بیا کتل،
. جمعې ماسپښین و، دوه بجې وې، اورګاډی د ټیشن ـه په تانګه
کې د دوی تر کوره لږ لار وه او د ده پوره باور و چې جانۍ به
پله په ډولۍ کې کینوي. ـغه ته د ښار د ودونو دود معلوم و. د
شپې لسو بجو نه وړاندې چا ډوډۍ نه خوړل، تر څو چې میلمنو
ډوډۍ خوړله، ناوې به تیاره وه. د شپې ناوخته به یې په ډولۍ کې
کینوله او د ورا خلک په په پښو ورسره تر کوره تلل. هغه ته د
خپلو ځینو مـ ـرو د خپلوانو ودونه را یاد شول. ـاډی چې لږ نو
ـم ورو او د تم ځای ځمکې ته برابر شو، نو اعظم یو قلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشاره وکړه چې په سور کمیس او خر پټکي کې له پلیټ فارم نه ده ته کتل. ـې ځلور نور قلیان ورو ورو ګاډی ته ور نږدې کیدل.

عظم د ګاډی د ودریدو نه وړاندې دروازه پرانیستې او ټوپ یې وهلی و، تر څو چې قلی د صندوق تانګې ته رساوه، دې د کوچوان سره مخامخ سیټ کې ناست او هغه ته یې د خپل کور لاره ښودله. ـه په منډه شوه نو کوچوان د اعظم نه پوښتنې پیل کړې، ـې ترینه د هغه ګاډی پوښتنه وکړه چې له امرتسره لاهور ته په لاره لوټ ـ، او ټول مسافر یې وژل شوی وو. اعظم ورته وویل، " نه یم خو پرون د لاهور نه ټول ګاډي بند وو. زه پرون دوا جې پدې ګاډي کې سپور شوی وم."

اعظم درې بجې د خپل کور په ګوښه ور دننه شو او په لاره کې ـاتو پټاسو او د ژېړو ګلونو پاڼو ورته په چیغه چیغه فریاد کاو چې ـانی پدې لاره تللی وه. ـر سره جوخت په میدانی کې دیګ ـونکو خپل لوښې را ټول کړې وو، ټولی سکروټې ایرې شوې ـ او د کوڅې یو څو ماشومانو یو بل پسې منډې وهلې، هغه د خپل کور دروازې ته ودریدو نو زړه یې یو درز وکړ، هلته جرنده ځوړنده وه. اعظم دا جرنده وپیژندله، دا د هغوې نه وه، دا د کور د خاوند وه. عظم هم هلته پښه نیولی ولاړ و او پخوا د دې چې د دروازې سره یې ډغرې وهلې وی، چا د هغه په اوږه لاس کیښودو، دا محبوبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـانۍ په سور پالنګ ناسته وه، کله کله به يې له خولې سلګۍ راوتله، چې د اعظم نوم به ورسره مل وو.

ز هره د مناف په تانګه کې کلي ته روانه وه. د لور ژړا يې اوس وريده، جانۍ د ناوې په شان نه ژړل، هغې چيغې وهلې، ورور پسې يې ژړل، د مور له غيږې، نه جدا کيده. صمد او نثار په زوره ډولۍ کې کينولې وه. زهره ته اوس د خپلو اوږو پېټۍ نور هم درونه معلوميدو. ـګه چې کلي ته ور نږدې شوه نو مناف ـې پوښتنه وکړه، "هديره کې به ايساريږو؟"

ـهره په زړه لکه چې چا نوکاري لګولې وي، هغې مناف ته مخ وګرځوو او ورته يې وويل.

"اوس ناوخته دی...کلي ته ور درومه."

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**